قلندر مومند

میزان

دور



قلندر مومند

ریسرچ سیل

قلندر مومند

میزان

مقالې او مضمونونه



دور



قلندر مومند

ریسرچ سیل

دَ کتاب نوم	ميزان
ليکونکے	قلندر مومند
دَ چاپ کال ورومبي ځل	2008
شمېر	1000
دَ چاپ ځائې	امن پرېس باچا خان مرکز پېښور
قيمت	-/150
دَ موندلو درک	يونيورستي بُک ايجنسي خيبر بازار پېښور 091-2212534

فهرست

۲ ص

هوالناصر

دا کتاب

اګر که زمونږ د رهبر او رهنما محترم قلندر مومند مرحوم او مغفور د مرګ پېنځه کاله کېدونکي دي خو دا غم اوس هم د ورومبۍ ورځې په شان تازه دے او دې کښې هيڅ شک نشته چې غمونه ځنې وخت د کارونو په لاره کښې خنډان ودروي.

د والد محترم د ورومبي کال په موقعه نه صرف دا چې مونږ د قلندر مومند ريسرچ سېل جوړولو اعلان کړے وه او د هغوي يو کتاب "رباڼي" او د محترم مشتاق مجروح يوسفزي **د تاريخ ژړا** مو چاپ کړې وه بلکې د قلندر صېب د کلام آډيو کېسټ او سي ډي مو هم جوړه کړې وه او زړه کښې مو دا اراده هم وه چې يو وېب سائټ، د سېل د دفتر سره سره به مونږ هر کال څه نا څه خامخا چاپ کوو خو ډېرې خبرې داسې وې چې زمونږ د وس نه بهر وې.

ستاسو په لاس کښې چې دا وخت کوم کتاب دے دا په اصل کښې هم د قلندر صېب د ارادې مظهر دے نو دغه کتاب طرف ته د هغوي نه پس زمونږ توجه زما کشرې خور

عائشه امة الرحمٰن پلوشه چې دَ دُرنایاب صاحبزاده په نامه لیکل کوي، راوګرځوله. دَ ریسرچ سېل دَ یوې غړې په حېثیت دَ هغې دا قیمتي مشوره هغې داسې عملي کړه چې دَ مقالو دَ راغُنډولو کار کښې ئې تُنده منډه ووهله او تر ډېره حده ئې دا کار اسان کړو.

دَ کتاب تعارف مشتاق صېب په ډېره ښه طریقه تاسو ته وړاندې کړے دے. زما وظیفه دا ده چې زهٔ دَ ښاغلي مشتاق صېب، دَ ملګري محمد زبېر حسرت، فضل شاه فضل مومند، جمشېد موموند او دَ ګران عبدالله جان مسرور صېب سره دَ ساهو لیکونکیو دَ مرکې دَ نورو ملګرو دَ زړهٔ له تله ستائنه وکړم. دغسې دَ نور ګل شکریه هم په ما واجب ده چې هغهٔ هم دَ چاپ په کار کښې تر خپله وسه کوشش کړے دے. په سختو حالاتو کښې دَ دغه ملګرو زیار ټول په ټول دَ رښتوني اخلاص نمونه ده. خدائې دې مونږ ټولو ته توان راکړي چې مخکښې دغه سلسله جاري وساتو.

خلان موموند

باچا خان مرکز پېښور

دَ محرم پینځلسم تاریخ 1429 هجري

بسم الله الرحمٰن الرحيم

دَ خوشحال بابا نه پس په پښتو ژبه باندې بې حسابه حق لرونکيو شاعرانو اديبانو کښې يو شخصيت دَ قلندر مومند مرحوم هم دے چې يو خوا ئې دَ خپلې غوره او مقصدی شاعرۍ نه دَ پښتو ادب جولۍ ډکه کړې ده نو بل پله ئې دَ خپل ساهو نثر په ذريعه پښتو ادب ته دَ تحقيق او تنقيد په ميدان کښې دومره څه ورکړی دی چې دَ شلمې صدۍ بل هيڅ يو تن ئې سيالی نه شی کولے او زه دا خبره ډيره په کلکه کوم چې که په شلمه صدۍ کښې په پښتنو کښې دَ تحقيق او تنقيد په ميدان کښې دوه درې تنه ذکر وو نو يو ئې قلندر وه.

قلندر مومند په حقيقي معنو کښې نېشنلسټ وه، په پښتو او پښتنو مئين وه دَ پښتنو دَ يووالی ارمانی وه لکه چې ئې وئيلی دی:

قلندره دا ارمان به ګور ته يټ وړم
اتفاق په پښتانه کښې پېدا نه شه

او دَ پښتنو دَ دغې لا علاجه مرض له وجې دَ هغوی دغه ارمان دَ هغوی په ژوند پوره نه شه او لکه دَ ستر خوشحال بابا دَ دې خبرې ارمانی له دنيا نه لاړل. نن هغوی زمونږ په منځ کښې موجود نه دی ولې دَ هغوی افکار، خيالات او دَ هغوی يادونه زمونږ سره دی.

دَ هغوی دَ وړومبی کلیزې په موقع مونږ دَ هغوی شاعری دَ "رنړائی" په نوم او دَ راقم الحروف کتاب "دَ تاریخ ژړا" ګرانو لُستونکیو ته پیش کړی وو او دا مو په زړه کښې فیصله کړې وه چې ان شاء الله دَ هغوی دَ دویمې کلیزې په موقع به دَ هغوی کلهمې چاپ او ناچاپ مقالې په کتابی صورت کښې چاپ کوو ولې مونږ په خپله دغه اراده کښې کامیاب نه شو چې دَ هغې دَ خپلو ګرانو لُستونکیو نه بخښنه غواړو.

اوس هم مونږ افسوس کوو چې دَ هغوی کلهمې مقالې مونږ پیدا نه کړې شوې البته چې دَ هغوی کومې مقالې مونږ له په لاس راغلې دی هغه په کتابی صورت کښې دا دی ستاسو په وړاندې دی که ژوند وفا وکړه نو باقی پاتې مقالې به هم په کتابی صورت کښې تاسو ته وړاندې کړو.

زه دَ بناغلی خٔلان مومند ډېر ممنون یم ځکه چې دا دَ هغوی شوق او مرستې نتیجه ده. دغسې دَ سید محمود ظفر هم شکر ګزار یم چې دَ کتاب دَ پروف کار ئې تر سره کړے دے او دَ ملګری زبېر حسرت خو ډېره زیاته مننه کوم چې دَ مقالو په راپیدا کولو کښې ئې هم ما سره کومک کړے دے او دَ دوباره پروف ریډنګ کار ئې هم کړے دے. الله پاک دې ټولو له اجر ورکړی. آمین.

مشتاق مجروح یوسفزے

رحمان بابا

رحماز بابا تر اوسه پورې خلقو دَ يو صوفي تارک الدنيا شاعر په حېثيت پېژندہ. صوفي خو به زہ هم ورته ووايم خو تارک الدنيا ورته نہ شم وئيلے ځکه چې رحمان بابا دومره قنوطي نہ وہ چې دَ ژوند څنې ئې فرار کړے وے. هغه زما او ستا دَ ژوند ترجمان وہ هغه دا بدديانتي چرته کولې شوه. هغه دَ ژوند علمبردار وہ دَ ژونده ولې تبنتېدلے وے؟ هغہ کښې زندګي وه دَ هغہ ګفتار کښې زندګي وه دَ هغہ کَردار کښې زندګي وه نو ځان ئې دَ خپل زړہ دَ اواز نه څنګه کوڼ کړے وے او دَ زمانې دَ انقلابونو نه ئې سترګې څنګه او ولې پټې کړے وے هغہ ته تارک الدنيا وئيل زما په نزد دَ هغہ عظمت ختمول دي ځکه چې هغه پخپله وائي:

ولايت دے خدائې هغوی لره ورکړے
چې ئې وکړو سکونت په دا دنيا

نه نو رښتيا اصلي مطلب راته پاتې شہ ما دا وئيل چې خلقو تر اوسه پورې رحمان بابا صوفي شاعر شمارلو او دَ رحمان بابا دَ شاعرئ هغه اړخ تر ننه بالکل پټ وہ کوم چې زما په خيال دَ هغہ شاهکار دے. دَ رحمان بابا دَ شاعرئ دا حصه دَ عوامو سره نزديکت لري هغہ دا

شعرونه په سرو وینو کښې ډوب لیکلی دی. دې کښې مقصدیت دے آفاقیت دے ترقی پسندی ده. دَ عوامو سره ملګرتیا او هم آهنګی ده او دَ دې خبرې واضح ثبوت دے چې رحمان بابا یوائې صوفی نه حساس او مکمل انسان هم دے چې دَ غریب په کړاؤ کړیږی دَ هغه غم تکلیف او مصیبت پیژنی په عاجزو ظلمونه محسوس کوی او ترې نه متأثره کیږی. دَ هغه زړه یوه داسې آئینه ده چې قامی تکلیفات او مساعد پکښې ازاد ښکاری. دَ هغه دَ وړاندې یو واضح او غېر مبهم مقصد دے هغه انقلاب غواړی خو امن پسند انقلاب. دَ هغه فطرت تعمیری دے تخریبی نه، هغه هم دَ سرمایه دارو نه داسې په "کو" دے لکه چې نن ترې هر غریب سر ټکوی. هغه هم دَ دې طبقې نه داسې نفرت کوی لکه چې مونږ ترې کوو خو هغه زمونږ نه هم یو قدم وړاندې دے هغه سرمایه دار دَ انسانیت غلیم ګڼی خبر دے که دا سرمایه دار دَ ده سکه ورور وی هغه خو به وائی:

نه شی دَ ملنګو دَ خانانو سره کلی
چرته عزیز خان چرته ملنګ عبدالرحمان

او بیا خپل قام ته، دردمند اولس ته او خپل پرهرژلی زړه ته داسې تسلی ورکوی:

دا پاخه پاخه سرایونه محلونه
خود به وران شی عاقبت په دا دنیا

رحمان بابا دَ خپل قام او اولس دَ عوامو نه متأثر شی چې غریب خو دَ نمرې په پوراک دے او یو څو بدمخی دَ دوی په برکت او دَ خپل رذالت په وجه چرګ، پلاؤ، شراب، کباب او ډمې تماشې کوی. دې

مصرعه کښې څومره ژوره فلسفه ده:

ښه خواړه چې يو ئې خوری بل ورته ګوری

خواړه نه دی هغه زهر دی ګويا

دَ سرمايې متعلق دَ رحمان بابا نظريه بالکل صفا او واضحه ده که يو طرف ته دَ "دلبرو صدقې لره ئې غواړی" نو بل خوا "ما رحمان ته پېښنه مه کړې ربه هسې رنګ بلا" وائی. سرمايه که يو طرف ته تعميری کار کولے شی نو بل اړخ ته دَ ګناهونو جړه هم ده او دا چاپېرے ئې دومره دروند دے چې تعمير خو پرېږده تخريب کښې پرې اختراعات کيږی. رحمان بابا نه هم ډُښتنه وکړئ چې څه وائی:

دنيا بده دَ هغوی ده

چې ئې کسب وی ريا

يا ئې کسب دَ ريا وی

يا ئې وګټې په غلا

يا ئې ټوله کړی په ظلم

يا دَ خمرو په سودا

يا ئې ورکړی په شرابو

يا ئې ورکړی په زنا

يا ناحق خونونه کاندی

يا مالونه خوری دَ چا

عبادت کړه په ځان فرض

دَ بـادشـاه دَ امـرا

حق باطل کړه باطل حق کړه
پــه ســبب دَ رو ریـا
دَ یوې ګېړې دپاره
هزار خونې کړه بېدیا

دا ټول خبیث کارونه څوک کوی؟ هغه څوک چې چا سره بې خرته او بې اندازې پېسې وی چې دَ چا متې پرې ستړې شوې نه وی چې ټټر ئې پرې تنهاکې شوے نه وی چې پښې ئې پرې پولې شوې نه وی او چې دا ستا او زما نه ئې په زور ظلم، جبر او فرېب شوکولی وی. دا په ظاهره شریف ډاکې مار څوک دے؟ دا دَ رحمان بابا دَ سترګو ازغے څوک دے؟ دا خونړی ځناوران، ظالم سرمایه داران دی. دا فرېبیان دهوکه باز هغه خلق دی، دا هغه فریق دے چې رحمان بابا ترې نه سر ټکوی تر دې حده چې دَ هغوی په خبرو هم اعتبار نه کوی ځکه چې دا خلق دَ بوسو لاندې اُبه بیائی. دَ هغه دَ دوی په مشری هیڅ اعتبار نشته. څنګه صفا ورته وائی:

که څوک تله دَ انصاف درته په لاس کا
خپل ټټو دَ بل له اسه برابر کړې

دَ معاش داسې شوکمارو نه دَ ځان ساتلو تدبیرونه هم کوی او خلقو ته ئې هم ښیی، هغه لا په هغه زمانه کښې دنیا دوه برخې کړې وه. یوه دَ ظالمانو، جابرانو، سرمایه دارو دنیا او بله دَ مظلومانو، مجبورانو، محنت کشو او غریبانو دنیا. هغه غریب ته اتحاد ښیئ، مساوات او ورورولی ورته ښیئ او وائی:

آدم زاد په معنیٰ واړه یو صورت دے

هر چې بل ازاروي هغه ازار شي

دې شعرونو نه دَ رحمان بابا آفاقیت پسندي ښکاري بیا وائي:

زه عاشق یم سریکار مې دے له عشقه

نه خلیل نه داؤدزے یم نه مومند

چې مطلب او مدعا مو سره یوه ده نو بیا خو وروڼه یو او:

چې دې ورور یا دې عزیز پرې ازارېږي

حاصل مه شه هغه خپله مدعا

دا دَ رحمان بابا عقیده ده خو نه هغه خو لیږ او پخته کار وه هغه خو ټول قوم په یو منشور باندې غونډولو. وړومبے ورته دَ اخوت او ورورولۍ سبق ښیئ:

ته چې بل په غشیو وُلې هسې پوه شه

چې هم دا غشے به ستا په لور ګوزار شي

او بیا ورته دَ همت پټۍ په لاس کړي:

ګېډه وتړه په پړې باندې کلکه

دَ ډوډۍ طمع ونه کړے له فلکه

په مزه مزه او ورو ورو چې قوم دې سبق ته غاړه کیږدي او رحمان بابا پوه شي چې که خبر وي اوس کار کیږي نو دَ عزم او امېد نه ډک پیغام ورکوي. دې شعر کښې ځومره خوداعتمادي ده او پخپل ځان دَ باور ځومره غټ سبق:

دربخښلے خدائې دَ هرې چارې توان دے

په ډېر توان کښې خپل ځان بولې ناتوان ولې

دا وخت هم تېر شو اوس رحمان بابا قوم ته دَ "به دریا غلط و به موجش بیاویز" سبق ورکوی غوږ ورته کیږدئ:

دَ ذرې په څېر افتاب په طلب خپل کا
لکه تیږه هسې پروت په زمین مه شه
کار په تش لستوڼی نه کیږی بې لاسه
لاس په توره کړه بې لاسه آستین مه شه

څنګه ورله غېرت وروُلی:

په ورځ ناست ئې بې مطلبه
په شپه خوب کړې بې ادبه
لاس دې وختو له دواړو
هم له روز او هم له شبه

دَ انقلابی جدوجهد سره سره رحمان بابا قوم ته اقتصادی سبق هم ورکوی:

بې هنرو لره قند زهر قاتل وی
قند ئې وګڼه که زهر په هنر خورې

او بیا داسې مرحله هم راغله چې رحمان بابا نور ټینګ نه شه علی الاعلان ئې ووئیل:

زغره واغونده ملا وتړه په جنګ
دغـه پسه معرکه کوه دَ ننګ
ننګیالے چې یو ځل مخ په هغه لور کا
نور هیڅ نه وینی کوهے وی که ګړنګ

دغه دے دَ رحمان بابا اصلی روح، دغه دے دَ هغه دَ ژوند علت

غائی، دغه دے هغه مقصد چې رحمان بابا ئې په تکل وه دغه دے هغه درس عمل چې نن نه سوونه کلونه مخکښې زمونږ نیکه مونږ ته راکړے وه، شته مونږ کښې څوک داسې چې دَ رحمان بابا دَ لوئې عمل څښتن رحمان بابا، دَ سرېن دَ باغ طوطی رحمان بابا، دَ مومنذو دَ سترګو تور رحمان بابا په دې وصیت عمل وکړی. دَ هغه دا درس عمل دَ خپلې لارې لیت کړی. هغه خو قام ته وائی:

زه دا ستا دَ غمه ژاړم واړه وینې

واړه وینې واړه وینې واړه وینې

شته داسې سترګې چې هغه وینې ووینی چې رحمان بابا پرې ژړلی دی.

(میاشتنے "اسلم" پښتور رحمان نمبر شماره ٦ ٧ اپریل ١٩٥٠ء)

صدرالدين عينى
يو تاجک اديب

صدرالدين عينى دَ اصل نه تاجک دے او دَ تعليم او تعلم په لحاظ اُزبک. ځکه چې دَ سن شعور نه دے بخارا کښې پاتې شوے دے او دَ دغه ځائې اوسېدونکے دے. دلته دۀ زده کړه کړې ده او هم لۀ دغه ځائې نه دَ دۀ دَ علم او ادب ابتدا شوې ده چې دَ ازبکستان او تاجکستان بيل جمهوريتونه جوړ شول نو عينى خپله ټکاوڼه تاجکستان کښې خوښه کړه. دَ دې باوجود هغه نيم اُزبک او نيم تاجک دے. دواړه ملکونه او قامونه عينى دَ خپل قام ځنې ګڼى.

وسط ايشيا چې دَ انقلاب نه اګاهو به ورته خلقو روسى ترکستان وئيلو دَ انقلاب نه پس ته کازک، ترکمانيه، تاجک، کرغيز او دَ اُزبک په سوويت جمهوريتونو تقسيم شو او په دغه نومونو ياد شو. چې په اُزبکستان کښې دَ سوويت جمهوريت طاقت قائم شو نو په دغه وخت کښې عينى دَ لوئې او مسلم شهرت خاوند وو. صدرالدين په وړوکتوب (هلکوانه) کښې دَ کلى په يوه مدرسه کښې په سبق کښېناست. (دَ کلى په مدرسو کښې چې ماشومان پکښې پنج سورې او هفت هيکلونه وائى) دلته دَ زده کړې نه پس عينى بخارا ته لاړو او هلته ئې په سبق ګټې پورې کړې. دې دوران کښې دَ يو جماعت (مسجد) په خدمت مامور شو چې دَ هغې امام دَ وخت مقتدر عالم وو. عينى دَ دۀ ځنې دَ اعلىٰ نصاب درس شروع کړو. غرض دا چې

عېنی دَ "امیر" په وخت کښې دَ رائج نصاب تعلیم دَ پوره کولو فضیلت حاصل کړه. او چې تحصیل تمام شو نو دَ پخوانیو شاعرانو ادبی مطالعه ئې شروع کړه. دوی کښې هغه سعدی، حافظ او جامی په ښه ژور نظر وکتل. عېنی تخلص ئ اختیار کړه او دَ شعر په دنیا کښې ئې ځان ته یو ممتاز مقام پېدا کړه.

عېنی لږه موده کښې دَ نهایت قابل انشا پرداز او دَ "محرر" په حېثیت مشهور شه. او خلقو دا اعتراف وکړو چې په قصیده ګوئی او عرضی نویسی کښې عېنی "فردکامل" دے. تر دې حده چې چا به امیر یا قاضی القضاة ته درخواستونه کول نو بې دَ عېنی به ئې په بل چا خوا نه سمېده. په دې شان عېنی سماجی (اولسی) رنګ کښې هم مقتدر شخصیت وه.

دَ عېنی تربیت چې په کومه فضا کښې شوے وه هغه دَ منځنی زمانې (ازمنهٔ وسطیٰ) دَ ګمراهیو او دَ تورو تیرو ماحول وه او دَ صدرالدین دَ فطرت سره په هیڅ حالت کښې هم مطابق نه وو. نو هم دغه وجه وه چې لږه موده پس ترې دَ عېنی زړه راډک شه او دَ تصنیفاتو نه ئې دَ بغاوت اظهار کېدل شروع شو. په خپلو لیکلو ده حقیقتونه څرګند کړل او دَ خلقو سرونه یو ځل دَ سوچ دپاره ځوړند شول. هغه ته ښکاره شوله چې دَ انسان په حېثیت کښې دَ هغوی هم څه انسانی حقوق شته. دَ عوامو له طرفه دَ امیر په حکومت هم څه فرضونه عائد کیږی دَ غریبانو ناچاری دَ قدرت خوښه نه ده او نه دَ امیر ټول واکی ارادهٔ خداوندی ده. اوچته اولسی طبقه کښې خو اول دَ عېنی په دې نعرو چې دَ حق او صداقت دپاره وے، ویره او خوف پېدا

شهٔ، بیا خفګان او وېزاری او بیا خو دَ دې خفګان عملی ثبوتونه هم ځرګند شول. خو دَ دې ئې هیڅ پروا ونهٔ کړه او هم هغسې ئې خپل فرض منصبی ادا کول. خو هرکله چې دَ مخالفینو دَ طرف نه تعزیر او تشدد پهٔ زیاتېدو شهٔ نو پهٔ جواب کښې ئې عېنی هم خپله لهجه پهٔ سختېدو کړه.

غټ خلق ترې پهٔ دې ګیله مند وو چې ګوندې دۀ دَ آدابو او دَ مروت زاړۀ روایات دَ پښتو دَ لاندې غوبل کړی دی. دَ بخارا پهٔ ټول تاریخ کښې لهٔ دې قسمه غداری او بغاوت مثال نشته. دۀ دَ امیر او دَ هغهٔ دَ وزیرانو او نورو درباری امیرانو بې عزتی او سپکاوے کړے دے. دۀ دَ مشرانو زړه لار پرېښې ده. زاړۀ رسمونه ئې پرېښی دی دَ پیرو دَ رائجو عقیدو مخالفت ئې کړے دے. دَ دې ټولو الزاماتو او خبرو جرمانه عېنی داسې ادا کړه لکه چې دَ دۀ نه وړاندې دَ حق او دَ صداقت ملګریو مخکښې ادا کړې وه. عېنی دَ همت او دَ استقلال تکړه ثابت شهٔ او دَ وسط ایشیا دَ "نوې بخارا" دَ تحریک سردار وټاکلے شهٔ.

صدرالدین دَ بخارا نه تاشقند ته لاړو. امیر دَ دۀ پهٔ غېر حاضری کښې دَ دۀ ورور قتل کړۀ. دَ عېنی خپل ورور سره ډېره مینه وه دې واقعې هغه لېونے کړو. دَ هغهٔ دَ غم څهٔ حد او دَ غصې څهٔ انتها نهٔ وه. دۀ دَ ورور پهٔ غم کښې یو نظم لیکلے دے چې پکښې ئې دَ خپل زخمی زړۀ وینه صرف کړې ده. دا نظم پهٔ خپل اصلی صورت کښې هیچا سره نشته. دَ دې فارسی نظم اُردو ترجمه اخبار "قومی جنګ" شائع کړې ده چې دَ لُستونکیو دَ وړاندې ده:

بیا غزل به زړه دَ مینې
چرې دَ خلې نه نړه وباسم
چې موقوفه مې نغمه کړه
او نغمه چې دَ ګلشن وه
ترانه دَ ښکلې خوب هم
پس له نن نه به وانه ورئ
نن نه پس زما اواز کښې
به نعرې دَ انقلاب وی
انقلاب کښې به شباب وی
هم سروټکې دَ نفرت به
دَ الفت په ځائې لیده شی
چې موقوفه مې نغمه کړه
یو نغمه چې دَ ګلشن وه

په دې موقعه دَ عښنی درې شعرونه چې اخبار "قومی جنګ" ته په خپل اصلی صورت لاس ته ورغلی دی هم نقل کوم:

در آتش ستم جگرم شد کباب سرخ
از خون مستبد قدح ده شراب سرخ
بر انقلاب روئے مرا سرخ کے کند
از انقلاب سرخ دمد آفتاب سرخ
عښنی بیک غزل نتوان شرح حال کرد
باید به انقلاب نوشتی کتاب سرخ

عېنی بغېر دَ حاکمانو دَ اجازت "قزلتاب" ته لاړ او هلته دَ مالوچو په یوه کارخانه کښې ئې مزدوری شروع کړه. دا هم یوه نوې خبره وه چې دَ دومره اوچتې طبقې او شاندار سړے په کارخانه کښې مزدوری کوی. دَ خلقو خیال ته دا خبره نه شوه راتلې. چې یو داسې عالم فاضل سړے دَ مزدورئ کار خو لا څه چې دَ مزدورئ کولو نیت هم څنګه کولے شی. دَ بخارا په تاریخ کښې داسې مثال نه وه. چې یو زلمے شاعر ادیب عالم فاضل دې ادنئ غُندې مزدوری کوی، دَ بخارا مشران په دې هم دَ ده نه خفه شو.

دا خبرې چې امیر بخارا واورېدې نو صدر الدین ئې بخارا ته راوغُښت او ده ته ئې دَ یو معزز او دولتمند جماعت (تاسو به حېران شئ چې په هغه زمانه کښې دَ خدائې کور هم په معزز او غېر معزز دولتمند او غریب طبقه کښې تقسیم وه). دَ نګرانئ پېش کش وکړه. عېنی دا پېشکش قبول کړه. دَ امیر بخارا صرف دا مطلب وه چې دا رنګ به زه دَ ده دَ مرګ بنه بندوبست وکړے شم. ولې حېرانتیا دا ده چې امیر علیم خان والئ بخارا دَ ده په مرګ ولې صرفه وکړه او دے ئې تش نظر بندئ ته ولې واچولو. دَ قېد دَ تکلیفونو په زغمل عېنی دا ثابته کړه چې هغه نه صرف دَ مرګ نه انکار کوی بلکې دا هم چې هغه په ژوند هم اصرار کوی. اوس دې ته که دَ عېنی خوش قسمتی وایئ او که نور څه. چې هم په دغه دوران کښې انقلاب وشه او اُزبک عوامو دَ "سرو" فوجونو په ملګرتیا کښې دَ جېل دروازې ماتې کړې. او دَ جبر او استبداد دَ لاسه مظلومانو قېدیانو په ازاده هوا کښې ساه واخسته.

عېنی سره دَ نوی تحریک دَ حامیانو پوره غټ ټولے وه خو دوی کښې بعضې خلق دَ حکومت دَ جبر او استبداد د وړاندې اعتدال پسند شوی وو ولې عېنی یو رښتینے "هیرو" ثابت شه او ده خپل علم او فضل او شعر و ادب دَ عوامو دَ خدمت دپاره وقف کړه او دغسې دَ قومی ثقافت رهنمائے اعظم وټاکلے شه.

وسط ایشیا کښې په دغه زمانه کښې شعری ادب ډېر مقبول وه او دَ نن زمانې په ژبه کښې چې ورته نثری ادب وئیلے کیږی دا څیز هغه وخت مفقود وه او دا خو ښکاره خبره ده چې دَ نویو غُښتنو مطابق شعری ادب دَ نثری ادب ضرورت نه شی پوره کولے. دَ وچتې پایې شعری ادب بېشکه دَ ثقافتی قدرونو دپاره لار صفا کوی او عام طور سره موثر وینو ګورو چې نثری ادب او بیا خصوصاً واقعیت نګارانه طرز کښې ناول نویسی هغه وخت پېدا کیږی کوم وخت چې یو قوم دَ اولسی او ثقافتی ترقۍ یو څو مزلونه وهلی وی. دَ مثال په طور دَ ایشیا په نورو ملکونو کښې لکه ترکیه، ایران او دَ براعظم هندو پاکستان ادب کښې هم نوی توکی (جدید عناصر) دَ شلمې صدۍ دَ سره شروع شول. څکه چې دغه وخت قومونو کښې سیاسی تحریکات شروع شول او دَ ازادۍ او ترقۍ خیالاتو پکښې جرړې ښخې کړې. چې دَ ازادۍ تبلیغ سره جمهوری خیالات خواره شول نو دَ نثری ادب ضرورت هم محسوس شه او داسې دا ادب زیات شه.

عېنی دَ وسط ایشیا یو داسې دور کښې پېدا شه چې دَ خپل ذهانت په وجه دَ نثری ادب او دَ نوې ناول نویسۍ بابا آدم ثابت شه. عېنی په دغه زمانه کښې وړومبے سړے دے چې هغه مسجع او

مقفیٰ عبارت لیکل پرېښودل او بالکل ساده لیکل ئې اختیار کړه. ده دَ ګل او بلبل تذکره او لفظی جمالیات هم پرېښوده او دَ عوامو په ژبه کښې ئې تصنیف او تالیف شروع کړو.

(اول چاپ ۱۹۵۰ ء دوېم چاپ روزنامه وحدت پېښور)

سلیم دَ هغه شاعری

دَ دې اپریل په دیارلسم تاریخ بـه دَ سلیـم دَ باقاعـده شاعـری څلور کاله پوره شی. دا زه ځکه وایم چې دَ سلیم دَ غزلونو کتاب کښې وړومبے غزل دَ ۱۹۵۱ء په څوارلسم اپـریل لیکلے ښکـاره کړے شوے دے. دا! ظاهره ده چې ذومره لړه مـوده کښـې شاعـر، شاعـری خـو څـه کوے چې دَ شاعری په حقله خپله نظریه هم نه شی پخـولې خـو لکـه څنګه چې ما عرض وکړو دا دَ سلیم دَ باقاعده شاعری عمر دے. ځکه چې دغه ذکر شوے وړومبے غزل پخپله دا ثابتوی چې دا دَ بـالکل نـو اموز شاعر کلام نه دے. دَ دې غزل یو څو شعرونه دَ خپلـې خبـرې پـه ثبوتَ کښې پیش کوم:

ته تابع دَ موسمونو چې خبر دَ رازه نه ئې
زما ژوند سپرلے سپرلے دے څو چې ډکه پیمانه ده
ته ئې خورې وائې سرکه ده زه ئې څنبمه چې شراب دی
دا عرق چې تـرې نـه ووځی دَ یـوې غُـنچـې دانـه ده
ستا دَ سترګو دَ کاسو نه مقدسې نشې څاڅی
شرمنده ورته شراب دی او سر ښکـتـه مـېخانه ده

دَ دې وجې نه دَ سلیم په شاعری دَ وخت او عمـر لږوالـی څـه خاص اثر نه دے اچولے. البته دا ضرور ده چې شاعر دَ وخت په نسبت ډېر کم لیک کړے دے. خو دا مقدار دَ هغې معیـار پـه مقابلـه کښـې هیڅ وقعت نه لری کوم چې دَ سلیم دَ شاعری انفرادیت دے.

په دې څلور کاله کښې د سليم د شاعرۍ يون څنګه پاتې شوے دے؟ د دې سوال د ځواب دپاره به زه دا موده په دريو حصو کښې تقسيم کړم. او دغه دريو حصو ته به زه د هغه د شاعرۍ درې مختلف دورونه وو ايم. هر څو که دا دورونه يو بل سره پيوست بلکې يو بل کښې ننوتى دى خو که مونږ د سليم د شاعرۍ ژوره او باريکه مطالعه وکړو نو د ده شاعرى هم دغه درې برخو کښې ويشلې ښکارى.

د سليم د شاعرۍ اول دور لکه چې د هر شاعر سره کيږى د عشق او محبت په چاپيرچل کښې چورلى. دے دور ته به زه د رومانيت دور وو ايم. ځکه چې د رومانيت ټول خواص د دې دور په شاعرۍ کښې جوت او کار کونکى دى. رومانى شاعران ژوند بلکې د عاشق ژوند يو جامد غُندې شے ګڼى چې د هغه د باقى ژوند سره هيڅ علاقه نه وى. هغوى که څه محسوسوى نو صرف د محبوب جفا د رقيب ظلم او دې خوا ته ئې فکر نه ځى چې محبوب او رقيب د عملى ژوند علامتونه کړى او اجتماعى ژوند باندې د خپل احساس احتوا وکړى.

سليم لکه څنګه چې ما عرض وکړو باقاعده شاعرى ۱۹۵۱ء کښې شروع کړې ده. نو ځکه ده لره پکار وو چې هغه شے چې ده وروستے محسوس کړے او په دې شعر وئيلو مجبور کړے دے:

دا ځولنې چې د پښو نه پريکوم

جوړې دې بار سره عادت شومه زه

هم هغه وخت محسوس کړے وے کوم چې د دې اصلى وخت وه او د

دې ټولې غلطۍ اصلي وجه دَ دهٔ دَ حقیقي دنیا نه فرار او دَ رومان پهٔ غېږه کښې پناه اخستل دي.

سلیم زما دَ یقین او ذاتي معلوماتو مطابق، دَ خپلې شاعرۍ پهٔ دې ابتدائي دور کښې دَ خپلې او پردو ژبو دَ کلاسیکي شاعرۍ دَ مطالعې تکلیف نهٔ دے کړے. دا مطالعه دَ یو ښېرازه شاعر دپاره ډېره ضروري ده ځکه چې پهٔ داسې مطالعه به هغه پهٔ دې پوه شي چې زړو دَ شاعرۍ قافله تر کومې رسولې ده او چې هغهٔ ته دَ خپل سفر او منزل پته ولګي دَ دې مطالعې دَ کمۍ لازمي نتیجه دا وه چې دَ سلیم دَ شاعرۍ دَ سفر آغاز دَ غلط ځائې نه وشو او هغه هم هغه څهٔ وئیل شروع کړهٔ چې دَ دهٔ نه مخکښې پهٔ کراتو مراتو او نسبتاً ښهٔ انداز کښې وئیلې شوي وو.

دَ نظر پهٔ غشیو وولہ زما زړهٔ دې نښانه ده
دَ خلوص او مینې ډکه دا حقیره نذرانه ده

تیر پر تیر چلاؤ ڈر کس کا ھے
سینہ کس کا ھے میری جان جگر کس کا ھے

یا دَ حمید بابا شعر چې:

کهٔ باڼهٔ دې دَ اشنا راښکلي غشي
یو زما دَ زړهٔ دَ نخښې خطا مهٔ شه

دَ سلیم شعر دے:

توبه دَ میو نه وېستلے نهٔ شم
هسې مې خُلې له پهٔ خطا راغله

او حافظ شیرازی وائی:

اگر به شب بزبانم حدیث توبه رود

ز بے طهارتی آن به مے غراره کنم

دَ دې توارد یوه وجه دَ عشقیه مضمونونو کمے هم کېدے شی خو دا حقیقت دے چې سلیم دَ مطالعې په لږ غُندې تکلیف دَ دې نه پېره ډېره اسانه بچ کېدے شو لهٔ دې کبله دَ سلیم شاعری کښې داسې مضمونونه هم راغلی دی چې هغه بالکل سطحی او کله نا کله مهمل هم وی.

دا چې قبر شانې ښکاری یو مرګونے پکښې پروت دے

دا زاهد دے غلط مهٔ شې دَ زاهد خلوت خانه ده

چې کتلے ئې نهٔ شو حسن نو ساتلو ئې پردو کښې

اوس دې ګرځی بې نقابه اوس زمونږه زمانه ده

لږ څکمه ئې چې څهٔ دی

چې تراخهٔ دی کهٔ خوارهٔ دی

واعظه ستا هغه رټلے سلیم

راشه ځانګو کښې اوس دَ نُور ځانګې

ډېر وائی څښلو نه ئې طمعه ښه ده

کهٔ اراده ئې وی محکمه ښه ده

دې دور کښې سلیم چې ځان ته کومه خیالی دنیا جوړه کړې ده دَ هغې تقاضا خو دا وه چې دهٔ دَ هغې خپلې تنګې دنیا نه دَ بهر کتلو تکلیف نهٔ وے کړے ځکه چې دَ جنسی او عشقیه خیال او فکر سره دَ کائنات غم او اجتماعی شعور په اله اسانه نهٔ شی کېدے خو دا

دَ سليم دَ ناقلاره طبيعت وجه ده او کۀ دا دَ ترقی پسندې شاعرۍ پــه لار دَ قدم اخستلو وړومبی علامې وے. چې هغـه دې دور کښـې ځنـې ډېر ښۀ شعرونه وئيلی دی اګر چې دَ شمار په لحاظ ډېر کم دی:

زۀ به ومنم واعظه خو کۀ مونږ لږ مطمئن کړې
زما مخکښې حقيقت دے ستا خبره افسانه ده

اوس دې نه به يا خدائې خبر وی يـا سليـم چې دلتـه هغـه حقيقـت او افسانه کومو معنيو کښې پکارولی دی ځکه چې دَ دې نه پـس تـه يـو شعر کښې چې هلته هم خطاب واعظ ته ښکاری وائی:

ته ئ خورې وائې سرکه ده زۀ ئې ځښمه چې شراب دی
دا عرق چې ترې نه ووځی دَ يوې غُنچې دانه ده

او دا شعرونه ئې څومره واضح دی:

څۀ بوټی شنۀ کړی چا نه غلے تېر شی
داسې بهار سره عادت شومه زۀ
دا ځولنې چې دَ پښو نۀ پرېکوم
جوړې دې بار سره عادت شومه زۀ

ولې دا شعرونـه چـې دَ کومـو غزلونـو نـه اخستے شـوی دی دَ هغـو دَ شعرونو اکثريت دَ دې شعرونو مخالف مواد او خواص لری.

سليم دې دور کښې لکه څنګه چې پکار دی دَ جذباتو دَ شـدت په لحاظ ډېر ښۀ شعرونه ليکلی دی او لهجه ئې دَ خلوص نه ډکه ده.

ته سموې دَ اشنا ورانې زلفې
ږمنځې ستا جوړې قضا راغله

دے جوهر دَ ارمانونو

اوښکه نه ده، نه اوبه دی

شاید ښه شی مېکده کښې

څم هڅوکی مې درانه دی

شی زلزله دواړه جهانه خوځی

ستا په غوړونو کښې چې دُر ځانګی

او دا شعر خو ئې یقیناً فرد دے:

خدائې دې دَ زلفو ښانګې تاندې لره

دا چې په ما غُندې رنځور ځانګی

دَ قافیو دَ غلطیو نه علاوه چې هغه بالکل فطری دی دې دور کښې سلیم دَ ژبې غلطۍ هم کړی دی. دلته ئې زه صرف یو مثال کافی ګڼم:

ستا دَ سترګو دَ کاسو نه مقدسې نشې ښاځی

شرمنده ورته شراب دی او سر ښکته مېخانه ده

دَ سرښکته ترکیب زما دَ خیال مطابق غلط دے.

دَ سلیم دَ شاعرۍ دویم دور دَ دې غزل نه شروع کېږی:

ولوړې اخستے یم غزل نه لیکم

ښکلې قصې به دَ وربل نه لیکم

دا دور دَ هغه دَ واقفیت پسندۍ دور دے. ځکه چې دلته سلیم دَ رومانی دور هغه خاصیت پرېښے دے چې ذهن نه یو نوے شے جوړ او متعارف کړی هغه دې دور کښې څیزونه لکه چې دی نه هغسې لکه چې پکار وو یا لکه چې ذهن کښې ترې څه تاثر قائمېږی بیانوی. دلته سلیم دَ ورومبی دور دَ شاعرۍ برخلاف ردعمل شروع کوی. هغه په

دي خو پوه شوے دے چې دَ رومان "یوټوپیا" کښې وسپدل دَ عوامو سره دَ تعلقاتو مزے شلول دی او دغه مزے شلول ده ته ادب سره غداری ښکاری ولې هغه جذباتو دومره په مخه کړے دے چې هغه ته خپله دَ وړومبی دور شاعری محض تضیع اوقات ښکاری او ځکه ئې په دغه انتها پسندئ دَ شاعرئ هیئت قربان کړے دے. دَ موضوع دپاره فن قربانول هم دومره بد کار دے لکه دَ فن دپاره موضوع قربانول. او دا دَ شاعر عظمت کښې حسابیږی چې هغه فن او موضوع دواړو سره انصاف وکړی. ولې سلیم په دې ....

دې پابندو کښې اخر څه ولیکم

څو چې حالات نه دی بدل نه لیکم

او هم دغه ردعمل دے چې دَ ده ذهن ئې پرېشانه کړے دے. دَ سلیم دَ دې زمانې غزلو کښې متضاد جذبات، دَ اظهار بیان غلط او بدرنګه طریقه او هیئت سره بې انصافی جوته ده. دا هم دَ دغې زمانې غزل دے:

دنګې ماڼئ درله دَ جم رژوم

دوی زیاتولو زمونږ غم رژوم

ته دې کوداله او کهئ چلوه

زه به ئې په څوکه دَ قلم رژوم

ځم چرته بوټے سایه دار اخلم

دَ اشنا زلفو نه لږ کار اخلم

دَ وړومبی دور برعکس دویم دور کښې سلیم نظمونه هم لیکلی دی ځکه چې هغه اوس اجتماعی شعور حاصل کړے او براه راست خطاب

ته جوړ شوے وُه. هر څو که سلیم دلته هم دَ فن دَ قېد نه فرار کړے دے ولې بیا هم دَ نظم حصه کښې دَ هغه تخلیقات دَ غزل مقابله کښې دَ اظهار بیان، رواني او سلاست په لحاظ ډېر اوچت او دَ ستائنې وړه دي:

اوس به که خېر وي خپل جهان جوړ کړو
مونږه تقدیر به دَ انسان جوړ کړو
ستوری به زمکې ته پسخېږی زمونږ
مونږ به دې زمکې نه اسمان جوړ کړو
داسې جهان چې خوشحالي وی پکښې
هر یو موسم دَ سوکالي وی پکښې
دَ هر چا شونډو ته خندا ورسی
او دَ هر چا سره سیالي وی پکښې
(زېړے)

ماته معلوم نه دے شباب څه وی؟
څه ته نغمې وائی رباب څه وی؟
مېکده څه وی؟ مېخواران څوک دی؟
ما نه دی هېر زما یاران څوک دی؟
مانه زما دَ غم تشریح غواړه
که مناسب وی بیا تفریح غواړه
مانه برېنډ اولس لباس غواړی
پرېوتې خلق رانه لاس غواړی

ما نه چاپېره يتيمان ناست دي
ولوړو وهلی ماشومان ناست دي
کله تيونس کله وېت نام له ځم
زه د عوامو هر يو لام له ځم
راځه اشنا چې اول قام جوړ کړو
بيا که فرصت وي بيا به جام جوړ کړو
(دَ دوست په نوم)

شاړو بنجرو نه چمن سازوو
ځنې اوربل مونږ دَ وطن سازوو
چرته غلې چرته ګلونه کرو
دَ مېوؤ بوټې شنه باغونه کرو
سينې دَ ږمکې نه مونږ زور وباسو
او په خپل وس ترې ټول جوهر وباسو
بيا هم نهر يُو او نهر وسېږو
ځائې په ځائې ګرځو در په در وسېږو
(فېصله)

خو ښه ده چې دَ سليم دا بحرانی حالت ډېر ژر لرې شـو. اوس دَ هغه دَ شاعرۍ دريم دور شروع کېږی. (اخـری ورتـه مـا عمـداً نـه دی وئيلی ځکه چې لا دَ سليم شاعری دَ نورو ډېرو دورونـو نـه تېرېدونکـې ده) دا دَ رومانی حقيقت پسندۍ دور دے دا دور دَ موضوع او فن تهٔ دَ امتزاج دور دے. دلته دَ سليم غزلونو کښې رمزيت او دَ هغـه نظمونـو کښې بېباکی خلوص او عـظمت پيدا کېږی. دلته دَ هغه ذهن دَ خپلـې

شاعرۍ په اول او دویم دور تنقیدی نظر اچوی، په خپل فن پخپله تنقید کوی دَ اول دور نه رومان او دَ دویم دور نه واقعیت پسندی راخلی او له دې ځایه دَ خپل اصلی او سم سفر آغاز کوی دلته دَ هغه مزاج پوخ شوے قلم ئې تللے او شعور ئې بالغ دے.

دلته هیله هغه دَ ادب په اصلی او ترقی پسند تعریف پوه شوے دے دلته هغه ادب صرف ادب یا دَ ژوند عکاس نه گڼی بلکې ورسره ورسره ئې دَ ژوند دَ ښو قدرونو نمانځونکے، ژغورونکے او ساتونکے هم گڼی او په دې هم پوه دے چې دَ ادیبُ او رښتونی شاعر فرض دلته ختمېږی نه بلکې هغه دَ ادب په ذریعه دَ ژوند دَ ښو قدرونو رواج دَ بدو قدرونو استیصال او خاتمه کوی دَ هغه کار صرف دَ ژوند کښل نه دی بلکې دَ ژوندی او ساهو قدرونو مخکښې بوتلل هم دی. ځکه چې دَ شاعر مقام دَ فوټو گرافر نه ډېر اوچت دے. هغه به ژوند دَاسې لکه چې پکار دے، نه یواځې داسې لکه چې ښکاری، بیانوی او غواړی. دَ هغه په خیال کښې ادب دَ سماجی نظام دَ بدلولو او ښه کولو دپاره یوه آله ده. هغه ادب ته دَ ژوند نقاد، دَ ژوند مفسر، پاکونکے او جوړوونکے وائی.

دا دَ گلاب تندے په څه خوله شو
دا خو یو گل دے څه مزدور خو نه دے
دا په اوښکو چې خړوب ده دا په وینو چې سېراب دے
دا زما دَ ژوند قصه ده دا زما دَ ژوند کتاب دے
دَ منزل په تعین کښې رهبرانو
قافلې ته هم څه حق دَ فیصلې شته

چې ګیله مې درته وکړه نو خفه شوې
ته له ما سره پښتو کړې پښتنه شوې
خیال مې چې ستا دَ پېغلتوب راغے
داسې اوده غُندې شوم خوب راغے
شونډې مې یو بل ته ورغاړه وتې
لفظ چې پرې ستا دَ مئینتوب راغے
دا ځولنې چې دَ ښو نه پرېکوم
جوړې دې بار سره عادت شومه زه
ماله ئې باغ کښې تش ازغی تازه کړه
داسې بهار باندې زه اور لګوم

او دا ئې اخری شعرونه دے:

چې مې وېنا ته خلق غوږ نه ږدی
ځکه ستا زلفو کښې کمځو کښې اوسم
زړه مې دا غواړی چې وے زلفو کښې پټ
وخت مې راکاږی په غرمو مې تړی

دَ مضمونونو تکرار که عشقیه شاعرۍ کښې وکړې شی چې مضامین او ماحول محدود وی نو هر څو که جواز لری بیا هم دَ ګرمۍ شے نه دے. خو دَ سلیم دَ دومره وسیع پلن سکوپ په موجودګۍ کښې دَ نوؤ نوؤ خیالونو په افراط کښې او دَ سلیم غُندې باریک بین دَ خلې نه داسې تکرارونه څه خو بدی لیدے شی.

خو سره دَ دې هم دَ سلیم دَ موجوده دور شاعری داسې شاعری ده چې ژبه پرې فخر کولے شی او که دَ سلیم دَ شاعرۍ رفتار هم داسې

وه او لکه څه چې دَ سلیم دَ شاعرئ دَ اکر نه ښکاری چې هم داسې او له دې به زیات وی، پښتو او پښتانه ترې دَ ډېر ډېر څه توقع کوی.

(میاشتنے الفلاح پښتو ایډیشن مارچ ۱۹۵۵ء)

فن او مقصد

دَ ابدی تنقید پلار ارسطو چې دا وئیل چې فن نقل دے نو دَ هغه مطلب دا هیچرې نه وه چې دَ فنکار حېثیت صرف دَ کېمرې دے. چې څه ورته مخامخ شی یا څه ته چې مخامخ شی نو هو بهو دَ هغې نقل یا عکس واخلی. فنکار چې مشاهده وکړی او دَ هغې مشاهدې اظهار کوی نو کېدے شی چې دا اظهار په څنو حېثیتونو دَ هغه څیز نه دَ کوم نه چې فنکار متاثر شوے دے کم وی خو دا یقینی ده چې دغه اظهار په ډېرو حېثیتونو دَ دغه څیز نه زیات هم وی. دغه زیاتے دَ فنکار دَ تنقیدی حس پېداوار دے. دا تنقیدی حس خپل اظهار په دوه طریقو کوی. په رنګ او معنې. او حقیقت هم دا دے چې ټول فنی او ادبی تنقید دَ دغه دوه طریقو رنګ او معنې نه چارچاپېره چورلی. دغه رنګ او معنیٰ ده چې ارنلډ ورته "خواږه او رڼا" وائی. او هم دَغه رنګ او معنیٰ ده چې افلاطون ئې په ښکلا او ښه والی یادوی. دَ رنګ او معنې په دې طریقو کښې دغه پاس یاد کړے شوے هغه زیاتے هغه څیز دے کوم ته چې مونږ مقصد وایو. اوس نو کتل دا دی چې دَ فن دپاره مقصد ضروری دے او که نه. دَ دې څیزونو دپاره به مونږ یو ځل بیا دَ ارسطو دَ فن تعریف ته ځو او بحث به پرې کوؤ. ارسطو وائی چې فن نقل دے، دَ څه نقل دے؟ دَ څیزونو، دَ فطرت او دَ قوت متخیله یا صرف تخیل. فنکار دَ تخلیق نه اګاهو په شعور او

تحت الشعور کښې داسې څیزونه لري چې هغه ته دَ تخلیق نغوته ورکوي. دغه عکسونه چې هغه بیانوي یا ښکاره کوي نو دې بیان یا اظهار سره دَ څیزونو یا عکسونو هغه علم هم شامل وي کوم چې دَ فنکار ذاتي وي. دَ فنکار دې ذاتي علم کښې دَ هغه تنقیدي حس هم شامل وي کوم چې دغه عکسونه خوښ کړي یا غندلي وي او دَ غندلي شوؤ څیزونو متبادل یا دَ هغوی نه ښه عکسونه ئې هر څو که دَ هغه مشاهده کښې نه وي راغلي ورته ټاکلي وي. اوس چې فنکار اظهار کوي نو هغه به دغه علم او حس په کار راولي او څیزونه به داسې ښکاره کوي لکه چې هغه ته ښکاري یا لکه څنګه چې دَ ده دَ خیال مطابق پکار وو، چې وې. مثال به ئې داسې وي چې فنکار په یو ځائې کښې ګلونه ولیدل دَ ګلونو رنګ او معنې یعنې رنګ او بوئی نه متاثره شو او دَ هغه نفسیاتي کېفیت اظهار ته مجبور شو کوم چې په ده طاري شوے وه نو دَ دې اظهار دوه طریقې وي، یا خو به ئې دې داسې ښکاره کوي لکه چې څنګه پکار وو چې ده ته ښکاره شوے وے ګلونو سره خوا کښې بې ځایه وابښه هم وو چې ډېرو ځایونو کښې ئې دَ ګل مخ پټ کړے وه او فنکار دَ مشاهدې دپاره دَ دغه ګلونو نه وابښه لرې کول په ځان فرض کړي وو. اوس هغه وړومبے کار دَ کېمرې دے او ظاهره ده چې کېمره تخیل نه لري نو هغه به ئې هم هغسې ظاهروي لکه څنګه چې وي. فنکار تخیل لري هغه به ئې دَ خپل تخیل په سبب دغه ګل دَ اصلي نه هم زیات ښکلے ښکاره کول غواړي او چې هغه داسې کوي نو هغه به هغه اصلي نظاره څه کموي یعنې وابښه او هغه نور څیزونه چې دَ ګل او دَ سترګو تر مېنځه راتلے شي به ترې لرې کوي

او دا کمے به څه زیاتے ورکوی هغه زیاتے ښکلا ده او دغه ښکلا مقصد دے.

دلته یو سوال کېدے شي چې فنکار دَ تخلیق دپاره فطرت کښې تغیر راولی؟ او دا ځکه چې فطرت دَ تعمیر نه زیات تخریب ته مائل دے، یا که زه خپل الفاظ نرم کړم نو دَ نظم نه زیات بدنظمۍ ته راجع دے. دَ فطرت دَ دې خاصیت ننداره دَ ماشومانو دَ طبیعت دَ تجزیې نه ښه کېدے شي او چې څه ته مونږ شرارت، شوخي او وران کاری وایو هغه دَ فطرت دَ دغه خاصیت مظاهره ده دَ تنقید یا دَ مور هم دغه فرض دی چې هغه فن یا بچے دَ فطرت دَ دې کړلیچونو نه وساتی او دغه مقصد دے.

فن که دَ ژوند نقل یا ارسطاطالیسی معنیو کښې دَ ژوند دوباره پېش کول Reproduction or representation وی او دا مونږ ومنو (او بغېر دَ منلو بله لار نشته) نو بیا خو فن کښې دَ مقصد اهمیت نور هم زیات شي او هم دغه نسبت سره ئې ثابتول هم اسان شي ځکه چې ژوند پخپله مقصد دے او چې فنکار ژوند جوتوی نو مقصد به ئې خواه مخواه څرګندوی. دا خبره به لږه نوره هم اسانه شي که مونږ دَ ارنلډ دا نظریه ومنو چې فن پخپله ژوند دے. نو هرکله چې ژوند مقصد لری او مقصد ورسره ضروری دے نو دغسې فن هم چې دَ ژوند حصه ده دَ خپل ځان دپاره مقصد ضروری ګڼی.

فنکار چې کوم وخت تخلیق کوی نو هغه وخت هغه دَ خپل ذهن نه تخیل یا دَ ښه او بد او دَ زښت او ښکلي فرق نه شي بیلولے او چې دا نه شي کولے نو هغه به دَ تخلیق په وخت دَ خپلې مشاهدې چې

هغې کښې تخیل هم شامل دے مطابق اظهار کوی نو دغلته به فن کښې مقصد راشی او هرکله چې دَ ښه او بد او دَ ښائست او ښکلی دا تمیز په هر معقول انسان کښې وی نو هر فنکار به دَ تخلیق په وخت دَ خپل ځان مخکښې یو مقصد ګڼی چې دَ هغې په رڼا او مطابقت کښې به هغه خپل تخلیقات څیروی.

که داسې نه وی او فن دَ یو مقصد دَ لاندې وی نو بیا دوه صورته کیدے شی اول دا چې فن باطل دے او افلاطون چې کوم تنقید په فنکار کړے دے هغه بالکل صحیح دے. دا رښتیا ده چې فنکار مونږ دَ خپلې وینا، حرکت او ساز په ذریعه دَ حقیقت نه لرې بوتلل غواړی. دا هم رښتیا ده چې فنکار مونږ صرف دَ نظر او سماعت په فریب غولول غواړی او دا هم واقعه ده چې هغه زمونږ جذباتو سره لوبې کوی او دَ ارسطو دا خبره بالکل غلطه ده چې فنکار دَ حقیقت نقل نه بلکې اصل حقیقت ښکاره کوی. هغه زمونږ دَ صحت دپاره زمونږ نظر، سماعت او متخیله خوشحالوی او زمونږ دَ جذباتو دَ تطهیر دپاره زمونږ جذباتو کښې هیجان ضروری ګڼی. په داسې صورت کښې افلاطون په حقه وو چې فنکار ئې دَ خپل خیالی ریاست نه جلاوطن کولو او که داسې نه وی نو دویم صورت دا دے چې فن پخپله مقصد دے که چرې فن پخپله مقصد وی نو دَ فن دَ یوادنی طالب علم په حیثیت په دې نظریه زما درې اعتراضه دی اول دا چې دَ دې مقصد دَ حصول نه پس ته به دَ فن دَ طالب علم څه مقصد وی، ځکه چې زمونږ نه وړاندې یواځې پښتو کښې نه بلکې په نورو ژبو کښې ډېر داسې مثالونه شته دے چې فنکار خپل فن کمال ته رسولے

دے. غن تر دې چې مونږ ئې نن په شلمه صدی کښې دَ مثال او دَ تقلید دَ نخښې په طور پیش کوؤ. دوېم اعتراض دا دے چې که فن مقصد شي نو زمونږ ذهني روحاني یا مادي کوم ضرورت به ترې پوره شي یا لږو نورو ښو الفاظو کښې به کوم اخلاقي مقصد پوره کړي او اخري او حقیقت کښې دَ ټولو نه لوئے اعتراض دا دے چې په داسې وخت کښې چې دَ فن نه دَ یوې اخلاقي معاشرتي نظریې دَ اشاعت دَ وسیلې کار اخستل ممکن وي دا کومه ښه خبره ده چې مونږ فن پخپله مقصد وګڼو ځکه چې دغه مقصد اخلاقي لحاظ سره دَ فن نه لوئے دے او دَ لوئي مقصد په موجودګۍ کښې ورکوټے مقصد خپلول او دَ لوئي مقصد نه ورته زیات اهمیت ورکول غیر اخلاقي فعل دے.

فن لکه چې ما عرض کړے دے دَ انسان دَ تخیل او جذباتو ژبه ده چې انسان ئې دَ یو خاص کېفیت یا تاثر دَ اظهار دپاره او په مخاطب دَ دغه کېفیت یا دَ تاثر عمل کښې دَ شدت راوستلو دپاره پکاروي. نو لکه څنګه چې ژبه دَ اظهار آله، ذریعه او وسیله ده نو هم دغسې فن هم دَ یو مقصد دَ ښکاره کولو او دَ دغه اظهار په ډېره ښه طریقه دَ کولو یوه وسله ده. اوس چې تر څو دغه وسله زنګینه ده پڅه ده او ځکه بېکاره ده نو تر هغه وخته دا زمونږ دَ مقصد په مفادو کښې ده چې مونږ دغه وسله عین مقصد وګڼو. زنګ ترې لرې کړو، صېقل ئې کړو او په کار ئې راولو. خو دَ دې مطلب به هیڅ وخت کښې دا نه وي چې مونږ هغه اصلي مقصد دَ نظر نه یا دَ ذهن نه لرې کړے دے. دَ وسلې حقیقت هم هغه دے لکه چې وه، البته دَ مقصد مفادو کښې مونږ دا ضروري ګڼو چې دغه وسله وسیله او آله دې

داسې وی چې دَ مقصد لار کښې په ښه طریقه استعمال شی.

چې فن مقصد نۀ دے بلکې صرف ذریعه یا وسیله ده نــو اوس کتل دا دی چې دا وسیله دَ کوم مقصد دپاره استعمالول پکار دی یعنې دَ فن مقصد څۀ دے یا څۀ پکار دے؟

ارسټوفینـز دَ یونـان مشهـور او وړومبے طربیـه لیکـونکے پـۀ خپلې طربیه "چیندخان" کښې دَ یو کردار پۀ خلۀ "یـوروپے ډیـز" نـه دا پُښتنه کوی.

"راشـه ماتـه دا وښیـه چې یـو شاعـر پـۀ کومــو بنیادونـو دَ ستائنی وړ دے". دَ یونانـی تنقیـد پـۀ تـاریخ کښـې دا سـوال او دَ دې ځواب ډېر لوئې اهمیت لری ځکه چې شعوری طور سره وړومبے ځـل دَ شاعـر اهمیت ښکاره کوی. "یوروپے ډیز" وائی:

"کۀ دَ هغۀ فن رښتـونے وی دَ هغـۀ صلاح درستـه وی او هغـه قوم ته څۀ مدد رسولے شی. په دې طریقه چې (دے) خلق تر څـۀ حـده یا ځنو خبرو کښې ښۀ کولے شی."

د یوروپے ډیز" دَ نظریې مطابق.دَ فن مقصد دَ خلقـو ښـۀ کـول دی چې قوم ته پرې مدد ورسی هم دَ دې نظریې پۀ رڼا کښې افلاطــون شاعران رټلی دی هغه وائی چې هر کله شاعران دا مقصد نۀ شی پـوره کولے نو ځکه هغوی دَ هغۀ ریاست کښې دَ وسېدو اهل نۀ دی.

دَ افلاطون نه پس "لان جائے نس" دَ فن پۀ مقصـد بحـث کړے دے هغه وائی چې فنکار خطیب نۀ دے چې خلقو ته دې وعظ کوی.دَ فن مقصد صرف حسن او دَ دې دَ ښکاره کولو نه پس ته حاصلېدونکې خوشحالی ده. لان جائے نس دَ افلاطونی مقصد رښتیا ، ښکلا او ِ صحت

نه صرف ښکلا راخستې ده او هغه ئې دَ فن مقصد ګرځولے دے. ارسطو دَ افلاطون شاګرد خپل استاذ سره اختلاف کړے دے هغه دغې درې اصولو سره دَ خوشحالۍ یا مزې څلورم اصول زیات کړے دے او دغه ته دَ فن مقصد وائی. هغه دَ لان جائے نس او دَ افلاطون نظریه تر څه حده یو ځائې کړې ده او وائی چې دَ افلاطونی مقصد تر سره رسولو دپاره دَ لان جائے نس اصول ډیر زیات ضروری دی.دَ دوی نه پس ته په هره زمانه کښې نقادانو دغه دوه مدرسو کښې یو سره دَ تعلق ساتلو په وجه خپلو کښې بحثونه کړی دی. ډرائیډن، جان رسکن او اسکروائلډ او په اوسنۍ زمانه کښې ټی ایس ایلیټ دَ دې نظریو څلور لوئے نقادان دی. دغه وړومبی دوه ښاغلی افلاطونی ارسطاطالیسی مدرسې سره او وروستی دوه ښاغلی دَ لان جائے نس دَ خیال سره تعلق لری.

مارکسی لیننی تنقید دَ "یوروپے ډیز" دَ تنقید ارتقائی صورت دے. مارکس او لینن فن دَ عوامو دپاره ګڼی او انقلاب او دَ غیر طبقاتی سماج قیام او استحکام ئې مقصد شماری ډا هم هغه "ځنې خبرو کښې ښه کول" دی چې "یوروپے ډیز" ئې دَ فن مقصد ګڼی.

البته مارکس او لینن پرې دا اضافه کړې ده چې هغوی فنکار ځنو خبرو یا ځنو کارونو کښې دَ ښه والی مبلغ نه منی بلکې دَ ټول ښه والې دَ اشاعت ضروری وسله ئې ګڼی. او بله دا چې "یوروپے ډیز" طبقاتی شعور نه لرلو یا داسې به ووایو چې هغه وخت کښې دَ طبقاتو تر مېنځه جنګ دومره ګرم نه وه لکه چې دَ مارکس او لینن په ورځو کښې دَ یورپ او دَ روس په سرمایه دار او جاګیری سماجونو کښې دَ مختلفو طبقو تر مېنځه ګرم وه او اوس هم دے. دَ مارکسی لیننی

تنقید بنیاد په طبقاتي شعور دے، دَ دغه تنقید په رڼا کښې دَ فنکار مقصد دا متعین کړے شوے دے چې هغه دې دَ خپل فن په ذریعه پـه پرزولې شوې طبقه کښې طبقاتي بېداري او دَ يو ځائې کېدو پـه ګړه دَ طبقاتي جدوجهد کولو شعور او روح پېدا کړي. دَ پرزولې طبقې کسـان او مزدور ملا دې مضبوطه کړي او دَ يو داسې سماج دَ جوړولـو دپـاره دې خپل فني قوتونه پکار راولي چرته چې طبقـات نـه وي او انسانـي ذهن ته سکون او اطمینان وي. مقصد که هر څه وي که افلاطوني مـا بعدالطبیعاتي مقصد وي او که دَ ارسطـو مـادي مقصـد او کـه دَ لان جـائے نــس او اسکـروائلډ لذتیاتــي Hedonicمقصــد وي او کــه دَ مـارکس، انیګلز او لینن جدلي مقصد، خو فن دپاره داسې خوځونکے او حـرکت ورکـونکے مقصـد ډېـر ضروري دے چـې هغـه لکـه دَ ذریعــې استعمال کړي دا دَ لُستونکیو خپله خوښه ده چې هغه کوم مقصد غوره ګڼي او ځان ورسره تړي خو که داسې مقصد دَ ژوند دَ ژوندي کولو او دَ سوکالۍ دپاره دَ تلوسې عناصر ځان کښې لـري نـو هغـه بـه یقینـاً دَ لُستونکیو دَ ډېرې لوېې طبقې خوښ وي او هغوی به په خپلـو مفـادو کښې دا ضروري ګڼي چې ځان ورسره وابسته کړي.

(لار پېښور درېم کال ۱۹۵۷ء)

فن او اخلاق

مونږ چې دا ومنو چې فنکار لره دَ فن دَ پېدا کولو نه مخکښې ځان ته يو مقصد ايښودل پکار دی نو هم هغه وخت دَ فن او اخلاقو سوال زمونږ ذهن ته راشي. ځکه چې دَ مقصد په تعين کښې مونږ خواه مخواه دَ اوچت ټيټ ښه او بد فرق کوو او چې دا فرق مونږه کوو نو هغه وخت زمونږ ذهن دَ اخلاقو دَ تقاضو لاندې سوچ کوی.

دې سره سم دَ فن پحقله يو ډېر بنيادی سوال هم ذهن کښې پېدا کيږی او هغه دا چې دَ فنکار عمل څه پکار دے آيا دے به دَ موجوداتو او دَ ژوند صرف عکاسی کوی يعنې دے به صرف دَ کېمرې کار کوی او که نه دے به موجوداتو او ژوند له هغه رنګ ورکوی کوم چې دَ ده ذهن کښې دے. يعنې دَ مصور کار به کوی دا سوال ځکه مخې له راځی چې که مونږ دا ومنو چې فنکار صرف دَ څيزونو عکس برڅېره او ښکاره کوی نو بيا خو دَ ده حېثيت دَ يوې کېمرې شو او ظاهره ده چې دَ کېمرې مشينی سترګه دَ څيزونو دَ عکس اخستو په وخت دَ ښه او بد تقاضې مخې ته نه شی ساتلے. که دَ کېمرې مخې ته ښه عمل يا څيز راغے او که بد عمل يا څيز هغه به ئې تصوير اخلی.

دا خبره خو به دَ مشين په حقله مونږ ومنو ځکه چې مشين

ذهن نه لري خو دَ ذهن خاوند فنکار چې څه وخت څیزونه بیانوی او ښکاره کوی هغه وخت به هغه دَ خپل ځان نه دَ ښه او بد هغه فرق چې ډیرې مودې راسې دَ ده ذهن کښې اخښلے شوے راغلے دے څنګه لرې کولے شو.

دَ فنکار تخلیق به خواه مخواه دَ هغه دَ ذهن دَ هغه دَ ردعمل نه متاثره کیږی کوم چې دَ یو څیز په لیدو سم دَ هغه ذهن کښې شروع شی او چې پکښې یواځې دَ دغه څیز دَ کتلو تاثر نه بلکې دَ کلونو جمع شوی دغه څیز سره متعلق نور خیالونه او تاثرونه هم کار کوی. نو نتیجه دا شوه چې فنکار به دَ تخلیق په وخت یواځې دَ بصارت نه کار ناخلی بلکې بصیرت به هم پکاوری او چې دے بصیرت پکاروی نو دا به فیصله کوی چې دا لیدلے شوے څیز ښه دے او که بد او که بد دے نو څنګه او په کومه طریقه ښه کیدے شی. کوم خلق چې صرف دَ دې قائل دی چې دَ فنکار وظیفه دا ده چې هغه مونږ دَ موجوداتو او دَ ژوند نه خبر کړی. هغوی سره دَ دې څه ځواب دے چې که فنکار یو بد څیز وګوری او هغه بیان کړی نو ظاهر کښې خو به هغه خپله وظیفه پوره کړی وی خو حقیقت کښې به دغه بیان او تخلیق نامکمل وی. ځکه چې دا پاس ذکر شوے مقصد پخپله هم نامکمل دے. اخر فنکار مونږ دَ موجوداتو یا دَ ژوند دَ مختلفو حالاتو واقعاتو او مسئلو نه ولې خبروی. ظاهره ده چې هغه مونږ صرف دَ دې دپاره نه خبروی چې مونږ خبر شو بلکې دَ دې دپاره مو خبروی چې مونږ دغه څیز قبول رد یا مترقی کړو او چې کوم فنکار مونږ ته خپله فنپاره دې شکل کښې یا دَ دې غرض دپاره پیش کوی هغه دَ اخلاق دَ تقاضو

لاندې فن پېدا کوي.

او که څوک دا وائي چې داسې خو فن او پروپېګنډه کښې څه فرق پاتې نه شو ځکه چې پروپېګنډه هم کټ مټ هم دغه مقاصد لري او چې فنکار دَ مقصد لاندې فن پېدا کوي نو وعظ کوي نو زه به په ډېر ادب دَ داسې خلقو په خدمت کښې عرض وکړم چې دَ فن او پروپېګنډې ترمېنځه فرق کول دَ مقصدي فن پېدا کونکيو په اصول او مقصد اعتراض نه دے بلکې دَ غلط او غېر ادبي او غېر فني ستائل لرونکيو په تخليق اعتراض دے. ځکه چې دا کېدے شي بلکې يقيني ده چې يو مقصدي فنکار دَ مقصد لاندې کوم فن پېدا کړي هغه فني نقطۀ نظر سره ډېر اوچت او دلچسپ وي. دَ دې په مقابله کښې يو غېر مقصدي فنکار که غېر فني او کم پايه فنپاره پېدا کړي نو مونږ به په دې وئيلو او فېصله کولو مجبور يُو چې دَ مقصدي فنکار دغه فنپاره په فني اصولو هم دَ دغه غېر مقصدي فنکار نه عظيمه ده. مطلب دا چې فن او پروپېګنډه مخالف نه بلکې موافق کېدونکي څيزونه هم دي. او کوم څيز چې فن او پروپېګنډه خپلو کښې بيلوي هغه پخپله دَ فن فقدان هم دے. کوم څيز ته چې دغه ښاغلي نقادان پروپېګنډه وائي هغه دَ ډېرو ليکونکيو دپاره دَ هغوی دَ عظمت نخښه ده. ګورکي خپل فن دَ ژپلي او پامال شوې لاندېنۍ طبقې مفاد دَ مقصد په حېثيت ښکاره کړی دی. وکټر هيوګو، ډکنز، سوفټ او عن تر دې چې ورجل او هومر هم دَ فن دَ تخليق نه مخکښې ځان ته څه مقصدونه اېښودي وو. دَ هيوګو او ډکنز مخکښې دا مقصد دَ خپلې زمانې دَ معاشرې اصلاح وه. دغسې سوفټ ته خپله معاشره بده

ښکارېده نو دَ هغې معاشرې مقابله کښې هغـه دَ للـی پټ او دهوئـی نهم ښکلې معاشره خپل لُستونکی ته وړاندې کوی. او ورجـل او هومـر دَ خپلو وطنونو دَ زمانهٔ شجاعت قصې خپلو لُستونکیو تـه پـه داسـې انداز کښې کوی چې دَ هغوی وینه ګرموی او دَ خپلو تخلیقاتو پـه تـار دَ هغوی حال او مستقبل دَ هغوی ماضی سره تړی او پـه دې طریقـه دَ هغوی دَ اصلاح کوشش کوی. اوس که دا دَ اصلاح کـوشش پـه داسـې طریقه وی چې دَ فن اصول پکښې هېر کړی شوی وی نو بیا پـروپېګنډه ده او دا خو دَ هر لیکونکی دَ لیک شان انفرادیت دے چې هغـه دَ ښـه او بد تفریق څنګه راولی آیا هغه مونږ تـه بـد ډېـر بـد ښکـاره کـوی او داسې مو ترې ساتی یا ښـه راتـه ډېـر ښـه ښکـاره کـوی او ورتـه مـو پسخوی یا ښه او بد راته دَ لرې نه په داسې طریقه ظاهروی چې مونـږ ترې دَ خپل اخلاقی نقطهٔ نظر دَ لاندې خپلې نتیجې مرتبې کړو. نو فن او پرېپېګنډه دَ اسلوب او لیک شان په اصولو یو دَ بـل نـه جـدا دی دَ موادو په حېثیت نه. دَ دې بحـث نتیجـه دا شـوه چې فنپـاره کښـې دَ پروپېګنډې اثر او نفوذ تر هغه حده پکار دے تـر څـو چـې فـن اجـازت ورکوی خو دَ دې مقصد هیچرې دا نه دے چې فن لره په مقصد باندې فوقیت ورکول پکار دی. فن او مقصد خپلو کښـې ګنډل پکـار دی. نـه مقصد هېرول پکار دی نه فن. څکه چې که فنپاره کښـې فنـی تقاضـو ته ونه کتے شی نو دغه فنپاره که نور هیڅ نه وی نو پروپېګنډه خو به وی ولې که مقصد په کښې هېر شو نـو بیـا خـو هډو فـن نـه دے. دا څکه چې دَ فن تصور دَ مقصد نه بغېر ناممکن دے.

او چې څنګه دَ فن تصور دَ مقصد نـه بغېـر نـاممکن دے هـم

دغسې دَ مقصد تصور دَ اخلاق نه بغېر ناممکن دے کارلائل وائی:

"که دَ انسان لاسونه نه وے نو کېدے شوه چې پښې ئې وے او دې پرې گرځېدے خو بغېر دَ اخلاق نه دَ هغه دپاره علم حاصلول او دَ څیزونو په ماهیت پوهېدل ناممکن دی یو بالکل غېر اخلاقی سړے په هیڅ څیز هم نه شی پوهېدے. په یو څیز داسې پوهېدل لکه چې څه ته پوهېدل وائی بغېر دَ دې نه نه شی کېدے چې انسان دې اول دغه څیز سره مینه پیدا کړی او ځان دې ورسره په رښتینو معنو کښې متعلق کړی او دا واړه بغېر دَ اخلاق نه شی کېدے."

لکه څنګه چې ما کنایتاً مخکښې عرض کړے دے دَ افلاطون او دَ هغه دَ مکتب فکرونو دَ پوهانو په فنکار یو الزام دا هم دے چې فنکار اخلاقی تقاضو لاندې فن نه پېدا کوی بلکې دَ هغه دَ فن له کبله اخلاق خرابېږی نو ځکه فنکار وطن کښې دَ پرېښودو نه دے.

کېدے شی چې دَ افلاطون دَ نظر وړاندې هغه فنکاران وو چا چې داسې فن پېدا کولو او افلاطون دغه وچو سره لوانده هم سوځولے وی خو ډېره یقینی دا ده چې لکه څنګه ارسطو وئیلی دی چې افلاطون خپله تجزیه کښې غلطی کړې وه کوم عمل ته چې افلاطون غېر اخلاقی وائی هم هغه عمل ارسطو عېن اخلاقی ثابت کړے دے. دلته فن کښې دَ اخلاقو دَ ابدی تعین سوال راشی. چې غېر مقصدی نقادان ئې خپل

حمایت کنبې پېش کوي. دوی وائی چې هرکله اخلاقی قدرونه بدلېږی رابدلېږی نو فن دَ یو داسې څیز تابع کول چې هغه هر وخت بدلېدے شي ښه خبره نۀ ده. دَ دې مقابله کنبې دَ مقصدی نقادانو وېنا دا ده چې کائنات هر وخت بدلېږی او چې کائنات بدلېږی او ترقی مومی نو هغه تاسو چې ورته خبرول وایئ نو هغه کېږی کنه. نو لکه څنګه چې یو اخلاقی قدر دائمي او ابدي قدر نۀ شی کېدے دغسې هغه Object چې تاسو ترې خلق خبرول غواړئ دَ هغې ماهیت هم دائمي او ابدی نۀ دے.

ډرائېډن او ټول نیو کلے سے سستهس سره دَ اخلاقو ګڼون نۀ صرف ضروری شماری بلکې دَ اخلاقو تقاضا پۀ فن حکم ګڼی. دَ دې یوه وجه دا هم ده چې دَ نیو کلے سے سستهس پۀ ذهن کنبې چې دَ مقصد کوم تصور وۀ هغه کټ مټ اخلاقی وۀ او دوی به چې دَ خپل فن مقصد ظاهرولو نو وئیل به ئې چې دَ فن مقصد دا دے چې دَ اخلاقو دَ اوچتوالی دپاره کوشش وکړے شي. دوی دَ ژوند نور مسائل اخلاقو کنبې نۀ شمارل. او هم دغه وجه ده چې جان رسکن (۱۸۱۹ـ۱۹۰۰ء) ئې پۀ دې لیکلو مجبور کړے وۀ:

> "دَ فن نتائج (یعنې فنپارې) پخپله دَ ستائنې او خوښېدو څیزونه وی او خپل ځان پخپله دَ خوښېدو جوګه کوی. دا (دَ فن نتائج) هیڅ کله هم تابع کول نۀ دی پکار. دَ ژوند تابع کولو نه زما مطلب دَ ژوند دَ هغه حصې تابع کول دی چې کور زمکه خوراک او جامو سره تعلق لری."

اوس کتل دا دي چې کور، زمکه، خوراک او جامې دَ خپل ځان دپاره غوښتل خو یقیناً اخلاقو سره تعلق نه لري بلکې یو فطري مطالبه ده او که دَ سړي خوښه وي او کنه دغه څیزونو ته دَ هغه ضرورت وي او ځکه ئې اخلاقو سره څه تړون نشته. ولې که هم دَ دغو څیزونو دَ نورو انسانانو دپاره خواهش وکړے شي نو دا به عین اخلاق وي ځکه چې فرد دَ دغو څیزونو په خواهش کولو او خواهش نه کولو کښې ازاد دے او چې هغه دا خواهش کوي نو اخلاقي عمل کوي ځکه که دا څیزونه په دغه رنګ کښې فن کښې ځائې کړے شي نو دا به یقیناً اخلاقي تقاضو سره سمون خوري.

دَ جان رسکن نقاد سکاټ جیمز که یو خوا جان رسکن سره په دغه بره ذکر شوې خبره کښې اتفاق کوي نو بل خوا دا رائې هم ظاهروي چې.... "فن کار کوم وخت فن تخلیق کوي هغه وخت دې هغه دغه فنپاره یا اخلاقي قدر په اصولو نه کچ کوي دا بیله خبره ده چې دَ تخلیق نه پس ته دغه فنپاره دَ یو مقصد یا اخلاقي قدر تبلیغ کوي." یعنې دَ ښاغلي سکاټ جیمز مطلب دا دے چې فنکار خو دې خپله فنپاره دَ کوم مقصد په رڼا کښې نه تخلیق کوي البته که لُستونکي یا لیدونکي یا په نورو الفاظو کښې نقادان پکښې څه اخلاقي مقصد مومي نو باک ئې نشته. یعنې صفا ټکو کښې ښاغلے سکاټ جیمز دا حق صرف نقاد ته ورکوي چې هغه دې په فنپاره کښې دَ تنقید په وخت دا ګوري چې دې فنپارې دَ کوم اخلاقي مقصد خدمت او اشاعت کړے دے او کنه او دَ فنکار نه دا حق شوکوي.

فنکار دَ تخلیق په وخت هم انسان وی او انسان هیڅ حال کښې دَ خپل ځان نه خپل قوت متخیله دَ ښو بدو شعور او وجدان نه شی منفی کولے. هغه چې کوم وخت دَ یو ځیز نه الهام Inspiration اخلی هم او که بیا دغه ځیز بیانوی هم هیڅ حال کښې خپل شعور دَ ځان نه بیلولے نه شی. دا وېنا درسته نه ده چې یو شاعر کوم وخت خپله فنپاره تخلیق کوی نو هغه به صرف مجرد جذبه وی نور څه نه. کوم وخت چې فنکار تخلیق کوی نو دَ هغه دَ جذباتو شدت که هر څومره زیات وی یا دَ هغه جمالیاتی حس که هر څومره تېز وی هغه به دَ خپل شخصیت او انا نور اړخونه او مظاهر هم قائم ساتی او چې څومره دَ هغه دَ شخصیت او دَ فن پارې تر مېنځه زیات تړون وی دومره به هغه فنپاره اوچته او عظیمه وی.

(میاشتینے ننګیالے پښتون جولائی ۱۹۵۷ء)

د لار د ۱۹۵۷ء نظمونه

ادب دَ یو قام دَ مسلسل ژوند او د هغه د ارتقا آئینه ده چې ترې دَ دغه قام دَ ذهنی او معاشرتی ارتقا دَ مختلفو مراحلو علم حاصلیږی نو دَ دغه مسلسل علم نه یو ګال رابهر کول او بیا دغه کال دَ خپل اقتباس نه وبنکل او پرې بحث کول داسې شې دے چې زما په خیال ترې څۀ فائده نه شی رسېدې بلکې عین ممکنه ده چې دَ لُستونکیو ذهن پرې پرېشان شی او هغوی دَ دغه کال دَ ادب په حقله دَ هغې تجزیې په وجه غلطې نتیجې ته ورسی او ګمراهی کښې پرېوځی. دَ ادب تجزیه کول هسې هم ډېر ګران کار دے. ځکه چې ادب دَ زرګونو کلونو دا ورثې دَ ادب، دَ حال د بې اطمینانی یا خوشحالی او دَ مستقبل دَ رڼا یا تیارې پرتو لری. او ظاهره خبره ده چې دا درې متضاد او له یو بله بالکل جدا څیزونه هیڅ کله یو عمل تجزیه نه شی قبلولې. خو دَ اُردو په تتبع کښې زمونږ په ژبه کښې هم بغېر دَ څۀ وجې دا بدعت شروع شوے دے چې دَ کال په ادب تبصرې کیږی او دَ دغه کال هېچرې دَ ژوند په لوئ اقتباس یا دَ ادب دَ ماضی په اقتباس کښې نه شی کتلے. اوس دا خو ممکنه ده چې نقادان دې په یو مخصوص کال کښې دَ ادب ځنې واضح رجحانات په ګُته کړی او بحث دې پرې وکړی. (دا هم هله چې دَ مخصوص کال ادب دَ خپل تاریخ دَ اقتباس نه ونه بنکلے شی) خو دا بالکل ناممکنه ده چې دَ مخصوص

کال په ادب دې داسې بحث وشي چې محض دَ دغه کال ادب دې دَ نقاد دَ سترګو وړاندې وي ځکه ما دَ دې مقالې نوم دَ ۱۹۵۷ دَ نظمونو په ځائې دَ "لار" دَ ۱۹۵۷ نظمونه کېښو.

پښتو کښې په ادب نظرياتی تنقيد هسې هم کم دے زمونږ دَ نقادانو اکثريت خو هسې په دې قائل دی چې دَ ژوند او ادب تر مينځه ډېر کلک تړون دے او ادب تل تر تله دَ ژوند نه قوت مومی خو اوسه پورې زما دَ مطالعې نه داسې تنقيد نه دے تېر شوے چې په کښې دَ فن پارې او ژوند تر مينځه دَ تعلق په رڼا کښې بحث شوے وی. زمونږ نقادان دَ فن پارې ظاهری ښکلا نه متاثره کيږی خو دَ دغه فن پارې باطنی او اصل ښکلا باندې هيڅ توجه نه کوی. دا ځکه چې داسې تنقيد کول ډېر ګران کار دے او زمونږ نقادان لا دومره ګران کار ته ځان نه شی ورکولے.

په ۱۹۵۷ کښې چې کوم نظمونه "لار" کښې چاپ شوی دی هغو کښې دَ يو دوه ليکونکيو نه بغېر ټول ليکونکی دَ تکرار مرض کښې مبتلا ښکاری. دَ "لار" دَ ۱۹۵۷ نظمونه دَ تکرار دوه قسمه ښکاره کوی. يو هغه تکرار دے چې لوئ ليکونکی ئې کوی او هر نظم کښې ئې دَ بل نظم سره توارد شوے وی. دوئ چې دَ کال په سر کښې څه وئيلی وی هم هغه دَ کال په اخر کښې هم وائی (او امېد دے چې باقی عمر به ئې هم وائی) داسې دَ دوئ ليک شان کښې يو ډېر ناپسنديده مينرازم Mannerism پېدا شوے دے. دَ اُردو لوئ شاعر او نقاد فېض احمد فيض وئيلی دی چې کوم وخت شاعر په دې پوه شی چې هغه سره دَ وئيلو دپاره څه څيز پاتې نه شو او اوس که هغه څه

وائی نو دَ خپلو زړو خیالاتو تکرار به کوی نو هغه وخت هغوی له پکار دی چې دَ ادب دَ محفل نه پاڅی او ادب نوازو ته سلام وکړی. دا ولې؟ دا ځکه چې که دې داسې ونه کړی نو دا به ادب سره لوئ ظلم وی ځکه چې لُستونکی ادب دې دپاره نه لولی چې په کښې دې بار بار هم هغه څیزونه ولولی کوم چې دوی یو ځل نه ډېر ځل لُستلی دی. نو که شاعر په خپلو لُستونکیو رحم ونه کړی نو شاعری به دَ لُستونکیو دپاره خپله دلکشی بائیلی نو ځکه شاعر دې هغه وخت نظم لیکی چې دې پوه شی چې دوی سره دَ کولو دپاره څه نوې خبره شته. دَ پښتو ځنې شاعران شعوری یا غېر شعوری طور سره دَ فیض په دې خبره لګیا دی عمل کوی او زما دَ اندازې مطابق که یو څو نور شاعران (هر شاعر دې خپل ګرېوان کښې سر ښکته کړی اول زه او ورپسې نور) هم دغه لار خپله کړی نو په پښتو ادب او شعر به ئې ډېر لوئ احسان وی.

زه دې منلو دپاره تیار یم چې چونکې د ۱۹۵۷ په شروع او اخر کښې دَ ژوند مسائلو کښې څه تبدیلی نه ده راغلې نو ځکه شاعری ئې هم متنوع نه ده. خو دلته زه یو بل مرض هم لرم او هغه دا چې که دَ مسائلو پیچیدګی کښې تبدیلی را نه شی (او دا دَ منلو خبره نه ده چې پیچیدګی دې تبدیلی نه قبلوی) نو د ادیب ذهنی ساخت کښې به هم تبدیلی نه راځی. اخر دَ حالاتو رفتار سره به دَ هغوی مطمع نظر بدلیږی نه او که مطمع نظر ئې نه بدلیږی نو مسائلو ته دَ رسایې طریقه به ئې هم نه بدلیږی. ادیب او شاعر کښې خو دَ ټولو نه زیاته دَ ستائنې خاصه دَ هغوی دَ مشاهدې ملکه ده او که دَ دوی خیالاتو کښې ناګرتیا (جمود) راشی نو تر څو ئې چې بله ښکاره

نفسیاتی وجه نه وی نو دَ ادب نقاد به خواه مخواه دا رایٔ قائموی چې دَ دغه شاعر یا ادیب دَ مشاهدې قوت ختم شوے دے.

دَ تکرار دویم قسم چې د ۱۹۵۷ دَ "لار" دَ نظمونو نه ښکاره کیږی هغه نقل دے چې وړو شاعرانو دَ لویو شاعرانو په تتبع کښې شروع کړے دے. زه دا نه وایم چې دَ لویو شاعرانو دَ لیک شان او خصوصیتونو پیروی کول ګڼې بده خبره ده که داسې وی نو دا خو به نقص نه وه بلکې خوبی به وه خو افسوس ناکه خبره دا ده چې لویٔ شاعر عاجز په خپله هم تکرار شروع کړی نو هغه خپل پیروکار هم تکرار کښې مبتلا کړی. دغه وجه ده چې دَ پښتو دَ شاعرانو په جدیدَ کول کښې ځلیدونکے شاعر پیدا کیږی نه. دا خبره دَ ادب دَ نقادانو دَ توجه مستحقه ده چې دَ ۱۹٤۷ نه پس درې څلور کالو کښې چې کوم کول را لویٔ شوی دی او دویٔ چې کومې اضافې زمونږ شعری ادب کښې کړی دی دَ هغې وجوهاتو کښې یوه ډیره غټه وجه دا ده چې زمونږ شاعرانو محنت پریښے دے. هغه فنکارانه ریاضت ته ئې ملا ماته ده کوم چې دَ لویٔ ادب دَ پیدا کولو اکی یوه لار ده. د دې دواړه قسمو تکرارونو خوریدل دَ ادب دپاره ډیر مضر دی او دَ دې ضرر په خوریدو کښې ډیر لاس دَ صحیح او رښتینی تنقید دَ فقدان دے او دَ صحیح او رښتینی تنقید دَ فقدان یوه ډیره غټه وجه دا ده چې پښتو کښې دَ ښو لیکونکیو مقابله کښې دَ رسالو او اخبارونو تعداد ګڼ شوے دے. اوس دا خو هم ناممکنه ده چې یو څو نومونه دې بار بار هره رساله کښې چاپ کیږی نو دَ اخبارونو مدیران مجبور دی چې هر هغه Trash چې دویٔ ته دَ نظم دَ عنوان لاندې راشی چاپ کړی.

دَ نظمونو دَ تکنیک په سلسله کښې هم دا خبره دَ یادولو قابله ده چې په ټول ۱۹۵۷ کښې پښتنو شاعرانو دَ هغه زړې لیکې نه ځان بدل نه کړو. اجمل، طوفان او وهمی زمونږ هغه درې شاعران دی چې پښتو ترې دَ ډېر څه توقع لری. دوئ کښې یو په دې کال کښې دَ نظم په تکنیک څه داسې تجربه ونه کړه چې دَ پښتو پنګه پرې زیاته شی. دا څومره عجیبه خبره ده چې دې کال کښې دَ نظم تکنیک کښې یوه تجربه شوې ده او هغه هم دَ نوی شاعر (هر څو که په عمر زوړ وی) عرب خان دَ لاسه ده. دَ احمد ندیم قاسمی دَ نظم "پابندی" ترجمه ئې ډېره په پابندی کړې ده (حالانکې ورته ئې صرف اثر وئیلی دی) او ورسره ورسره ئې دَ هغه دَ نظم تکنیک هم ډېر په ښه شان خپل کړے دے.

دَ اجمل نظم "اې دَ رحمان هدیرې" زوړ نظم دے او زما په خیال په ۱۹۵۰ کښې لیکلے شوے دے که نه وی نو هغه هم دَ تکنیک په لحاظ ډېره وچته تجربه ده. طوفان "پښتونستان وطنه" کښې دَ لوک ګیت تکنیک ته ډېر رانژدې شوے دے. وهمی دَ فکر دَ تنوع په لحاظ ځان ښه ښکاره کړے دے. مراد په یو ډېر زوړ تکنیک ډېر ښکلے نظم لیکلے دے. "ادې پښتو" کښې دَ مراد شنواری فن ډېر جوت دے. اګر که دَ نظم دَ ختمولو نه پس لُستونکی ته دا محسوسیږی چې نظم نامکمل دے. زه په دې پوه نه شوم چې دَ غنی غُندې "بت شکن" په "شهید ته خطاب" کښې ولې دومره کن ونشنلConventional شوے دے. ساقی دې کال کښې نظم نه زیاته توجه نثر ته ورکړې ده او نظم که ئې لیکلے دے نو هغه هم منثور دے.

دَ هرمز بن هرمز دَ نظم "شاعر او مطرب" دوېمه حصه (نوره حصه ئې لا نۀ ده چاپ) ډېره جلدی کښې لیکلې شوې معلومیږی.

کۀ دَ دې ذکر شوو شاعرانو نه بغېر ما دَ بل چا نوم نۀ وی اخستے نو زۀ دَ هغو نه معافی غواړم خو حقیقت دا دے چې دَ دغو شاعرانو تخلیقاتو به زۀ پۀ دې تاثر اخستلو مجبور کړے یم چې دا نظمونه کم او نقلونه زیات دی.

(میاشتنی "لار" یکم اپریل ۱۹۵۸)

دَ ژبو مور

دَ پښتو دَ قدامت په حقله دَ پښتو په علمی حلقو کښې مختلفې دعوې کيږی چا له چې خدائې پاک ځومره وس او علم ورکړے دے دومره هغه دَ پښتو دَ قدامت وچته دعویٰ لری. څه موده کيږی چې ښاغلی حبيبی دَ يو ډبر ليک په واسطه دَ پښتو قدامت دَ عيسیٰ عليه السلام نه درې زره کاله اګاهو پورې ورسولو (ښاغلے حبيبی اوس په خپله دا رائې نه لری) دَ دوی نه پس ځنې عالمانو د ابراهيم عليه السلام دَ "پښتونولو" کوشش وکړو او ځنو خو لا په کښې دا هم ووئيل چې په خپله دَ آدم عليه السلام ژبه هم پښتو وه. غرض دا چې علمی او غير علمی زيارونه ټول دې ته متوجه شو چې دَ پښتو دَ قدامت ثابتولو دپاره دَ يو بل نه وړاندې شی. حالانکې لکه چې ځنګه دَ ښاغلی دوست محمد خان کامل رائې ده اصلی دَ بحث خبره دَ پښتو قدامت نه بلکې دَ پښتو اهليت دے. په دې به څه وشی که دَ پښتو په حقله دا دعویٰ ثابته کړې شی چې دا دَ کائنات ژبه ده بلکې دا خبره خو به لا دَ پښتو او پښتون دپاره دَ شرم وی چې يوه دومره زړه ژبه اوس په داسې حال کښې ده چې نه په کښې يو اخبار شته، نه رساله، نه دَ مدرسې ژبه ده، نه دَ سکول، نه د عدالت ژبه ده، نه دَ دفتر، يوه بين الاقوامی غُنډه کښې هم دَ دې ژبې اهميت نه دے تسليم شوے او داسې نور او داسې نور.

دَ ماضی پہ حقله غور کول همېشه دَ انسان یوه مشغله پاتې شوې ده. دَ دې فائدې هم شته او نقصان هم. ولې لہ بده مرغه مونږ دَ پښتو دَ ماضی پہ حقله دَ دې مشغلې صرف پہ نقصانونو خبر شوی یو او بس. دَ پښتو دَ قدامت دَ ثابتولو دا مشغله دَ دوېم لوئی جنګ پہ ورځو کښې شروع شوه ځکه چې زمونږ لہ بده قسمته هټلر ته دَ یهودیانو دَ خاتمې دپاره دا راياد شو چې جرمن قوم دَ اريائی نسل سره تعلق لری. پېرنګیانو سره دَ دښمنۍ پہ وجه دَ ایشیا اکثرو قومونو ځان ته آریه وئیل شروع کړل. (حالانکې پېرنګیان هم آریائی نسل سره تعلق لری) او چونکې دَ پېرنګیانو ځنې عالمانو دَ ډېرې مودې راسې دَ معلومې دنیا ژبې پہ دوه ځانګو آریائی او سامی کښې وېشلې وے او پښتو هم پہ دغه بنیاد آریائی ژبه ګڼلې شوې ده ځکه نو دَ آریا ګانو دَ ماضی دَ عظمت نه دَ مرعوبیت پہ وجه دا ضروری شوه چې زمونږ عالمان دا ثابته کړی چې پښتو پہ آریائی ژبو کښې لہ ټولو نه زړه ژبه ده. چا چې دَ انسانی نسل تشریح دَ آریه او سامی پہ اسانو اصطلاحاتو کښې کول غُښتل هغوی دَ انسانی ارتقا پہ حقله یو خاص خیال لرلو او دَ دوی دا تشریح دَ دغه خیال سره مطابق وه. دَ دې عالمانو دا خیال وہ چې انسان پہ اوائلو کښې یو عام حیوان وہ چې یا خو ئې ضمیر نہ لرلو او کہ لرلو ئې نو دَ مافی الضمیر دَ اظهار دپاره دَ ژبې پہ استعمال نہ پوهېدو او خپل مطلب به ئې دَ اشارو او حرکتونو پہ ذریعه ځرګندولو. دَ دې خیال مطابق انسان دَ تکلم خاصیت ورو ورو او دَ خارجی فطری مظاهرو دَ اوازونو نه زده کړو. دَ سپی غپ، دَ مرغو شور دَ وریځو ګړګوړ او دَ آبشارونو او سیندونو اوازونو انسان کښې دَ

نقل په ذريعه دَ تکلم خاصيت پيدا کړو او دغسې دَ دنيا په مختلفو علاقو کښې ازادې او دَ يو بل سره بې تعلقه (ژبې) پيدا شوے. چې دَ باهمى ربط په ذريعه په کښې ترقى کيده او اخر ئې دَ يوې باضابطه ژبې شکل اختيار کړو.

دا نظريه يواځې په دې غلطه نه ده چې دَ دې دَ منلو په صورت کښې به اشرف المخلوقات دَ اشرفيت دَ کرسى نه راپرېوځى بلکې دَ دې دَ غلطى يو دليل دا هم دے چې دا نظريه دَ انسانى ارتقاء په حقله دَ مذهب دَ پيش شوى خيال سره ډغره خورى. زه دلته دَ مذهب دَ حقانيت بحث چيړل نه غواړم ځکه چې دَ مذهب په حقله هر سړے په خپل خيال قائمولو کښې ازاد دے ليکن دَ مذهب دَ حقانيت نه منکر خلق به هم دَ مذهب دَ تاريخى حيثيت نه انکار ونه کړې شى. تر اوسه پورې دَ ټولو نه وړومبے ليکلے تاريخ دَ بائبل زوړ عهد نامه ده او دَ بائبل زوړ عهد نامه وائى:

" په ابتدا کښې الله اسمانونه او زمکه پيدا کړل* او زمکه ورانه او خالى وه او په مخ دَ زمکې تيارهٔ وه او دَ الله روح د اُبو په مخ رپيدو* او الله ووئيل چې رڼا دې شى نو رڼا شوله* او الله رڼا وليدله چې ښه ده نو الله رڼا له تيارې نه بيله کړه* او الله رڼا ته ورځ ووئيله او تيارې ته ئې شپه ووئيله نو نماښام او صباح وړومبى ورځ شوله*" (پيدائښت باب اول آيات ١ـ٥)

په وړومبو دوؤ آياتونو کښې دَ خدائې پاک دَ عمل ذکر دے ولې په دويم او پنځم آيت کښې دَ خدائې پاک دَ قول ذکر دے. ظاهره ده چې دا قول به قابل سماعت وهٔ او په يوه ژبه کښې به وهٔ. زوړ عهد

نامه کښې مخکښې ذکر راځي:

" او الله هغه فضا ته اسمان ووايه". (پېدائښت ۱:۸)

بيا وائي:

"نو الله انسان په خپل صورت پېدا کړه دَ الله په صورت ئې پېدا کړه * نر او ښځه ئې پېدا کړل* او الله دوی له برکت ورکړه او دوی ته الله ووئيل چې بار دار او ډېر شئ او زمکه ډکه کړئ او لاندې ئې کړئ*" (پېدائښت ۱: ۷۲. ۸۲)

قرآن شريف له دې نه هم واضحو ټکو کښې وائی:

"خلق الانسان علمه البيان"

(خدائې انسان پېدا کړو او وېنا ئې ورزده کړه.)

"و علم آدم الاسماء کلها"

(خدائې پاک آدم عليه السلام ته ټول نومونه ورزده کړل)

نو په دې بنا دَ مغربی پوهانو دا نظريه چې انسان اوائلو کښې تکلم نه شو کولے محض قياس آرائی ده ځکه چې دَ تورات او قرآن په رڼا کښې انسان دَ پېدائش سره سم قوت بيان حاصل کړے وه؟ او چې دا منو نو دا به هم ورسره منو چې دا بيان په يوه ژبه کښې وه او چې دا ومنلے شی نو دَ ژبې په حقله دا دعویٰ بې بنياده شی چې انسان دَ تکلم خاصيت ورو ورو او دَ خارجی فطری مظاهرو دَ اوازونو نه زده کړے وه.

دَ سامی او آريائی ژبو تفريق منونکی دَ خپلې دعوې په ثبوت کښې دَ مختلفو ژبو تورئ دَ دليل په طور پېش کوی. دوی په دې طريقه دا ثابتول غواړی چې چونکې دَ دوی دَ خيال مطابق دَ

آریائی ګروپ دَ مختلفو ژبو تر منځه ډېر توری آهنګی لحاظ سره یو شان دی او دغسې دَ سامی ګروپ دَ مختلفو ژبو توری یو بل سره مشابهت لری نو ځکه دَ دوی په خیال دَ دوی دا تقسیم صحیح او دَ ژبو په حقله رښتینے رهنما دے. حالانکې دا هډو څه قطعی او حتمی دلیل نه دے. اول خو دَ سامی او آریائی ژبو تر منځه په زرګونو توری مشابهت لری دَ مثال په طور:

(۱) فارسی (آریائی)	عربی (سامی)
نګریستن	نظر
چراغ	سراج
(۲) انګرېزی (آریائی)	عربی (سامی)
Track (لار)	طریق (لار)
Gloom (تیاره)	ظلمت (تیاره)
Call (اواز)	قول (خبره) وغیره وغیره

او ځکه نو دَ دې لفظونو په بنیاد دا دعویٰ هم ممکنه ده چې فارسی، انګرېزی او عربی دَ یوګروپ ژبې دی حالانکې په خپله دَ دغو پوهانو په خیال فارسی او انګرېزی آریائی او عربی سامی ژبه ده.

او بیا په دې سلسله کښې اهمه خبره دا هم ده چې تر کومه یو سائنسی معیار داسې وضع شوے نه وی چې دَ دې فیصله وکړی چې په دوه ژبو کښې مشترک الفاظ په اصل کښې دَ کومې ژبې تورے دے تر هغې پورې محض دَ لفظونو هم آهنګی څه قطعی دلیل نه شی کېدے ځکه چې که زه ووایم چې دَ Grinding تورے انګرېزی دَ پښتو دَ توری "ژرندې" نه اخستلے دے نو هم دغسې دَ انګرېزی

عالمان وئیلے شی چې پښتو دا تورے دَ انګرېزی نه خپل کړے دے. په دې طریقه به دَ بحث یوه لامتناهی سلسله شروع شی او پرېکړې فېصله به ګرانه شی. ځکه نو چې تر څو داسې اصول وضع شوی نه وی تر هغې به هره ژبه رجماً بالغیب دَ قدامت دعویٰ کوی او دَ عالمانو غېر واضح اصول به په خپل تائید کښې پېش کوی.

دې ضمن کښې دا یاد ساتل پکار دی چې ځنو عالمانو دَ هم داسې مشکلاتو دَ حل کولو دپاره دَ "رېشو" او مشتقاتو اصول منځ ته راوړے دے چې هغه هم په اصل کښې غېر واضح دے. دا عالمان وائی چې په دوؤ ژبو کښې هم آهنګ توری راشی نو دَ توری اصل رېښې ته کتل پکار دی چې هغه دَ کومې ژبې ده. مثلاً دَ فارسی ترکیب)تګ و دؤ" کښې "تګ" دَ پښتو دَ تللو دَ رېښې نه دے نو ځکه دَ دې عالمانو په خیال کښې تګ او دؤ دواړه توری فارسی دَ پښتو نه خپل کړی دی. لېکن، که دَ فارسی عالمان هم راپاڅی او دا ووائی چې دَ تګ رېشه تلل نه دی بلکې تاز ده چې دَ تازی او ترکتاز په کلمو کښې اوس هم موجوده ده نو فېصله کول به ډېر ګران شی.

هم دغسې دَ مشتقاتو خبره هم ده. دَ دې عالمانو دَ خیال مطابق کومه کلمه چې یوه ژبه کښې ډېر مشتقات لری هغه به دَ هغه ژبې کلمه ګڼلې شی. په دې دلیل به دَ لاطینی تورے Canon دَ لاطینی نه بلکې دَ عربی ژبې دَ قانون دَ کلمې نه ماخوذ ګڼل کیږی ځکه چې قوانین، تقنین، مقنن او دغسې نور مشتقات لری حالانکې دا هر چا ته پته ده چې دا تورے عربی دَ لاطینی نه اخستے دے.

بیا نو سوال دا پیدا کیږی چې آیا دا بحث به هم داسې روان

وی او که نه دَ دې فیصله کولو څه صورت هم شته. زما په رائې کښې دَ دې حل شته لېکن دَ هغې دپاره به اول دا ضروری وی چې مونږ په څنو بنیادی خبرو متفق شو او دَ ټولو نه بنه او متحد بنیادی خبره دا ده چې په یو علمی بحث کښې مونږ دَ اول نه په ذهن کښې دا خیال نه راولو چې دا مونږ چې څه عقیده یا نظریه لرو دا خامخا صحیح ده او زمونږ ټول کوشش دا پکار دے چې دغه عقیده یا نظریه ثابته کړو دا بالکل غېر سائنسی رویه ده او یوه مسئله هم دَ دې رویې په موجودګۍ کښې نه شی حل کېدے.

(د زېر تصنیف کتاب "دَ ژبو مور" یو فصل)

(سیمیزین پښتو برخه انجنئیرنګ کالج پېښور یونیورسټی ۱۹۷۰ـ۱۹۷۱)

مُلا ارزانی

مُلا ارزانی او دَ هغه دیوان زمونږ دَ ادب په سلسله کښې کافی اهمیت لری. دا اهمیت صرف په دې وجه نه دے چې مُلا ارزانی زمونږ وړومبے صاحب دیوان شاعر وه بلکې په دې وجه هم دے چې دَ ده له دیوانه له ده نه پس راتلونکیو شاعرانو نه صرف استفاده کړې ده بلکې دَ دې دیوان په بنیاد ئې ده سره دَ سیالۍ دعوې هم کړی دی. خوشحال بابا وائی:

دَ مرزا دیوان مې ومانړه په ګوډی
مسخره مې ارزانی خویشکے ځمند کړه

هم دغسې دَ رحمان بابا یوه مقطع ده:

دَ مرزا دَ ارزانی دعویٰ به پرې کا
قدردان دَ شاعرانو رحمان راغے

دَ ارزانی یو بل ډېر لوئې اهمیت دا دے چې دے لکه دَ "پټې خزانې" دَ اکثرو شاعرانو دَ یو راوی یا دَ راوی دَ پلار دَ بیان یا دَ چا دَ بیاض په حواله ژوندے نه دے بلکې دَ ده دَ ژوند ثبوتونه دَ ده له مخالفینو او موافقینو دواړو له شهادته ثابت دی. اخون درویزه چې دَ پیرروښان او دَ هغه دَ تعلیماتو سخت دښمن دے ارزانی نه صرف دَ یو عالم او شاعر په حیثیت تسلیموی بلکې تر دې حده مبالغه کوی چې دَ خیرالبیان لیکونکے ئې ګڼی. حالانکې که ارزانی دَ خیرالبیان لیکونکے وے نو خپل کتاب به ئې بل ته نه پرېښو او دَ اخون درویزه دَ وینا مطابق به له پیرروښان نه نه خفه کېده او که خفه کېده نو دَ

خیرالبیان خپله حصه به ئې ځان سره هندوستان ته وړله. په دې دَ ارزانی حېثیت دَ تاریخ دپاره ډېر اهم دے چې دَ هغه له دیوانه مونږ ته دا ثابت شو چې هغه یو ځل پیرروښان منلے دے نو بیا ترې اوړېدلے نه دے او تر اخره ئې هم دَ هغه تصوف درس ورکړے دے چې ده له پیرروښانه زده کړے وه.

ارزانی دَ خپل دیوان په ذریعه یوه بله تاریخی غلطی درسته کړې ده. "پټه خزانه" دَ پښتو شاعری تر دوېمی صدۍ هجری رسولې ده خو دَ ارزانی له دیوانه داسې ثابتیږی چې دَ پښتو شاعرۍ تر لسمې صدۍ دومره ترقی نه وه کړې چې دا ترې ثابته شی چې دَ پټې خزانې دَ شاعرانو دَ شاعرۍ نمونې برحقه دی. دَ مثال په طور زه دَ ارزانی داسې شعرونه بیانوم چې پکښې داسې درې سیلابی توری استعمال شوی دی چې وزن کښې به هله راځی چې په غلط ځائې ئې زور ورکړئ. دا شعر وځیرئ :

که طالب ئې مقصود غواړه

له دې افغانی بیانه

دا پښتو خبرې اوره

له دې ارزانی افغانه

اوس دېو دواړو شعرونو کښې "افغانی" او "ارزانی" درې سیلابیز توری دی چې اصل زور ئې په وړومبی سېلاب دے حالانکې دَ ده دیوان کښې داسې شعرونه هم شته چې په دېو توریو په صحیح سېلاب زور ورکړے شوے دے. مثلاً:

ارزانی افغان وکښلې

دَ خپل زړه له تصور ئې

په سپلابونو غلط ځائې کښې دَ زور دا اعتراض په مرزا، دولت او نورو روښانی شاعرانو هم واردیږی نو له دې دا ثابته شی چې دغه وخت دَ پښتو شاعرۍ ابتدا وه. دا دَ ارزانی یو ډېر لوئې احسان دے چې په پښتنو ئې کړے دے او اصل حقیقت ئې واضحه کړے دے.

دَ ارزانی تصوف خو دَ تصوف دَ تاریخ یو داسې باب دے چې اثر ئې په خوارلسمه صدۍ کښې دَ حمزه شنواری تر شاعرۍ رارسېدلے دے او دَ حمزه مرحوم مکتب فکر به ئې تر ډېره لرې پورې بوځی. انشاء الله ځکه زه ورته صرف اشاره کول کافی ګڼم.

دَ موضوع په لحاظ دَ ارزانی یوه بله ورثه قومی شعور دے. دَ ارزانی په دیوان کښې ځائې په ځائې:

ارزانی په پښتو وکښو
دا کلام په ښو ښو شرحې
دَ فقیر پښتو خبرې
لکه سپینې مرغلرې
ارزانی په پښتو ژبه
ده له زړه وکښو دا شعر
دا پښتو خبرې واوره
له دې ارزانی افغانه

غُندې شعرونه موندے شی دا هم هغه خصوصیت دے چې وروستو خوشحال بابا، رحمان بابا او نورو شاعرانو خپل کړے دے. خوشحال بابا

وائی:

پـارسـی شـعـر مې هـم زده سلـیقه لـرم دَ دواړو
پښتو شعر مې خوښ کړه هر څوک خپل ګڼی ښاغلی

او دَ رحمان بابا شعر دے:

چې کشور دَ افغانانو معطر شی
دَ هر بیت مصرعه مې زلفې دَ خوبان کړې

حمزه شنوارے وائی:

وائی اغیار چې دَ دوزخ ژبه ده
زۀ به جنت ته دَ پښتو سره ځم

دَ موضوع نه علاوه ارزانی فارم کښې هم یوه ورثه پرېښې ده چې تر اوسه پرې پښتانۀ شاعران تجربې کوی. دَ ارزانی دیوان لا چاپ شوے خو نۀ دے خو چې کومې نمونې ئې له مختلفو ذریعو نه مونږ ته رارسېدلے دی له هغو دا ښکاری چې دَ پښتو غزل ابتدا دَ اتو سپلابو دَ مصرعې نه شوې ده. بیا خوشحال بابا او رحمان بابا دا اتۀ سپلابی مصرعې دَ خپلو قصیدو دپاره استعمال کړې او اکثر ئې له اتو سپلابونو نه اووۀ سپلابه کړی دی. دَ خوشحال بابا او رحمان بابا پۀ پیروی کښې نورو ډېرو شاعرانو هم دا فارم خوښ کړے دے او اګر چې دَ مرزا پۀ دیوان کښې دَ څوارلسو او پنځلسو سپلابونو مصرعې هم شته خو له دې انکار نۀ شی کېدے چې دا هم پښتو ته دَ ارزانی بخښنه ده.

(درې میاشتنی کتابی سلسله مرکه مردان)

علی خان

دَ علی خان په باره کښې مونږ سره ډېر کم معلومات دی. له ټولو نه اول خو دَ هغه دَ نامې مسئله ده. فاضل ملګری پروفېسر تقویم الحق کاکاخېل دَ علی خان دَ دیوان په مقدمه کښې دا شعر راوړے دے:

زړه به ستا غلبېل کېده علی احمده
چې مدام دې تېرو غشو ته سپر دے

او دَ دې شعر په بنیاد ئې دا دعویٰ کړې ده چې دَ علی خان اصل نوم علی احمد خان وه. له بده مرغه دَ علی خان دا شعر نه دَ سید محمد تقویم الحق کاکاخېل صاحب په مرتب کړی دیوان کښې شته او نه ئې هغه دیوان کښې چې قاضی عبدالسلام صاحب زیارتی له دوئ نه مخکښې په ۱۳۵۸ هجری قمری (دیارلس سوه اته پنځوس هجری قمری) کښې چاپ کړے وه. بیا له دې شعره دا نه ثابتیږی چې دَ علی خان اصل نوم علی احمد خان وه. زیات نه زیات ترې دا ثابتیږی چې دَ علی خان نامه علی احمد وه.

اوس دا حقیقت صرف دَ سید تقویم الحق کاکاخېل نژدې دوستانو ته معلومه دے چې کوم دیوان سره دَ دوئ مقدمه چاپ شوې وه هغه هم هغه دیوان دے چې قاضی عبدالسلام زیارتی صاحب چاپ کړے وه او دَ دوئ خپله مقدمه دَ قاضی صاحب په متن مبنی نه وه

بلکې په هغه قلمی نسخې مبنی وه چې دَ دوئ دَ خاندان په کتب خانه کښې وه او دا بره ذکر شوې مقطع دَ سید تقویم الحق کاکاخېل دَ خاندانی کتب خانې نسخې نه نقل شوې ده. دَ دې یوې قلمی نسخې نه علاوه تقویم الحق کاکاخېل صاحب په خپله دیباچه کښې دَ دیوان دَ مختلفو قلمی نسخو دَ راجمع کولو ذکر هم کوی خو له بده مرغه ئې دَ دغو قلمی نسخو هیڅ تفصیل نه دے بیان کړے حالانکې دا ډېره زیاته ضروری وه او خاص طور سره په داسې صورت کښې چې برطانوی، هندی، پاکستانی او افغانی کتب خانو کښې دَ علی خان دَ یوې قلمی نسخې ذکر هم نشته. دَ قاضی عبدالسلام زیارتی دَ چاپ نسخې نه مخکښې ما دَ قاضی محمد یوسف فاروقی دَ یو یادداشت نه دا اندازه لګولې وه چې دَ علی خان وړومبی قلمی نسخه هغوی سره وه خو هغوی چې کاتب له دَ لیکلو دپاره ورکړه نو له هغه نه چا پټه کړه. دَ سید تقویم الحق کاکاخېل خاندانی قلمی نسخه هم اوس ورکه ده لېکن دا مقطع دَ پښتو اکېډیمی دَ زړو شاعرانو یوه خطی مجموعه کښې سره دَ غزله شته چې زما حافظه که غلطی نه کوی نو مطلع ئې دا ده:

نن زما په زړه ډېره دَ غم لښکر دے

تمامی وجود مې لاندې سراسر دے

دَ علی خان دَ دیوان له چاپ کېدو نه پس شاید چې حبیبی مرحوم په اول ځل "پښتانه شعراء لومړی ټوک" کښې دے نه یواځې خټک وګڼلو بلکې بغېر دَ څه ثبوته ئې ورته دَ کاظم خان شېدا ورور هم ووئیل. په دې مسئله تر ډېره وخته بحث کېدلو چې دغه بحث

کښې مرحوم دوست محمد خان کامل یو خوا او صدیق الله ربښتین او سرفراز خان خټک مرحوم له بله خوا سره دَ خپلو خپلو ملګریو حصه واخسته. خو هر کله چې دَ قمبر علی خان نمسیو دَ خپل نیکه مکمل دیوان چاپ کړو نو دَ قمبر علی خان له یوې مقطعې نه ثابته شوه چې دهٔ خپل هم عصر "مهمنزے" ګڼلو ځکه نو اوس خو دا بحث ختم شو او دا ثابته شوه چې علی خان مهمنزے وهٔ او دَ هشنغر وهٔ. دې نتیجې ته مرحوم کامل مومند مخکښې هم رسېدلے وهٔ دوئ پخپله تحقیقی مقاله کښې دا وئیلی وو (الفاظ زما دی) چې دَ دیوان دَ داخلی شهادت نه دا ثابتیږی چې علی خان دَ هشنغر وهٔ او چونکې دَ هشنغر ابادی پهٔ مهمن زیو مشتمله ده نو تر څو چې بل شان ثابته نهٔ شی علی خان به مهمن زے ګڼو.

علی خان هشنغر کښې دَ کوم ځائې وهٔ دَ دې هیڅ پته نهٔ لګی. دَ هغهٔ لهٔ دیوانه صرف دا ښکاری چې هغه دَ جیندی نَ غارې اوسېدونکے وهٔ لکه چې وائی:

نهٔ پوهېږم زهٔ دَ چا پهٔ زړهٔ ځکه غلاوهٔ شم
څنبلے مې ساده صافې اُبهٔ دی دَ جیندی

اوس دَ جیندی پهٔ غاړه دومره کلی او بانډې ابادې دی چې تر څو یقینی طور ثابته نهٔ شی دا دعویٰ څوک نهٔ شی کولے چې علی خان دَ کوم کلی وهٔ او کهٔ داسې دعویٰ چا وکړه نو هم به هغه پهٔ تش اټکل مبنی وی.

هم دغسې دَ علی خان دَ پېدائش دَ کال پهٔ باره کښې دَ هغهٔ لهٔ دیوانه هیڅ ثبوت پهٔ لاس نهٔ راځی او هر چا چې داسې دعویٰ کړې

هم ده نو محض ئې له اندازې او اټکل نه کار اخستے دے او داسې قیاسونه کله کله ډېر ګمراه کن ثابتیږی. دَ علی خان یو شعر دے:

سن دَ هجر غر وه سر دَ کاہی ترې کمتر وه

ورځ وه دیارلسمه دَ ذی الحجې په تحریر کښې

دې نه دَ قاضی عبدالسلام زیارتی نه واخله تر حبیبی صاحب پورې او بیا له هغه نه تر سید تقویم الحق کاکاخېل صاحب پورې عالمانو دا استنباط کولو چې دا دَ دیارلسمې ذی الحجې ۱۱۸۰ (یولس سوه اتیا هجری قمری) دَ څه واقعې په باره کښې وئیلے شوے شعر دے. حتیٰ چې دَ افغان عالمانو دپاره خو دا کال (۱۱۸۰ھ) زمونږ دَ ادبی تاریخ یوه پېمانه جوړه شوې ده او هر تاریخی قیاس به دَ یولس سوه اتیا پورې یا له دغه مخکښې یا وروستو پورې رسولے شو.

دَ محمدی صاحبزاده په سلسله کښې دَ تحقیق په دوران کښې دا ثابته شوه چې دې شعر کښې بیان شوے کال یولس سوه اتیا ۱۱۸۰ھ نه بلکې دولس سوه شل ۱۲۲۰ھ دے. یعنې دَ "غر" (دولس سوه) کال دَ واقعې نه دَ کاہی دَ سر (ک یعنې شل) کم دے. چونکې دَ محمدی صاحبزاده دَ وفات کال هم دا دے نو ۱۱۸۰ھ په مقابلهٔ کښې دې نوې تجزیې زاړه قیاسونه ګمراه کن ثابت کړه او سید محمد تقویم الحق کاکاخېل دَ نوی ایډیشن په "یو دوه خبرې" کښې ډېره په سپینه دا ذکر کړے دے او دا توجیه ئې قابل ذکر ګڼلې ده.

دَ علی خان دَ تعلیم او تربیت په باره کښې له دیوانه دا پته لګی چې علی خان ټولو متداوله علومو کښې مهارت لرلو څنې زړو شاعرانو چې دَ علی خان ذکر کړے دے نو ورته اخون زاده علی خان ئې

وئیلي ذي او له دې نه دا ثابتیږي چې علي خان په یوه عالمانه کورنۍ کښې پیدا شوے وه.

دَ علي خان دیوان دَ حروف تهجي دَ نوي ترتیب په لحاظ نه دے مرتب شوے. ځکه نو پکار وه چې پروفیسر تقویم الحق کاکاخېل صاحب سره څومره قلمي نسخې وې دَ هغو په بنیاد ئې دَ حروف تهجي په لحاظ بیا له سره مرتب کړے وے او دا ټولې نسخې ئې خپلو کښې مقابله کړے وے خو له بده مرغه داسې ونه شو او اوس دَ دې نمبرې ډېر کم امید کېدے شي چې دا ټولې نسخې بیا راپیدا شي او بیا ئې خپلو کښې مقابله وشي. ما دَ دریو نسخو سره دَ دیوان مقابله کړې ده او دَ تقویم صاحب دَ نسخې په امید مې کار اټال کړے دے.

علي خان دَ دوه معاصرو لیکونکیو نه دَ استفادې اعتراف کوي یو ځائې وائي:

زه پېرو دَ محمدي یم هم تابع دَ صاف جامي یم
په دا دواړو پسې ما ده ځـکه کـړې اقتدا دا

دې شعر کښې علي خان محمدي صاحبزاده خپل رهنما مني او دَ جامي ذکر ځکه کوي چې دَ هغه دَ شعرونو ئې پښتو کښې ترجمه کړې ده. وائي:

علي خان چې په پښتو کړه دَ جامي صاحب بېتونه
ګویا ښــکلیو جامې وښکې نـوې اغُندي زېبا دا

بل ځائې وائي:

دا هغه قسمه غزل دے چې "صاحب" وې
لـــه خـــاطره مې ارام او فـــراغت لاړ

دَ علی خان دَ دې "صاحب" په باره کښې له ټولو نه اول ما په "پټه خزانه فی المیزان" کښې دا انکشاف کړے دے چې دا "بیاض ګدون" دے چې دیوان ئې اوس اوس چاپ شوے دے او په دغه زمکه کښې غزل لری.

دَ علی خان شاعری له صنائعو بدائعو نه ډکه ده او اګر چې ټول دیوان ئې ۱٤٥ مخه دے اکثره حصه ئې دَ سید تقویم الحق کاکاخېل شرحې نیولې ده لېکن دَ دې باوجود هم پښتو کښې یو انفرادی مقام لری. دَ ده یو څو شعرونه پېش کوم:

چې خورې زلفې زایادې کړم دَ ترکو
جمع زړه هغه ساعت شی خور له ما
دَ رقیب په نغوته ښه خوی دَ یار بد شه
عاقبت په کړه پښه شی سم پېزار کج
حکیمان مې څکه وینو ته روح وائی
درست په وینو دے لړلے زما روح
دَ عاشق زړه چې خوښ کړے غنم رنګ وه
ورپسې لکه دانه دَ غنم وچاؤد
دَ خُتن تُرکې دې ژر راځی سلام له
نن دَ تخت لائقه تُرکه باګرامی ده
پلار مې دَ غنم مینې راووېست له جنته
زه لا طمع دار له غنم رنګو دَ وفا یم
دَ یارانو دَ هجران له جور و جرمه
یوه سترګه مې باړه شوه بله کُرمه

دَ کوځې ګټې به دې پرې نه ږدم رقیب ته
اپریدے شوم و مغل ته خبر نیسم

دَ علی خان دې وړوکی غُندې دیوان کښې صرف غزلونه نه دی بلکې قصیدې، نظمونه، مخمس، قطعې او رباعیات هم شته او که مکمل دیوان ئې پیدا شو نو شاید چې دَ ده دَ شاعرئ ډېر پټ کُنجونه او ګنجونه راښکاره شی. هم دغه څه مونږ دَ هغه دَ نورو لیکونو متعلق هم وئیلے شو. په دیوان کښې دَ شاعرئ په دفاع کښې له یو مسلسل غزل نه چې ابتدا ئې داسې کیږی:

عالمان شعر په څه ګنې ممنوع
ډېر ابیات له آنحضرته دی مسموع

دا اندازه بې بنیاده نه ده چې که علی خان نثر لیکلے وی نو تنقیدی مضامین به ئې خامخا له قلمه وتلی وی.

پښتو ته دَ خوشحال بخښنې

خوشحال بابا چې په پښتو لیک شروع کولو نو دا هغه وړخې وې چې په خپله دَ خوشحال بابا دَ اعتراف مطابق "پښتو لا هغسې بکره پرته وه". دَ نثر حال ئې دا وه چې دَ پښتو څه مستند لیک دود نه وه او نه چا دَ لیک اسلوب لرلو. دَ پښتو نثرې کوششونه صرف په مذهبي بحث و مباحثې پورې محدود وو. پیر روښان دَ خپلې وینا مطابق خپل خیرالبیان دَ سورت رحمان په رنګ کښې دَ لیکلو کوشش څه وکړو چې پښتو ته ئې یو اسلوب ور وبخښلو او تر اوسه زمونږ نقادان دا رائې لرې چې دَ پیر روښان مسجع او مقفیٰ عبارت دَ پښتو اولنے نثرې سبک دے حالانکې لکه څنګه چې وویلې شو دا دَ پیر روښان ذاتي اسلوب نه بلکې لکه څنګه چې هغه وائي دَ سورت رحمٰن په طرز کښې دَ لیکلو کوشش وه او لکه څنګه چې سورت رحمٰن دَ "فبایٔ آلآء ربکما تکذبٰن" تکرار او په یو خاص ترتیب واړه واړه ایاتونه لیدلې کیږي دغسې دَ خیرالبیان اسلوب کښې هم دَ "په قرآن کښې دي عیان "او "پیغمبر ویلې دي علیه السلام" تکرار او وړې وړې موزونې فقرې راځائې شوي دي له دې نه په وروسته دَ پښتو نثر دَ اسلوب او سبک په حقله څه قطعي او حتمي شهادت نشته یا کم از کم خوشحال بابا ته ئې علم نه وه او ځکه نو خوشحال بابا مجبور شوے دے چې دَ پښتو ادب دغه حالت ته دَ یوې داسې پیغلې سره

تشبیه ورکړی چې چا ئې پلو لہ مخه نہ وی اخستے دا خو دَ نثر حال وہ. دَ نظم پہ حصه کښې معنوی طور سره دَ دې نه هم بد حال وہ. پہ دې حقله خوشحال بابا وائی:

یو پہ حال او پہ ماضی کښې هسې نہ وہ
چې ښکاره ئې دَ خبرو راته خوند کړ
بندوبست دَ پښتو شعر ما پیدا کړ
ګنہ شعر دَ پښتو وہ غېر سال
نہ ئې وزن نہ تقطیع نہ ئې عروض وو
دوه مصراع ئې دَ خفیف بحر دوه طال
د غزل نہ ئې مطلع نہ ئې مقطع وه
نہ صفت نہ ئې تشبیه نہ ئې مثال
پښتو ژبه مشکله دَ دې بحر موندہ نہ شی
هم ما لره یو څو بحره پہ ډېر منښود راغلی

او قریب قریب هم دغه شکایت کاظم خان شېدا پہ خپل دور کښې دَ پښتو دَ کم مایګی پہ نسبت کړے دے.

خوشحال بابا پہ داسې وخت کښې دَ پښتو ادب عَلم بلند کړو. دې ضمن کښې دَ هغہ عظیمه بخښنه یواځې دَ هغہ نثری او شعری مجموعې نہ دی بلکې دَ پښتو دَ هغه رسم الخط وضع کول دی چې پوهاند صدیق الله رښتین ورته دَ خټکو دَ کورنۍ لیک دود وائی. او چې خصوصیت ئې دا دے چې دَ پښتو دَ هر درونډ توری دَ پاسه پکښې وړوکے همزه لیکلے کیږی او چې دَ خېرالبیان دَ الهامی لیک دود او دَ موجوده رسم الخط تر مینځه دَ برزخ کار کوی. پہ دې حقله

زما گران او فاضل دوست ښاغلی سرفراز خان عقاب خټک دَ کوئټې دَ "ظفر الاسلام" په یوه پرچه کښې ښه درنه او دقیقه مقاله لیکلې ده چې زه ئې محض په حواله اکتفا کوم. دَ لیک دود نه پس پښتو ته دَ خوشحال بابا دوېمه لویه بخښنه دَ هغه دَ مشکل پسندئ دَ رجحان په نتیجه کښې په بحرونو دَ تجربې کوشش دے.

د خوشحال بابا نه وړاندې او دَ پټې خزانې دَ معلومېدو نه اول دَ پښتو اکثره بلکې ټوله شعری سرمایه دَ اووه سپلابیزو او ډېره کمه دَ لس سپلابیزو مصرعو دَ شعرونو نه جوړه وه. خوشحال بابا دوه نوی وزنونه دَ پنځلس سپلابیزو او څوارلس سپلابیزو مصرعو په شکل کښې منځ ته راوستل او شاید چې هم دا هغه بحرونه دی چې خوشحال بابا ورته په دې شعر کښې اشاره کړې ده:

پښتو ژبه مشکله دَ دې بحر موندځ نه شی

هم ما لره یو څو بحره په ډېر مښود راغلی

د دې دواړو بحرونو په حقله زما ذاتی خیال دا دے چې خوشحال بابا ته دَ دې تحریک دَ پښتو دَ چاربېتو دَ بحر نه شوے دے چې دَ پښتو بحرونو خزانې دی او چې په لږ کوشش ترې نه بېشماره بحرونه وضع کېدے شی. په هر رنګ چې وی ولې دَ پښتو غزل او قصیدې دپاره دَ چاربېتو دَ بحرونو اختیارول هم دَ خوشحال بابا دَ تنوع پسندئ ثبوت دے او دَ هغه دَ طبیعت دا خاصیت مونږ دَ هغه درېمې بخښنې ته رارسوی چې خوشحال بابا پښتو ادب ته کړے ده.

دَ خوشحال بابا نه وړاندې دَ پښتو شعر دَ فولکلوری اصنافو نه بغېر محض تر غزله محدود وه چې تر اوسه زمونږ په سیمه دَ

رباعۍ په نوم مشهور دے او که چرې دې غزل نما څيز کښې به دَ بيان انداز کښې خارجيت پېدا شو نو قصيده به ئې ورته وئيله او بس. خوشحال بابا دَ خپل وخت دَ ترقي يافته فارسۍ ډېر اصناف په پښتو کښې رانئوېستل او په دې طريقه پښتو دَ رباعۍ، مربع، مخمس، مسدس، ترکيب بند، ترجيع بند او قطعاتو سره اشنا شوه.

هم دغه وجه ده چې دَ پښتو شعرى مېدان ارت او وسيع شو او ژبه دَ غزل دَ تنګنائۍ نه دَ نورو اصنافو ژور سمندر ته راووتله او دَ ترقۍ امکانات ئې زيات شول او دَ خوشحال بابا نه وروسته نورو شاعرانو بيا دغه اصنافو کښې ډېرې قيمتى تجربې وکړې. دَ شعر پيکر او ماهيت کښې دَ دې قيمتى بخښنو نه علاوه خوشحال بابا دَ شعر په لړمون کښې هم دَ رواياتو لار پرېښودله او شعر ئې هغو موضوعاتو سره اشنا کړو چې تر دغه وخته پرې چا فکر نه وه کړے. شعر دَ سياست دَ مقصد دپاره شعورى طور سره پکارول او دې لړ کښې ده ته دَ تورې درجه ورکول شايد چې دَ انسان په معلوم تاريخ کښې دَ خوشحال بابا نه مخکښې چا نه وو کړى. ما چې کله دَ خوشحال بابا دا شعر ولُست چې :

زه ئې چا لره وهم قدر ئې چا زده

په اور وسېزه دا تورې قلمونه

نو ماته دَ دې شعر نه دا نظريه روښانه شوه چې خوشحال بابا توره او قلم دَ يو مقصد دپاره راوستى دى او هر کله چې دَ هغه دَ تورې په حقله دَ يو خاص مقصد په ضمن کښې هېڅوک هم شک نه کوى څکه نو په ډاډه زړه دا ويلى شو چې خوشحال بابا په علمى ادبى تاريخ

کښې هغه وړومبنۍ فنکار دے چې ادب او فن ئې دَ يو مقصد دپاره نه صرف استعمال کړی دی بلکې په وړومبنی ځل ئې دَ مقصدی ادب مفکوره هم منځ ته راوستې ده. په دې ضمن کښې دَ خوشحال بابا دَ اوليت او نبوغ يو اضافی دليل دا هم دے چې دَ دنيا په ادب کښې دَ مقصد او نه مقصد بحث هغو دَ اتلسمې صدۍ نه پس راننوتے دے.

دَ "زه ئې چا لره وهم قدر ئې چا زده" مصرعه دا هم راجوتوی چې خوشحال بابا شعوری طور سره ادب نه دَ اولس او قوم دَ مفادو کار اخستل غواړی او محض دَ يوې خيالی مفکورې يا فلسفې دپاره ئې استعمالول نه غواړی. ځکه چې دَ "چا" ضمير شخصی دَ انسانانو دپاره استعمال شوے دے دا يو ځل بيا دا خبره ثابتوی چې خوشحال بابا خپل قلم هم دغسې دَ هغو انسانانو دَ فائدې دپاره وقف کړے وه دَ چا دپاره چې ده ټول عمر تورې وهلې ځکه نو زما په خيال په درست عالم کښې پښتو هغه اولنۍ ژبه ده چې دَ خوشحال بابا له برکته په انسانی تاريخ کښې په اول ځل دَ مقصدی ادب دَ آلې په طور استعمال شوې ده. دَ دې نظرياتی بخښنې سره سره خوشحال بابا پښتو شعر ته يو قومی کردار هم ورکړو.

دَ خوشحال بابا نه مخکښې او دَ هغه نه وروسته هم بلکې تر اوسه پورې زمونږ دَ اکثرو شاعرانو موضوعات داسې دی چې هغه دَ ترجمې په وخت قومی تشخص وبائلی دَ مثال په طور که دَ ميرزا خان انصاری غزل مونږ په فارسۍ کښې ترجمه کړو نو هېڅوک دا نه شی وئيلے چې دا شعر کوم پښتون شاعر وئيلے دے لېکن خوشحال بابا خپل شعر حتیٰ چې دَ غزل شعر ته هم يو داسې شخصيت ورکړو چې دَ

هغه پېژندګلو اسانه شوه او هر چا ته دَ ورایه هم دا معلومېږی چې دا شعر محض او محض یو پښتون وئیلے شی. دَ مثال په طور بهٔ دَ خوشحال بابا دا شعر واخلو:

په بل ځائې مې پېرزو نه ئې د یار غمه

ته زما دَ زړه دَ مات کودی رېحان ئې

دَ دې شعر دَ اورېدو او لُستو سره سم هر یوه اورېدونکی او لُستونکی ته دَ پښتونخوا دَ کلیو دا روایت ذهن ته راشی چې دَ هغې مطابق دَ خاورو دَ لوښیو دَ ماتېدو نه پس دا په ظاهره بې کاره کودی دَ ګلونو دَ کرلو دپاره پکارېږی. دا صرف دَ پښتنو دود دے ځکه نو دَ دې دود دَ ذکر سره سم دا ثابته شی چې دَ شعر ویونکے پښتون دے.

خوشحال بابا خپل شعر کښې یواځې دَ پښتون قومی تشخص نه ظاهروی بلکې دَ خپل ذاتی شخصیت نقشونه هم خپل شعر کښې څرګندوی دا دَ هغه دَ رومانټسېزم یعنې رومانیت یو لازمی خصوصیت دے چې یورپ ته په نولسمه صدی کښې معرفی شوے وه. دَ خوشحال بابا دَ غزل دې شعر ته توجه وکړئ:

مرګ لره ئې واړه دَ ډیلی لښکرې راغلې

ته لا دَ خوشحال په مرګ خان روغ نه ګڼې ننګ کړې

دا شعر سم دَ لاسه قاری او اورېدونکے په دې مطمئن کوی چې دَ دې لیکونکے دَ خوشحال بابا نه بغېر بل هېڅوک نه شی کېدے ځکه چې دا شعر دَ خوشحال بابا دَ ذاتی تجربې او واردارتو اظهار کوی. هم دغسې دَ خوشحال بابا دَ یو دعائیه نظم دا شعر چې:

تر ایمان چې مې چاپېر دَ یقین کوټ دے
سلامت ئې وساته برج و باره

هر قاری قائل او قانع کړی چې داسې شعر صرف او صرف خوشحال بابا وئیلے شی. هم په دې ضمن کښې خوشحال بابا دَ پښتو شاعرئ سره یو بل احسان هم کړے دے. دَ خوشحال بابا دَ شاعرئ دَ لُستلو نه پس مونږ دې نتیجې ته رسو چې خوشحال بابا شاید په مشرق کښې وړومبے او تر ډېرې مودې یواځینے شاعر دے چې دَ حقیقت دَ معلومولو پنځه واړه ذریعې یعنې حواس خمسه ئې په شاعرئ کښې پکارولی دی. دَ دې نه مخکښې بلکې لا تر اوسه زمونږ شاعران داسې ښکاری چې صرف یو حس، او هغه دَ نظر حس لری. زمونږ دَ شاعرئ په اکثرو برخو کښې محبوب صرف دَ رنګونو دَ قفس په حېث ظاهر کړے شوے دے او شاعر خپل نور حواس بالکل بېکاره پرېښی دی. زمونږ دَ شاعرئ دَ اکثرې برخې دَ ژورې تجزیې نه پس دا معلومېږی چې زمونږ شاعران صرف سترګې لری او دَ نورو حواسو نه محروم دی. خوشحال بابا دا طلسم مات کړے دے او شاعری ئې دَ نظر بازئ دَ تنګې دائرې نه راوکښلې ده. دَ مختلفو حواسو دَ اطمینان په باره کښې دَ خوشحال بابا دا شعرونه وخیرئ:

د ذائقې حس:

چې په ښاخ ئې ډول ډول میوې ځانګی
لا به کله دَ وصال دَ ونې بر خورم -

د لامسې حس:

چې ئې ونيسم په غېږ کښې راته ګوری
لکه مست دَ مور په پيو کم کبلی

د شامې حس:

لخلخې دَ نوبهار په هر مشام ځی
ګلدستې ئې ټولوی پير و برنا هم

د سامعې حس:

د مرغونو دَ نوا له موجه ښوری
نه له باده ښورېدنه دَ اشجار شی

او داسې نور او داسې نور.

او هم په دې لړ کښې پښتو ته دَ مناظر فطرت دَ موضوعاتو ورکړه هم دَ خوشحال بابا اوليت دے. ځکه چې مناظر فطرت ټول دَ انسان پنځه حواسه راپاروِلی دی. دلته دَ پښتو دَ نورو شاعرانو او دَ خوشحال بابا تر منځه دَ بېلتون کرښه واضحه شی. دَ پښتو نور شاعران انسانی حسن ستائی چې هغه صرف دَ ليدلو څيز دے او صرف پرې دَ يو حس يعنې باصره يا زيات نه زيات دَ لامسې تسکين کيږی لېکن فطری حسن کښې دَ پنځو واړو حواسو دَ تسکين سامان دے او ځکه خوشحال بابا پښتو کښې په وړومبنی ځل دَ پنځو واړو حواسو دَ تسکين دپاره دَ فطرت مناظر دَ خپلې شاعرۍ موضوعات ګرزولی دی. دې ضمن کښې دَ آصف جاه دَ باغ په حقله دَ خوشحال بابا ټول نظم دَ مثال په طور دَ راوړو حق لری زه ئې دَ اختصار له کبله په تشه حواله اکتفا کوم.

د شعر نه پس دَ نثر په مېدان کښې هم خوشحال بابا په پښتو ډېر احسانونه لري. دَ خوشحال بابا نه اګاهو دَ تذکرة الاولیا دَ نثر شهرت اورو چې په خپلو ټولو تفصیلاتو او جزئیاتو کښې دَ خېرالبیان او دَ مخزن الاسلام دَ نثر په شان دے او دَ خېرالبیان او مخزن په حقله دَ خوشحال بابا رائې دا ده. دَ خېرالبیان په حقله وائی:

دَ روښان خېرالبیان ئې وه لیدلے
هغه هم مجهول بیان وه ناپسندلے

او دَ دروېزه مخزن داسې ستائی:

دروېزه چې بیان کړے خپل کتاب دے
نوم تې مخزن الاسرار کړے جناب دے
هر بیان ئې ناموزون مجهول بې رنګه
خالی پاتو له دانشه له فرهنګه
دروېزه نه مجتهد دے نه امام دے
دے هم خام تاسې هم خام مخزن هم خام دے

ما دَ دې مقالې په شروع کښې عرض کړے وه چې دَ خېر البیان "لیک شان" یعنې اسلوب دَ پیر روښان خپل اسلوب نه دے بلکې لکه څنګه چې پیر روښان په خپله اعتراف کوی دا مسجع او مقفیٰ لیک شان شعوری طور سره دَ سورت رحمٰن په تتبع کښې اختیار شوے دے ځکه نو دَ احتیاط تقاضا دا ده چې مونږ دې لیک شان ته دَ بایزید روښان لیک شان ونه وایو. دَ دروېزه له خوا په خپل مخزن کښې دَ دغه لیک شان پیروی هم دَ دې حتمی ثبوت نه دے چې دا لیک شان دَ هغو ورځو دَ پښتو مستند او مروج لیک شان وه.

ځکه چې اول خو لکه چې وويلی شو پيرروښان دَ خپل ليک شان دپاره دَ سورت رحمٰن دَ تقليد عذر راوړی او بله دا چې دَ ليکونکيو يو زوړ روايت دا وه چې دَ ځواب طلب کتاب يا رسالې ځواب به ئې تل هم دَ دغه کتاب په اسلوب کښې کولو. تر دې چې نوم به ئې هم ورسره دَ هغه ځواب طلب کتاب نوم سره نژدې نژدې کښيښودو. دَ برهان قاطع په ځواب کښې دَ ليکلی کتاب نوم قاطع برهان او بيا دَ جواب الجواب نوم قاطع القاطع ايښودل دَ هغه وخت دَ علماؤ په دې روايت ښه رڼا غورزوی.

هرکله چې دَ خيرالبيان او دَ خوشحال بابا دَ نثر تر مينځه دَ پښتو دَ څه نثری اثر پته نه لګی بلکې لا دَ سوات نامې دَ شعرونو نه داسې معلوميږی چې کم از کم سوات کښې دَ مخزن نثر منلے او قابل تقليد ګڼلے شو ځکه نو په محفوظه طريقه دا وئيلی شو چې دَ پښتو دَ نوی نثر بانی هم خوشحال بابا وه. دَ دې دعوې يو دليل دا هم دے چې که چرې په دغه دور کښې داسې څه نثری اثر وے چې دَ خوشحال بابا دَ نثر ورسره تعلق پيدا کيدے شوے نو خوشحال بابا به ئې په سوات نامه کښې ضرور دَ مخزن سره تقابلی ذکر کړے وے. حال دا دے چې خوشحال بابا دَ مخزن دَ مقبوليت يوه وجه پښتنو کښې جهالت او نتيجه دَ نورو کتابونو نايابی بيانوی. دَ خوشحال بابا دَ نثر دَ نمونو نه وړاندې دَ خيرالبيان او مخزن دَ نثر نمونې دَ ګرانو لُستونکيو دَ تقابلی مطالعې دپاره پيش کوم. دَ خيرالبيان دې عبارت ته خيال وکړئ:

"که څوک اس اسپې لری کال تېر شی تمام
څښتن ئې اختیار لری چې یو دینار دې ورکه دَ هر حېوان
یا دې بها کښې له دوه سوؤ درمو دې پنځه ورکی تمام"
اخوند دروېزه وائی :

"امام عمر نسفی وئیلی مبرهن دی. چې صوفیان دَ حق دوستان دی. چې دَ زړو په پاک کردن دی.
دوی پرېښې غېره مینه. اشنائی ده له خدایه
موافق دی له کتابه. اراسته دَ پاک رسول په ښه سنن دی."

دَ دې په مقابله کښې دَ خوشحال بابا دَ یو علمی کتاب دستارنامې دا عبارت وځیرئ :

"دَ دستار په حقیقت خبر شه چې دستار په سر کول دَ ښېوې او نمایې دپاره نه دی دستار دَ مرد شرم او عزت دے تمامی شرم دَ مرد پن دستار کښې دے."

دَ خوشحال بابا نثر نه صرف روان او شائسته دے بلکې دَ هغو ټولو تکلیفونو او تصنعاتو هم پاک دے چې څه خو دَ ما بعد الطبیعاتی اومافوق الفطری شوکت او دَ عامې ژبې نه دَ شعوری طور سره دَ لرې کېدو په وجه پېدا کیږی. دَ خوشحال بابا ذاتی ډائری چې اکثره حصه ئې افضل خان په خپل تاریخ مرصع کښې دَ بیاض په نوم عیناً نقل کوی دَ دې نه هم زیات شګفته نثر لری یوه نمونه ئې وګورئ:

"د اشرف خان ګوزار دَ نیزې لکه وه هسې په عظمت وکړ. کوز شو ولې پرې نه ووت عابد خان په نیزه وواهه خو چې پرې ووت هسې ئې توره وکښه ګوزار وته جوړ شو عابد خان تېر شو په هغه

محموتی پسې هغه ئې هم پرېوست عابد خان هم له اسه پرېووت هغه پرې راغے پاځېدو. ورسره غاړه غړې شو. په اُبو کښې ئې دَ هغه سر ومانړه. هم پاس په ډنډ کښې پرې ووت د ما نظر پرې وشو حېران شوم."

دا هم هغه شان نثر معلومېږی لکه چې منشی احمد جان، راحت زاخېلی صاحب او عیناً چې ماسټر عبدالکریم په دې دور کښې استعمال کړے دے. وړې وړې ځینې فقرې دَ عامې وېنا ژبه بې تکلفی او بې ساختګی دَ خوشحال بابا دَ دې نثر خصوصیات دی. او دا هم هغه خوئی دے چې زمونږ ننني نثر ځان کښې راځائې کړے دے او ځکه دَ تردید نه بغېر مونږ دا دعویٰ کولے شو چې دَ نثر دا سبک هم خوشحال بابا پښتو ته ورکړے دے. دَ نثر په ضمن کښې دا خبره هم دَ یادولو ده چې دَ خوشحال بابا نه وړاندې نثر صرف دَ مذهبی مباحثو دپاره استعمالیده. ځکه نو دَ نثر دائره تنګه وه. خوشحال بابا یو خوا دَ دستار نامې په لیکلو دا ثابته کړه چې پښتو نثر کښې دَ فکری او فلسفیانه مضامینو دَ ځائېدو توان هم شته او بله خوا ئې په خپل بیاض کښې دَ انشائیه او بیانیه نثر دَ لیکلو عملی مثالونه هم پېش کړل دا ئې ثابته کړه چې پښتو نثر کښې دَ هر قسم مضمون ځائېدے شی او دا دَ نثر مېدان کښې دَ خوشحال بابا دَ ټولو نه لوے خدمت دے. پښتو ژبې او ادب ته دَ خوشحال دَ بخښنو فهرست ډېر اوږد دے ځکه چې خوشحال بابا یواځې ادب پېدا نه کړو بلکې ادیبان ئې هم پېدا کړل او داسې ئې پښتو ادب ته دَ صدقه جاریه بخښنه وکړه.

دَ خوشحال بابا په کورنی کښې دَ هغه اووه شپېتو زامنو

کښې اشرف خان هجري، سکندر خان خټک، عبدالقادر خان خټک، صدر خان خټک، او ګوهر خان نامتو شاعران او نثر نګاران یادیږي بلکې دَ خوشحال بابا دَ یو شعر:

عطارد دې نور قلم دَ لاسه کیږدی
چې پهٔ دا خوبي بهرام انشا املا کړه

او دَ سکندر خان دَ دې شعر نه:

چې دَ دهٔ ئې تربیت کړو
سکه بابا نهٔ وهٔ هوښیار

دا معلومیږي چې بهرام خان هم دَ لیک دَ میدان سپاهی وهٔ هم دغسې دَ هغهٔ پهٔ دوه دېرشو لوښو کښې دَ یوې بی بی حلیمې ذکر دَ شعر ویونکې پهٔ حېثیت پهٔ "پټه خزانه" کښې هم شوے دے.

افضل خان خټک چې دَ خوشحال بابا نمسے هم وهٔ دَ پښتو ادبي دنیا کښې ښهٔ معروف ادبي شخصیت دے او اګر چې دَ تازه ترین تحقیق مطابق دَ کاظم خان شېدا او دَ خوشحال بابا تر منځه خانداني نسبت څهٔ مشکوک شوے دے بیا هم تر اوسه کاظم خان شېدا دَ خوشحال بابا کړوسے ګڼلے شي. او داسې دا خبره ثابتیږي چې دَ خوشحال بابا نه څلور پُشته پس هم پښتو ته دَ خوشحال بابا بخښنې جاري وے او نننی دور کښې اجمل خټک دا خبره یو ځل بیا روښانه کړه چې دَ خوشحال بابا پهٔ خپل نسب کښې پښتو ته دَ درنو بخښنو دا سلسله روانه ده او تر هغې به روانه وي تر څو چې دَ خوشحال بابا دا پېش ګوئي نهٔ وي پوره شوې.

چې په سرائې کښې به پیدا شی
پس له قرنه پوره سېر

لېکن چې دا هر څه وویلی شی نو دا خبره له ټولو نه زیاته اهمه ده چې دَ خوشحال بابا پښتو ته دَ ټولو نه لویه عطیه او بخښنه دَ ده هغه تلوسه ده چې دے ئې دَ پښتو دپاره لری او چې دے ئې په دې وئیلو مجبور کړے دے چې :

چا ئې پلو له جمال وا نه خست
پښتو لا هسې بکره پرته ده
چې په خپله افغانی ژبه نادان دی
په ترکی خبرې څه وایې افغان ته

او دا هم چې :

په یوه ژبه وئیل سره پښتو کړو
ولې هیڅ نه شُو له یو بل خبردار

او دَ خوشحال بابا دَ هم دې تلوسې نتیجه ده چې دَ پښتون هر نسل کښې لږ وی که ډېر داسې کسان ضرور پیدا کیږی چې هغوی دَ خوشحال بابا دَ دې تلوسې نه الهام اخلی او دغسې پښتو مخ په وړاندې روانه ده او انشاء الله روانه به وی.

تل دې وی پښتو. تل دې وی پښتون.

("توریالے پښتون" پښتو ټولنه کابل افغانستان ثور ۱۳۵۰ هش)

رحمان بابا ـ دَ هغهٔ رجائیت

دَ مشرقی شاعرانو دَ کلاسیکی برخې یو لوئې خصوصیت دا دے چې دوی دَ مغربی شاعرانو برعکس ژوند ته یوه واضحه او ښکاره رویه نهٔ لری. نو ځکه دَ دغه شاعرانو دَ ژوند پهٔ حقله نظریه یوه مستقله او اکثرو حالاتو کښې ترقی پسنده نهٔ وی. دَ دې غټه وجه دا ده چې دوی هیچرې خپله شاعری ژوند ته مخامخ کړې نهٔ ده. دا بیله خبره ده چې حالاتو دوی مجبور کړی دی او پهٔ زور ئې دَ دوی ذهن نه داسې تخلیقات برخېره کړی دی چې هغو کښې ژوند او دَ ژوند مسئلو ته واضحې اشارې دی. زما دَ عاجز خیال مطابق خوشحال بابا پهٔ پښتو کښې خو خواه مخواه او پهٔ ټول مشرقی ادب کښې غالباً وړومبے شاعر دے چې شاعری او ادب ئې ژوند ته لکه دَ خپل ځان پهٔ ښهٔ شان څېلمه کړی دی. دَ دهٔ نه مخکښې تر څو چې مونږ ته دَ خپل ادبی تاریخ علم دے او دَ دهٔ نه وروستو تر ډېرې مودې تر هغه وخته چې ادب کښې دَ مغربی ادب دَ اثر لاندې ساهو ادبی تحریک (د ساهو نه زما مطلب ژوند دے) نهٔ وهٔ شروع شوے ټولو ادیبانو او شاعرانو چې مونږ ته خپل څهٔ ادبی آثار پرېښی دی هغه ټول دَ ژوند پهٔ حقله نژدې نژدې خاموش دی.

دغه ټولو شاعرانو خپله شاعری یا خو وخت تېرے ګڼلو او یا ئې پرې دَ خپلو نفسیاتی کشالو Psychological Complications

علاج کولو. دا ټوله ډله له ژوند نه مړه وه. یا ئې ځان داسې ظاهرولو او لا دې ته دوی خپله ژبه کښې حقیقت هم وئیلو او وائی. دا دنیا، ژوند، ښکلا، ښائست او دوی سره متعلقه خبرې او مسئلې ورته مجاز او بې فائدې ښکارېدې او ښکاری. نو داسې حالاتو کښې دَ دوی دَ ژوند او شاعرۍ رجائی اړخ باندې څه لیکلی شو؟

څه ته چې مونږ رجائیت وایو هغه ادب کښې دَ هغه رجحان ملا مضبوطول دی کوم چې انسان ته دَ ژوند په لویه لاره دَ خپلې ستومانۍ دَ هېرولو او منزل ته دَ نزدیکت دپاره دَ قربانۍ احساس او نغوته ورکوی. او دغسې انسانی ذهن کښې دَ مخکښې تلو تلوسه پېدا کوی. ژوند ورته ښائسته کوی او دَ ژوند دَ ښائست او ښکلا په خاطر ورته دَ مصیبتونو او کشالو سره دَ مقابلې کولو سبق ورکوی. او دا ورته جوتوی چې دَ دې محنت او مشقت یقینی نتیجه خوشحالی او کامیابی ده. دا رجحان دَ ژوند په حقله دَ دې نظریې مخالفت کوی چې ګنی ژوند دَ یوې حادثې نوم دے او دَ انسان خوله او وینه دَ دې حادثې نه پېدا شوو نتیجو بدلولو کښې هیڅ حصه او برخه نه لری.

دَ رحمان بابا دَ شاعرۍ دَ مطالعې نه پس سړے په دې پوه شی چې رحمان بابا بنیادی طور سره دَ ژوند په حقله دغه وروستۍ نظریه لری. دې ژوند یو داسې شے ګڼی چې هغه کښې انسان او دَ انسان قوتونو ته هیڅ اختیار نشته نو ځکه دے عام طور دَ ژوند دَ ښکلا دپاره دَ جدوجهد دَ کامیابۍ یقین نه لری او دَ ژوند نقل نه کوی.

رحمان بابا زمونږ دَ سیاسی تاریخ په یو داسې دور کښې پېدا

شوے وه چې هغه زمونږ دَ سیاسی، معاشرتی او ذهنی انحطاط دور وه. دَ ایمل خان، خوشحال خان او دریا خان ګرم تحریک سوړ شوے وه او نتیجه ئې دَ پښتنو دَ منشا برخلاف راختلې وه. دې حالاتو کښې که رحمان بابا شعوری طور باندې نه نو غیر شعوری طور باندې خواه مخواه په دې اثر اخستو مجبور کړے وه. چې دَ قسمت بدلول دَ سړی په اختیار کښې نه دی. نو داسې انحطاطی دور کښې که رحمان بابا دَ مایوسۍ وېناګانې کړی وی نو ګرم نه دے. ځکه چې ادب دَ ژوند دَ تنقید، تطهیر او دَ تعمیر دَ وسلې پکارولو خو ډېره اوسنۍ خبره ده او یقیناً رحمان بابا هغه دور کښې ادب دَ دې مقصد دپاره نه شو استعمالولے.

دَ رحمان بابا دَ ژوند په حقله رائې او دَ مایوسۍ خوا ته رجحان دَ یو بل څیز نه هم متاثره ښکاری او هغه دَ ایران دَ انحطاط پذیر ادب تتبع ده. ایران نه دَ مغلو په ذریعه او له دوی نه پس چې کوم ادب هند او دَ پښتونخوا دې حصې ته درآمد کړے شوے وه هغه دَ هغه شکست خوړلی ذهنیت آئینه وه کوم چې ایرانی معاشرې په هغه ورځو شپو کښې پیدا کړی وو. دَ عمل او جدوجهد په ځائې چې عربو ایران ته ورکړی وو دَ قلارې، ساکن او یخ ژوند دَ ایرانیانو ذهنونه ځان ته رااړولی وو. او دوی ئې خپلو تخلیقاتو کښې په اظهار مجبور وو. نو دَ دغه ادب په تتبع کښې چې کوم ادب دلته پیدا کېدو هغه به خواه مخواه دَ یاس او نا امیدۍ مرقع وه او ځکه چې فارسی دَ هغه دور دَ اشرافیې ژبه وه. نو دَ رحمان بابا متاثره کېدل ترې لازمی وو او دَ فارسۍ دَ دغه دور نه دَ متاثر کېدو نتیجه وه چې رحمان بابا داسې

وېناګانې کولې چې پکښې دَ حرکت په ځائې دَ جمود طرف ته غالب رجحان وه.

خو سره دَ دې هر څه رحمان بابا پښتون وه او پښتون په اله اسانه او په خوښه هیچرې دَ ناستې او ارام طلبۍ ژوند ته هرکلے نه دے وئیلے. دا دَ پښتون نسلي خصوصیت دے چې هغه دَ بزم نه زیات په رزم مئین دے او دَ سکون نه ورته حرکت ډېر غوره ښکاری. نو ځکه رحمان بابا کله نا کله داسې شعرونه هم وئیلی دی چې دَ رجائیت شوخ رنګ لری. دَ رحمان بابا دا شعر :

ښه ده ښه ده دا دنیا

چې توښه ده دَ عقبا

پخپله دا ثابتوی چې رحمان بابا دَ ژوند په حقله کله نا کله داسې سوچ هم کوی چې ژوند که په ښه طریقه وکړے شی نو دَ دائمی خوشحالۍ سبب ګرځېدے شی او داسې نابوده شے نه دے لکه چې دوی دَ خپلې شاعرۍ په اکثره حصه کښې پېش کړے دے.

دَ ښه ژوند تېرولو په لاره کښې دَ تکلیفاتو او مصائبو دَ مقابلې اوړدې لاره کښې دَ زړه نه بائللو تلقین داسې کوی:

که ئې سر لکه منصور ځندې په دار شی

دغه دار دے و رحمٰن وته معراج

په هر زړه چې دَ خپل یار دَ غم غبار دے

دغه ابر دَ رحمت دے غبار نه دے

ستا وصال دَ سر پرېکړو دے دلبره

ژوندی نه مومی جنت بې مردګانو

دې شعرونو کښې رحمان بابا د خپلې عمومي لارې نه بالکل یو خوا ته شوے دے هغه د مقصد په لاره کښې مشقت او تکلیف نه غاړه نه غړوي او هغه تکلیف چې د مقصد په خاطر وزغملے شي راحت بولي ځکه چې د محنت نتیجه تل خوشحالي وي او دلته د هغه پښتون ذهنیت صفا ځلیږي. یو بل ځائې کښې وائي:

په تلخۍ د میو مست خلق مې خوښ دي

هغه خار چې بوئي د ګل لرې خار نه دے

دا د رحمان بابا د کلام اوفکر څومره لوئے تضاد دے چې یو خوا کښې هغه:

که تمامه دنیا واړه سره یو شي

نور به نه که خپل قسمت په دا دنیا

او

چې ئې درست صورت غلبیل شي په ازغیو

وخوړ مه شه د هغې ونې ثمر

وائي او داسې د ټول جدوجهد او عمل په نتیجو شک او محنت نه یواځې ظاهروي نو بل خوا عمل یواځې د انسان د قسمت ذمه وار ګڼي او د مقصد په لاره کښې مشقت او محنت سره څومره تړون او مینه څرګندوي:

فال به څه ګورې رحمانه

خپل افعال د سړي فال شي

که په ډیر مشقت لاس لره خدائې راوست

زه به وایم چې اسان مې دے موندلے

او دَ دغې روېې نه لږ کړلېچ دَ رحمان بابا دَ پښتونولۍ وجه ده.

دَ خپل ماحول او دَ هغه اجزاؤ طرف ته دَ صحيح او مناسب عمل نه اختيارولو په سبب ډېر سودمند څيزونه هم بې سوده او ناکاره شي او په صحيح عمل، هنر په ظاهره نقصانی څيزونه هم سودمند او کارآمد شي. دا يو حقيقت دے چې رحمان بابا ئې داسې څرګندوي:

بې هنرو لره قند زهر قاتل دے

قند ئې وګڼه که زهر په هنر خورې

او دې شعر کښې دَ بلند نظرۍ او علو همت څومره اوچت سبق دے:

دَ طلب له کوتاهۍ ويره وکړه

که هر څو دې لار کوتاهه ده طالبه

خو دَ يو شاعر دَ نظريې په حقله دَ هغه دَ يو څو شعرونو نه استنباط کول دَ ښه تنقيد ليکونکی ښېوه نه ده اګر چې زه دا هم منم چې دَ وړاندې عرض کړی شوی شعرونو نه علاوه به نور هم داسې ډېر اشعار وی چې دَ رجائيت په حقله دَ مثال په طور پېش کېدے شی خو خبره بيا هلته راځی چې رحمان بابا داسې شعرونه شعوری طور سره نه وو ليکلی او دغه ټول شعرونه صرف او محض دَ هغه دَ پښتون ذهنيت او دَ پښتون دَ ملی خصوصيت نتيجه ده او بس.

اختلاق نامه

دَ ښاغلی همېش خلیل دَ "مقدمې، حاشیې او لټون" سره یو کتاب "اخلاق نامه" دَ پاکستان سټډی سنټر پېښور یونیورسټۍ له خوا شائع شوے دے. دَ دې کتاب په حقله دا دعویٰ شوې ده چې ګُندې دا دَ خوشحال بابا تحریر دے. ښاغلے همېش خلیل په خپله مقدمه کښې دَ دې دعوې په ثبوت کښې څه دلیل نه پېش کوی. دَ دې برعکس په دې وېنا خپله دعویٰ کمزورې کوی "(دې کتاب) دَ خان بابا دَ معلومو آثارو په فهرست کښې هم نوم نه درلود او نه ئې تر اوسه انکشاف شوے وه." ځکه چې په داسې صورت کښې خو دا لا زیاته ضروری وه چې هغه دلائل بیان شوے وو دَ کومو په بنا چې ښاغلے همېش خلیل دا کتاب خوشحال خان خټک ته منسوبوی.

له دې نه اګاهو چې دا ووئیلے او ثابته کړے شی چې دا کتاب دَ خوشحال بابا نه دے دا ضروری ګڼم چې هغه ټول داخلی مواد وخیرم دَ کومو په بنا چې دا اشتباه کېدے شی چې شاید "اخلاق نامه" دَ خوشحال بابا تصنیف دے او چې ښاغلی همېش ئې دَ ښکاره کولو تکلیف نه دے کړے.

زما په خیال دَ دې کتاب دَ تصنیف په حقله وړومبۍ غلط فهمی له دې حقیقت نه پېدا شوې ده چې دا کتاب دَ خوشحال بابا دَ یو بل کتاب "دستارنامه" په حاشیو لیکلے شوے دے. دَ قلمی کتابونو په حقله معلومات لرونکیو دپاره دا خبره هیڅ وزن نه لری ځکه چې

ډېر داسې کتابونه دَ اکېډيمۍ او دَ ارکائيوز په لائبرېرو کښې شته چې په متن کښې ئې يو مصنف دے او په حاشيه کښې بل. ډېر چاپ شوی کتابونه هم داسې شته چې په متن کښې ئې دَ يو ليکونکی تصنيف وی او په حاشيه ئې دَ بل کوم مصنف تحرير. ځکه نو محض په دې قياس چې "اخلاق نامه" دَ خوشحال بابا دَ کتاب "دستارنامه" په حاشيه ليکلے شوے دے دا حتمی دعویٰ نه شی کېدے چې په متن او حاشيه کښې ليکلی شوی کتابونه دَ يو ليکونکی دی او بيا خاص طور سره په داسې حال کښې چې "دستارنامه" کښې دَ "فتح علی خان" او "اخلاق نامه" کښې دَ فتح علی خان مرحوم" ذکر دے دا قياس هيڅ وزن نه لري.

دغه غلط فهمی دَ کتاب په ص ۷۳ له هغه نظمه پېدا کېږی چې عنوان ئې "حسب حال" دے. دې نظم کښې ليکونکے پښتون جاهل او خټک "لا په خوئ باطل" بلی. خپل پلار ته "بې سبقه خوانندہ" وائی او داسې يو التباس پېدا کوی چې ګُندې دا خيالات دَ خوشحال بابا دی. خو لکه چې څنګه به وروستو واضحه کړے شی دا نظم صرف دا ثابتوی چې دَ کتاب ليکونکے يو خټک دے او پلار ئې دَ خوشحال بابا دَ والد محترم غُندې علم دوست سړے وه.

دوېمه غلط فهمی هم دَ دې نظم دَ ص ۷۸ له هغو شعرونو راولاړيږی چې دَ کتاب ليکونکی پکښې دَ مرزا نه بغېر نور ټول پښتانه شاعران دغسې غندلی دی لکه چې خوشحال بابا ئې غندی. دې ځائې کښې متأسفانه بناغلی همېش دَ خوشحال بابا دا غېر متعلق شعرونه راوړی دی:

دَ مرزا دیوان مې ومانړه په ګوړی
مسخره مې ارزانی خوښکے زمند کړ
که دولت وه که واصل وه که دا نور وو
په خبرو مې دَ هر یوه ریشخند کړ

حالانکې دَ کتاب دَ لیکونکی دَ شعر (چې اړولے چاپ شوے دے) سره دَ خوشحال بابا دا شعر سمون خوری:

له چا نه په پښتو کښې ما میزان لیدلے نه دے
میرزا په دا زبان که وئیل کړی دی تللی

دَ اخلاقنامې دا متعلقه شعر داسې پکار وه:

په خبره یو مرزا دے (؟)
په هر حال که څه اشنا دے

هم دغسې دې سره پیوست شعر هم داسې پکار وه:

خبردار په دا هیڅ نه دی
دَ جهالو په یانه دی

(برسبیل تذکره ښاغلی همېش دَ "یانه" معنیٰ "جانب، طرف" لیکلې ده چې غلطه ده دا لفظ "یون" دے چې دَ "په" دَ حرف له کبله "یانه" شوے ـے. او معنیٰ ئې تلل او مجازاً لاره ده).

دَ اخلاقنامې دَ نظم دَ دې حصې نه هم قطعی طور سره دا نه ثابتیږی چې دا دَ خوشحال بابا کلام دے ځکه چې مرزا سره دا بې تکلفی اکثرو پښتنو شاعرانو کړې ده لکه چې رحمان بابا وائی:

دَ مرزا دَ ارزانی دعوې به پرې کا
قدر دان دَ شاعرانو رحمان راغے

دَ دېو غلط فهميو له کبله لکه چې مخکښې به ئې دَ کتاب دَ داخلی موادو نه ازاله وشی یو غېر محتاط لُستونکے خو غلطې نتيجې ته رسېدے شی لېکن دا مشکل هیڅ یو محتاط لُستونکی ته نه شی راپېښېدے. دَ دېو غلط فهميو نه بغېر په کتاب کښې داسې هیڅ شهادت نشته چې دا کتاب پرې دَ خوشحال بابا تصنيف ثابت کړے شی.

دَ دېو غلط فهميو په مقابله کښې دَ کتاب داخلی شهادت زيات اعتبار لری چې پرې نه صرف دَ دېو غلط فهميو ازاله کېږی بلکې ځنې نور داسې حقائق هم ترې څرګندېږی چې له هغو دا نتيجه ډېره په اسانه راوتلے شی چې "اخلاقنامه" دَ خوشحال بابا تصنيف نه دے.

وړومبی خبره چې هر یو محتاط لُستونکی لره پرې غور کول پکار دی دا ده چې آیا دَ خوشحال بابا هغه ژوند چې مونږ ترې دَ خوشحال بابا دَ کلام او دَ تاريخ مرصع دَ مطالعې په نتيجه کښې خبر یُو هم هغسې دے لکه چې دَ "اخلاقنامه" مصنف ئې دَ خپل ځان په باره کښې وائی. دَ مثال په طور دَ "اخلاقنامه" مصنف دَ خپل ژوند دَ اولنی عهد په باره کښې چې څه لیکلی دی له هغه معلومېږی چې دَ کتاب دَ مصنف دَ پلار دا خواهش وه چې مصنف سبق ووائی علم حاصل کړی او دَ دې غرض دپاره ئې ده سره ډېر "شدت" کولو "تازيانې" ئې په ده سرې کړې او اخر دَ یو سړی په مشوره ئې هغه ته پرېښود. (دلته دَ کتاب بيان څه ناقص ښندې دے) چې په خپل همت او دعا ئې چاره وکړی. دا وخت دَ مصنف عمر لس کاله وه چې دے دَ

ګومبت په یوه جینۍ مئین شو او:

د استاد مهر دعا وَه

که دَ عشق دَ دړد عطا وه

که دَ پلار هغه جفا وه

چې ئې تل له ما غوغا وه

(بس څو) ورځې سواد خوان شوم

(پوه په راز) دَ هر دیوان شوم

یا مې شعر یا مې ښکار وه

چې مې زړه پرې ګرفتار وه

تاریخ مرصع دَ خوشحال بابا دَ ابتدائی ژوند دوه واقعې لیکلی دی لیکن له هغو دا نه څرګندیږی چې دَ خوشحال بابا والد محترم هغوی سره څه شدت کولو نه چرې پخپله خوشحال بابا دَ علم دَ تحصیل په لړ کښې دَ خپل پلار دَ خفګان ذکر کړے دے. دَ دې په مقابله کښې خوشحال بابا چې هر کله دَ خپل پلار ذکر کوی نو په ډېر احترام ئې نوم اخلی او دَ پلار دَ حکم په منلو فخر کوی لکه چې وائی:

چې دَ پلار په نصیحت نه کا ژغری

دَ هغه زویه دانه شه په مری

لکه مونږ دَ بابا زویه وو په نغته

اوس په دا دور له چا طمعه لرئ (ص. ۳۵٤)

دَ لسو کالو په عمر کښې دَ ګومبت په جینۍ دَ مئینېدو او دَ هغې په نتیجه کښې دَ "سواد خوان" کېدو تردید دَ خوشحال بابا له دې

شعره کیږی.

په شل کاله کښې دېګ زما د شعر په اور بار شه
په دا دور مې پوخ کړو چې شپېته کاله مې تللی

دا قصیده خوشحال بابا په ۱۰۸۱ھ کښې لیکلې ده. په دې حساب د هغه د شعر ابتدا ۱۰٤۲ھ یا ۱۰٤۳ھ کښې کیږی. چې د هغه عمر شل کاله وه نه چې لس کاله لکه چې د کتاب مصنف وائی.

د اخلاقنامې مصنف د سواد خوان کېدو نه پس شعر او ښکار سره د خپل شغف اظهار کوی. د دې په مقابله کښې د خوشحال بابا بیان دا دے:

یو ساعت به مې په درس شل مې په ښکار وو
کله ښکار پرېښوم د کسب د کمال

یعنې د عمر له ابتدا نه هغه په درس او ښکار مشغول وه دا وه چې ښکار به ئې شل ساعته کولو او درس به ئې یو ساعت. بیا وائی:

د جهان تحصیل به کل واړه زما وه
که اخته نه وے د ښکار په اشتغال

(کلیات ص. ۵٤۰)

له دې شعره دا ښه واضحه کیږی چې خوشحال بابا د تحصیل علم په سلسله کښې صرف د ښکار شوق تکمیل ته فارغ نه کړو دا نه چې لکه د اخلاقنامې د مصنف د هغه علم سره شوق په دې وجه نه وه چې:

ذات په ذات چې څوک عامی وی
تل پکښې پرته خامی وی

یا

چې اولاد دَ خان ډېر وي

په هغه کښې هور جاګير وي

دَ خپل تحصيل علم په حقله دَ خوشحال بابا دا شعر دَ توجه وړ دے:

طبيعت مې عطائى نه دَ تحصيل دے

کـه خـبر يم دَ املا په استعمال

دَ وروستى مصرعې نه لګه چې څرګنديږى خوشحال بابا دَ املا په استعمال ښه خبر وه او دَ املا استعمال دَ عمر په ابتدا کښې زده کيږى. دا حقيقت چې دَ خوشحال بابا هغه شعر سره وځيرلے شى کوم کښې چې هغه دَ خپل شعر ابتدا دَ خپل عمر دَ شلم کال نه کوى نو دا ترې ثابتيږى چې هغه دَ زده کړې په عمر کښې دَ خپل پلار دپاره هيڅ مسئله نه وه پيدا کړے دغسې دَ خوشحال بابا او دَ اخلاقنامې دَ مصنف تر منځه فرق بالکل جوت شى.

دَ اخلاقنامې دَ مصنف دَ ژوند نور حال خو له کتابه نه څرګنديږى خو دومره ترې ضرور معلوميږى چې دَ هغه په خيال "ښکار افت دَ هر هنر دے" دَ دې په مقابله کښې هم په دغه نظم کښې چې درې شعرونه ترې رانقل شو خوشحال بابا وائى:

غانښ وتلى ږيره سپينه لا تر اوسه

باز په لاس ګرځم په غرونو په جبال

او له دې نه علاوه په "دستار نامه" کښې ښکار دَ هنر په حېثيت ستائى او دَ دستار دَ خاوند دپاره ئې ضرورى ګڼى.

دَ خوشحال بابا او دَ اخلاقنامې دَ مصنف تر منځه دَ عقيدې اختلاف هم ډېر اهميت لرى. دَ خپلې عقيدې په حقله خوشحال بابا

وائی:

پښت په پښت راغلے مسلمان محمدی یم
چـار دَ چـار يارانو سره واړه منم سمه
درست په دا پوهيږم چې څلور مذهبه حق دی
زه دَ حـنفي مـذهب دعویٰ لرم محکمه
(کلیات ص. ٥٦٠)

او

په سرو زرو کښې کمے دَ قدر نشته
صحابی دَ پيغمبر واړه سره زر دی
زه خوشحال خټک هغه سنی مذهب يم
چـې ياران رابـاندې واړه برابـر دی
(کلیات ص. ٣٥٥)

هم اصحاب ئې سکه ستوری دَ هدیٰ دی
دَ هدیٰ دَ لار ښـيون کاندی نجوم دی
که خلاف ئې دَ اصحاب په منځ کښې وشی
دَ مفهومو کار هغه زده چې مفهوم دی
(کلیات ص. ٦١٤)

دَ دې په مقابله کښې دَ اخلاقنامې دَ مصنف عقيده هم ولولئ. دَ حضرت عثمان رضی الله عنه په منقبت کښې وائی:

دَ ده زړه له مکره خاص وه
که مکار وه عمرو عاص وه

عمرو عاص پہ مکاری
پہ ملک گډ کړ خوکاری
پہ شامت دَ شامتیانو
عثمان ووژې خوېشانو

دَ حضرت عمرو بن عاص رضی الله عنه پہ حقله دا عقیده دَ خوشحال بابا بیان کړے عقیدې سره چې مقابله کړے شی نو صفا ښکاری چې دَ خوشحال بابا او دَ اخلاقنامې دَ مصنف پہ تسنن او شیعیت کښې بُعدالمشرقېن دے او دا دَ دې حقیقت واضحه ثبوت دے چې دَ اخلاق نامې مصنف خوشحال بابا نہ دے.

دَ اخلاقنامې دَ مصنف شاعری دَ هغہ دَ لوړې دعوې باوجود دَ ډېر ټیټ معیار شاعری ده. شاعرانه تصور، نازک خیالی او دَ الفاظو صحیح استعمال خو ډېره لویه خبره ده دَ اخلاقنامې دَ شاعر قافیې او وزن هم اکثر غلط دی دَ داسې غلطو امکان دَ خوشحال بابا څنې نہ شی کیدے. دَ قافیې دَ غلطیو یو څو مثالونه وګورئ:

لا دانه نہ وی زوولے
دہ پہ نام وی دَ چا کښلے
هم هغہ وی بیا خوړلے
چې پہ نام وی دَ چا کښلے
یوه جن وه پہ ګمبت کښې
شب چراغه وه پہ شب کښې
دې هم مخې ته ور ووت
دَ غلیم لښکر ئ وکوت

دَ وزن دَ غلطیو دپاره دا شعرونه ملاحظه کړئ:

بویه دا چې څوک بادشاه شي
دَ درست خلق نیک خواه شي
که خبر شي په هر دین کښې
کار دَ زنا دے په نفرین کښې
حال زما دَ زوم څه دے
په دولت موړ دے که نه دے

"اخلاقنامه" دَ اخلاق محسنی ترجمه ده او ښاغلے مؤلف پخپله دَ دې رائې تائید کوئ چې دَ فارسی دا کتاب په دې موضوع دَ اخلاق ناصری او اخلاق جلالی دَ علمی پایې نه ډېر کم دے. پخپله دَ خوشحال بابا رائې هم دا ده. خوشحال بابا چې په یو شعر کښې په کوم رنګ کښې دَ اخلاق ناصری ذکر کړے دے له هغه معلومیږی چې په دې موضوع هغه له ټولو اوچت کتاب "اخلاق ناصری" ګڼی لکه چې وائی:

که اخلاق ناصری په یاد ووائی
په اخلاق کښې به ښه نه شي بداخلاق

دَ دومره ښه او اعلیٰ کتاب په موجودګی کښې خوشحال بابا ولې دَ اخلاق محسنی ترجمه ضروری نه ګڼله او زوی یا زامنو ته ئې وصیت کولو چې که دَه دا کتاب ترجمه نه شو کړے نو دے یا دوی به ئې وکړی. دا یو داسې سوال دے چې ځواب به ئې هغه څوک ورکوی چې اخلاق نامه دَ خوشحال بابا تصنیف ګڼی.

دَ اخلاقنامې دَ خوشحال بابا دَ نه کېدو په حقله یو لوئې

دلیل له هغه حکایته څرګندیږی چې دَ کتاب په ص ۱۲۷ دَ عفت له بابه سره راوړے شوے دے. دَ دې حکایت په حقله دَ اخلاقنامې مرتب بناغلے همېش لیکی :

"زما دَ وړاندې دَ اخلاق محسنی دَ چاپ نسخې دَ عفت په نهم باب کښې دا حکایت نشته دَ دې مطلب صفا څرګند دے چې دا حکایت دَ اخلاقنامې دَ لیکونکی طبعزاد دے. دا حکایت داسې شروع کیږی:

یو بادشاه دَ هندوستان وه

دَ تېمر دَ دودمان وه

نه چې بل شاه جهان وه

چې ثانی صاحب قران وه

دَ حکایت خلاصه دا ده چې دَ تېمور په خاندان کښې یو باچا وه چې شاه جهان نه وه بلکې یو بل بادشاه وه چې عیاش او ناپاک وه او په دې وجه چې موقع پېښه شوه نو خپلو امیرانو له تخته ګوزار کړو او زوی لره ئې په بند ورکړو. او په قېد کښې مړ شو. دَ خوشحال بابا تر ژونده بې دَ شاه جهان نه دَ تېموری باچاهانو په سلسله کښې بل کوم بادشاه له تخته کوز کړے شوے نه دے. تېموری سلسله په ۱۵۲۶ء کښې شروع کیږی او خوشحال بابا په ۱۶۸۹ء کښې وفات کیږی. ۱۵۳۰ء کښې بابر پخپل مرګ مړ شو ۱۵۵۶ء کښې همایون په یوه حادثه کښې وفات شه. دغسې اکبر او جهانګیر هم پخپل مرګ په ترتیب په ۱۶۰۵ء او ۱۶۲۷ء کښې ومړل. دَ جهانګیر دَ وفات نه پس شاه جهان بادشاه شو چې په ۱۶۵۸ء کښې معزول کړے شو او پس له

ځو کاله ١٦٦٦ء کښې په بند کښې ومړ. دَ اخلاقنامې مصنف پخپل حکايت کښې دَ اشتباه دَ رفع کولو دپاره دا وائی چې دې دَ کوم باچا حکايت بيانوی هغه شاه جهان نه وه نو ځکه دا وئيلے شو چې دا واقعه دَ خوشحال بابا په ژوند کښې نه وه پېښه شوې. دَ اورنګ زېب دَ وفات نه پس دَ مغلو ډېر باچاهان له تخته لرې کړے شوی، ړانده کړے شوی او وژلی شوی دی. دَ بهادر شاه ١٧٠٧ــ١٧١٢ء دَ مرګ نه پس جهاندار شاه باچا شو خو دَ خپل وراره فرخ سير له لاسه په ١٧١٣ء کښې له تخته لرې او وروستو مړ کړلے شو. فرخ سير په ١٧١٩ء کښې له تخته لرې کړے شو ړوند کړے شو او په بند کښې ووژلے شه. ١٧١٩ء کښې پرله پسې دوه دوه باچايان رفيع الدرجات او رفيع الدوله په تخت کښېناستل خو دواړه په خپل مرګ مړه شول. دَ رفيع الدوله نه پس روشن اختر دَ محمد شاه په نوم دَ ډيلی په تخت کښېناست او تر خپله مرګه (١٧٤٨ء) باچا وه. دَ ده نه پس دَ ده ځوئې احمد شاه باچا شه دې په ١٧٥٤ء کښې له باچاهۍ لرې او ړوند کړے شه او دَ ده په ځائې دَ جهاندار شاه زوے عالمګير دوېم په تخت کښېنولے شه په ١٧٥٩ء کښې عالمګير دوېم قتل کړے شه او دَ ده په ځائې دَ ده زوئې شاه عالم دوېم په تخت کښېنولے شه. دَ شاه عالم جانشين اکبر شاه ثانی وه چې په ١٨٠٦ء کښې باچا شه او په ١٨٣٧ء کښې ومړ او دَ ده په ځائې بهادر شاه دوېم باچا شه چې تر ١٨٥٨ء باچا وه او بيا پېرنګيانو معزول کړو. له دې ټولې تذکرې نه مطلب دا وه چې کله مونږ دَ حکايت روايت پسې ځو نو حکايت کښې ذکر شوے باچا عالمګير دوېم وه چې دَ هغه دَ قتل نه پس دَ

هغه زوئي باچا کړے شوے وه. یا که ورارهٔ دَ زوی قائم مقام وګڼو نو دا قتل شوے باچا جهاندار شاه وه چې دَ هغه متعلق خافی خان دا لیکی چې دَ ده دَ حکومت زمانه دَ ډمو او ډمانو دَ عروج زمانه وه. بهرکیف هرکله چې دَ خوشحال بابا تر ژونده دَ تیمور له دودمانه صرف پنځه باچاهان تیر شوی وو ځکه نو دا ذکر "دَ یو باچا دَ هندوستان وه" په الفاظو کښې ناممکن وه. بله دا چې که څوک دا ووائی چې دا خو یوه افسانه وه ځکه په تاریخی معیار ئې سنجول مناسب نه دی نو دَ دې په ځواب کښې دا کافی ده چې په داسې حال چې لیکونکے پخپله په داسې زمانه کښې تیر شوے دے چې دَ تیمور دَ دودمان دومره موده نه وه شوې چې افسانوی حیثیت اختیار کړی. نو ځکه دې ته مونږ افسانه نه شو وئیلے او په دې دلیل دَ اخلاقنامې دا حکایت دَ هغه زمانې سره تعلق لری چې دَ تاریخ په اصطلاح کښې ورته دَ وروستنو مغلو زمانه وائی. چې دَ خوشحال بابا دَ مرګ نه پس ته شروع کیږی او صرف له دې حکایته دا ثابتیږی چې دَ اخلاق نامې لیکونکے دَ وروستنو مغلو نه هم وروستو تیر شوے دے.

هر څو که دَ دې خبرې زما مقالې سره براه راست څه تعلق نشته چې اخلاقنامه چا لیکلې وه ولې دَ نورو تحقیق کونکیو دَ دلچسپۍ دپاره زه خپله رائې پیش کوم چې کیدے شی څوک ترې په مستقبل کښې څه فائده واخستلے شی. اخلاقنامه دَ خوشحال بابا دَ کتاب دستارنامې په حاشیه لیکلې شوې ده. دَ دستار نامې دا نسخه چې مکمله شوې وه نو هغه وخت "فتح علی خان" ژوندے وه ولې دَ اخلاقنامې دَ تکمیل په وخت هم دغه فتح علی خان ته مرحوم وئیلی

شوی دی. دَ اخلاقنامې اخری نوټ دا دے:

"جهت پاس خاطر عزیز و شریف محب العلم والعلماء اقبال نشان فتح علی خان مرحوم. اخلاقنامه."

دَ فتح علی خان دَ وفات نه پس دَ هغهٔ لهٔ خاطره اخلاقنامه مکمل کول غالباً چې هم دَ هغهٔ دَ فرمائش نتیجه وه چې دَ اخلاقنامې دویم مصنف ئې دَ کتاب پهٔ شلم باب کښې داسې ذکر کوی:

چې بابا فرمائش ماته
کړے وهٔ نمائش ماته
پس لهٔ ما کهٔ زما زویه
چې قوت لرے دا بویه
تر څلوېښتو بابو پورې
دا کتاب کړه وبله پورې

څکه نو چې ترکومه پورې بل واضح ثبوت نهٔ وې پېدا شوے زمونږ دپاره بې لهٔ دې بله لاره نشته چې اخلاقنامه دَ خوشحال بابا نه بلکې دَ فتح علی خان مرحوم دَ زوی تصنیف وګڼو. زهٔ پهٔ یقین نهٔ شم وئیلے خو شاید چې دا فتح علی خان دَ ټیری دَ نوابانو دَ خاندان سره تعلق لری څکه چې ما دَ ټیری دَ کتاب خانې پهٔ څنو کتابونو دَ فتح علی خان نوم لُستے دے.

(میاشتنی مجله "پښتو" پښتو اکېډیمی پېښور یونیورسټی دسمبر ۱۹۸۲ء)

ورک ځوے خنګه پیدا شه

دَ ښاغلی حبیب الله رفیع په سریزه او سمون دَ لنډی دَ اخون احمد صاحب سره منسوبه یوه وړه ګُندې رساله په برنی نوم چاپ شوې ده. دَ دې رسالې په سریزه کښې ښاغلی رفیع وئیلی دی چې "ډیره په زړه پورې ده چې مونږ کولاې شو دَ لنډې قصې لیکنې (شارټ سټوری) دَ فن له پلوه هم په دې قصه کښې دَ ننني قصه لیکنې لارې چارې په واضحه توګه ووینو." (ص ۲۳) هم په دې وجه ښاغلی رفیع له ما ګُښتنه کړې ده چې زه دې هم په دې باب له خپله رائې څرګنده کړم. (دا جمله داسې لیکلې شوې ده چې.." مونږ په دې باب له خپله رائې څرګنده کړم." پنځم کالم)

دا ځائې دَ شارټ سټوری (وړې قیصې) پحقله دَ څه مفصل بحث ګنجائش نه لری ځکه نو زه به دا کوشش کوم چې دَ شارټ سټوری په ځائې په دې رساله کښې دَ لیکلې قیصې او شارټ سټوری ترمینځه څومره فرق دے او آیا دَ دې فرق په موجودګی کښې مونږ دې ته شارټ سټوری وئیلے شو که نه؟ له ټولو نه اګاهو دَ قیصې دَ بیانولو انداز دے. دا قیصه چې په کومه طریقه شروع کیږی او په کومه طریقه مخ په وړاندې ځی هغه دَ لنډې قیصې انداز نه دے. لنډه قیصه کښې دَ قیصې ابتدا ناڅاپه او بغیر له څه تمهیده شروع کیږی. دَ دې په مقابله کښې تاسو دَ دې قصې ابتدائی کرښې ولولئ.

"واوړئ يارانو نن به وکړم څو خبرې
دَ مهتر يوسف له حاله دَ يعقوب له دلګيرې

دَ دې قصې اخرى کرښې دا دى:

"بيچاره احمد بيان په پښتو ووې
د صورت نيشته ئې په زيړ خپلو؟
په وئيل ئې زړه ښه کاږئ
ولې دے په تورو سترګو مه وينمه
چې دا بيان به لولى يا به ئې څوک اورى دا فقير يو ګناه ګار دے
پس له مرګه ئې په نيکه دعا ډېر ډېر يادوئ،،

بيا له څو کرښو جوته ده چې دَ قصې ليکونکے تمهيدى او تاکيدى بيان دَ قصې په سر او اخر کښې کوى چې دَ دې له کبله قصې دَ شارټ سټورى له چوکاټه ووځى.

دوېمه خبره دَ کردار نګارۍ سره تعلق لرى په ټوله قصه کښې دا کوشش نه دے شوے چې کوم يو کردار دَ مکالمو يا بيانېدو په ذريعه دَ شارټ سټورى دَ کردار درجې ته رسولے شى. نو هر کله چې دَ شارټ سټورى دا عنصر هم په دې قصه کښې مفقود دے نو ځکه دا قصې دَ شارټ سټورى په هغه تعريف نه برابرېږى چې نقادانو دَ کردار په سلسله کښې دَ افسانې دپاره دا ضرورى ګڼلے دے.

له دېو نه هم اهمه خبره دَ قصې دَ صنف سره تعلق لرى. وړه قصه دَ نثرى ادب سره تعلق لرى او که دا ثابته کړے شى چې دَ اخون احمد ليکلې دا قصه نثر نه دے نو بيا هډو دَ دې سوال نه پيدا کېږى چې دې ته دې افسانه ووئيلے شى. اوس نو چې دَ اخون احمد صاحب

لیکلي قصې ته ګورو نو دَ دې په دریو بیلو بیلو حصو کښې درې بیلې بیلې قافیې پکارولے شوی دی. وړومبی حصه کښې جدایی، بې غمی، ناحقی، لویی وغیره الفاظ استعمال شوی دی چې کـه دغـه عبارت دَ شعر په شان ولیکلے شی نو دَ نثر له تعریفه ووځی. دغسې په دویمه حصه کښې همتونه، غمونه، ملکونه، دردونه او په دریمه حصه کښې کیږی، نازیږی، پوهیږی وغیره قافیې استعمال شوی دی. په دې لحاظ دا فن پاره نثر نه شی کیدے. او چې دَ نثر له میدانه ووځی نو دَ افسانې له میدانه پخپله خارجه شی. دَ اخون احمد صاحب سره منسوبه دا قصه په دې لحاظ هم افسانه نه ده چې دا په دریو حصو تقسیمه ده او هره حصه ئې دَ شعر په شان مقطع لری یعنې دا درې مختلفې حصې په تمهیدی بیانونو راګنډلی شوی دی. داسې قصه چې بیلې بیلې حصې لری افسانه نه شی کیدلے. خو پورې چې زه دې قصې ته ګورم نو زما په خیال دا یو داستان دے چې دَ اخون درویزه دَ شعر په شان نظم کښې لیکلے شوے دے او درې داسې حصې لری چې ځان له خپلې قافیې لری. لکه چې مونږ دَ وروستیو داستانونو خصوصیت ګرځیدلے دے او یو لوئې مثال ئې دَ فیاض په هغه داستان کښې موجود دے چې دَ بهرام اوګل اندامې په نوم په کلید افغانی کښې چاپ شوے او وروستو دَ پښتو اکیډمی له خوا دَ یو ځان له کتاب په حیث چاپ شوے دے.

(اووه ورځنے هیواد پېښور ۱۶ ستمبر ۱۹۸۵ء)

دَ پښتو وړومبنے افسانه نګار

تراوسه زمونږ دَ ټولو ادبی تاریخ لیکونکیو دا عقیده ده چې دَ پښتو وړومبنے افسانه نګار مرحوم راحت زاخېلی (۱۸۸۷.۱۹٦۳ء) یا (۱۸۸٤.۱۹٦۳ء) وه. دَ افسانې په تاریخ او تنقید کار کونکیو ټولو نقادانو دَ وړومبۍ افسانې دَ لیک (یا شاید دَ چاپ) کال ۱۹۱۷ء ښئیلے دے. دَ محترمې س. ب. ب صاحبې رائې چې ماته دَ هغوی دَ خاندان دَ څنو افرادو په ذریعه رارسیدلې ده دا ده چې وړومبۍ افسانه مرحوم ابوالمعانی میاں ازاد ګل (۱۸۹۵.۱۹۵۰) لیکلې او چاپ کړې ده. هسې دَ یو اټکل له رویه دَ دې افسانې دَ چاپ کال ۱۹۱۰ء بیانیږی. دې ضمن کښې دا حقیقت زمونږ څه نه څه رهنمائی کوی چې په کوم وخت کښې ابوالمعانی ازاد ګل مرحوم دَ یو لیکونکی په حېثیت تسلیمېدو تر هغه وخت کم از کم په هغه سطح استاذ راحت زاخېلی مرحوم نه وه تسلیم شوے او یو ثبوت ئې دا دے چې دَ "قصه خوانۍ ګپ" کښې دَ مرحوم میاں صاحب تخلیقات شامل شوی دی خو دَ راحت مرحوم دَ کتابت باوجود په دغه کتاب کښې دَ راحت صاحب په نوم څه شے (بغېر له یو نیم شعره) نه دے چاپ. بهرکیف زه دا حتمی ثبوت تر هغې نه شم ګڼلے تر څو چې ما دَ مرحوم میاں صاحب افسانه نه وی پیدا کړې او انشاء الله چې ډېر ژر به زه پښتون اولس ته دَ مرحوم افسانه پیش کړے شم. لیکن سره دَ دې که چرې دَ مرحوم میاں صاحب افسانه راپیدا هم شی هغوی دَ پښتو وړومبنے افسانه

نګار منل به ګران وی ځکه چې ما له ۱۹۱۰ ء نه هم مخکښې لیکلې شوې افسانې پیدا کړی دی او هغه افسانې راتلونکیو پاڼو کښې ګرانو لُستونکیو ته پیش کوم.

ما دَ "قند" مردان په افسانه نمبر (۱۹۵۷ء) کښې دَ افسانې دَ تاریخ په سلسله کښې دا عرض کړے وه چې شاید دَ دنیا له ټولو نه وړومبنی افسانه دَ لوقا دَ انجیل هغه تمثیل دے چې دَ "فضول خرځ هلک دَ قصې" په نامه مشهوره ده. دا تمثیل دَ "پیرابل اوده براډیګل سن" یا په ځنې انجیلونو کښې دَ "پیرابل اوده لاسټ سن" (د ورک زوی قصه) په نامه دَ پنځلسم باب دَ یولسم ایت نه ٤۳ ایته راغلے دے. (البته هم دَ دغه لیک او چاپ دَ زاړه عهد دَ کتاب چې په ۱۸۹۰ء کښې چاپ شوے دے دَ مترجم نوم ریورنډورتهنګټن جیوکس دے) نو په دې لحاظ خو وړومبی افسانه په پښتو کښې هم دَ دغې تمثیل ترجمه ګڼل پکار دی. پښتو کښې په وړومبی ځل دَ انجیل ترجمه په ۱۸۱۸ء کښې دَ سیرام پور پادریانو کړې وه چې اوس هیچرته نه شی موندے. په دغه ترجمه دَ پښتو لوئې محسن میجر راورټی ډیر سخت تنقید کړے دے. دے وائی " دَ سیرام پور دَ پادریانو له خوا په ۱۸۱۸ء کښې شوې دَ نوې عهد نامې نام نهاده ترجمه دغو مقدسو تحریراتو سره ډیر کم تعلق او مشابهت لری. په حقیقت کښې دَ دغه ترجمې لُستل ډیر دړدونکے امر دے." (ګرامر او دَ افغان لینګویج مقدمه ص ٤۳)

محترم قاضی محمد یوسف فاروقی په خپلو قلمی یاداشتونو کښې وئیلی دی چې دَ انجیل مقدس یوه ترجمه راورټی او بله ریورینډ

لېونتال کړې وه ولې دَ افسوس خبره دا ده چې مونږ ته اوس دا پته هم نه لګی چې دَ راورټی او لېونتال ترجمه شوی انجیلونه کوم یو دی او کله چاپ شوی دی. البته ما سره چې دَ نوی عهد دَ کتاب کومه نسخه ده هغه په ۱۸۹۹ء (۱۳۰۶هجری) کښې چاپ شوې ده او دَ دغه نسخې په باره کښې معلومات شته چې دا رېورنډورتهنګټن جیوکس او ټی جے لی مهر لیکلې ده. ځکه نو دا خو وئیلے شو چې دَ لوقا دَ انجیل ذکر شوے تمثیل (چې زما په خیال دَ افسانې تعریف پرې پوره پوره راځی) په ۱۸۱۸ء او په ۱۸۸۹ء کښې چاپ شوے وه خو په قطعیت سره دا نه شو وئیلے چې وړومبے افسانه نګار څوک وه. البته دَ دغې تمثیل دَ ترجمه کونکی په حېثیت دَ سیرام پور پادری، ایچ جی راورټی لېونتال تهامس جان لی مهر او ورتهنګټن جیوکس ته اشاره کولے شو. خو دا دَ پښتو وړومبی افسانه نه بلکې پښتو کښې دَ دنیا دَ وړومبنۍ افسانې ترجمه شوه او تکنیکی لحاظ سره دَ دې لیکونکے هم دَ پښتو وړومبے افسانه نګار نه شه.

زه چې اوس کوم افسانه نګار متعارف کول غواړم دَ هغه نوم جے جی لوریمر دے. چې په پښتو کښې دَ "لرم پېرنګی" په نامه مشهور دے او خپل ځان ته ئې هم ډېر په فخر "لرم پېرنګے" لیکلے دے. دَ ده په باره کښې صرف دومره معلومات په ګوتو راغلی دی چې دې یو آئی سی ایس افسر وه چې په ۹۸.۱۸۹۷ء کښې ټوچی فیلډ فورس سره متعلق وه او په ۹۹.۱۸۹۸ کښې دَ شمالی وزیرستان پولټیکل افسر وه. ۱۹۰۰ـــ۱ کښې دَ محسودو پلاکېډ افسر وه په ۱۹۰۱ء کښې دې دَ جنوبی وزیرستان پولټیکل افسر وه او ۱۹۰۲ء

کښې ئې بیا شمالی وزیرستان کښې دَ پولټیکل افسر پهٔ حیثیت تقرر وشهٔ او لږم پېرنګی دَ وزیرو دَ پښتو پهٔ باره کښې یو کتاب دَ "اے ډکشنری او وزیری لېنګویج" پهٔ نامه لیکلے دے. دا کتاب پهٔ فروری ۱۹۰۲ء کښې لهٔ کلکتې چاپ شهٔ او دا قیاس کولے شو چې دَ دې کتاب مندرجات پهٔ ۱۹۰۱ء کښې مکمل شوی وو ځکه چې دَ کتاب کمپوز کول او بیا ئې پروف ریډنګ کول او دَ وزیرستان او کلکتې تر منځه دې کتاب ته دَ اخری شکل ورکولو دا کار دَ ۱۹۰۲ء پهٔ دوه میاشتو کښې ممکن نهٔ وهٔ.

"اے ډکشنری او وزیری لېنګویج" کښې دوه افسانې هم شاملې دی. دېو دوه افسانو کښې یوه خو هم هغه دَ لوقا دَ انجیل دَ ورک زوئی قصه (دَ فضول خرڅ هلک ده) او دوېمه یوه طنزیه افسانه ده او ځکه دا دعویٰ پهٔ یقین سره کېدے شی چې دَ پښتو وړومبۍ افسانه دَ دې صدۍ پهٔ سر کښې لږم پېرنګی (جے جی لوریمر) لیکلې ده چې دَ اشاعت کال ئې ۱۹۰۲ء دے.

دغه دواړه افسانې ګرانو لُستونکیو ته دَ پېش کولو سعادت حاصلهٔ م. اول دغه افسانې دَ وزیرو پهٔ لهجه کښې لیکلے شوی دی او بیا ورپسې پهٔ مشرقی لهجه کښې اړولے شوی دی.

دا خبره ډېر زیات اهمیت لری چې نورو انګرېزانو مستشرقینو دَ خپلو مطبوعاتو پهٔ سلسله کښې لهٔ خپلو منشیانو نه مدد اخستے دے. مثلاً ایچ جی راورټی دَ حضرت مولوی محمد اسمٰعیل صاحب او حضرت مولوی احمد صاحب نه او هیوز لهٔ منشی احمد جان مرحوم ځنې ښهٔ کافی مدد اخستے دے او دواړو فاضلو مستشرقینو دَ دې

حقیقت اعتراف هم کړے دے خو په ۱۹۰۲ء کښې دَ دې خبرې بالکل امکان نه شو کېدے چې لړم پېرنګی ته داسې وزیر منشی حاصل شوے وے چې په انګرېزی هم پوهېدے. ځکه نو قوی امکان دا دے چې دا افسانې او دَ دې کتاب مندرجات دَ لړم پېرنګی له قلمه وتی دی.

(روزنامه "انقلاب" پېښور میاشتنے ایډیشن ۱ مارچ ۱۹۸٦ء)

دَ عبدالقادر خان ختک شاعری

عبدالقادر خان دَ خوشحال بابا دَ اولاد په فهرست کښې په لسم نمبر راځی. دے دَ زر درې شپېته کال دَ لوئې اختر دَ میاشتې په پنځویشتم تاریخ زیږېدلے وه او عبدالقادر خان نه ئې دَ ابجدو په حساب دَ پېدائش کال راووځی. په دې لحاظ چا چې دَ ده دَ پېدائش بل کوم کال لیکلے دے محض دَ اټکل او اندازې نه ئې کار اخستے دے.

دَ خوشحال بابا په اولاد کښې چې دَ چا دیوان مخکښې چاپ شوے وه هغه هم دَ عبدالقادر خان وه په دې لحاظ په دې خاندان کښې دَ خوشحال بابا نه پس له ټولو نه زیات مشهور او معروف شاعر هم هم دے دے. دَ عبدالقادر خان دیوان تر اوسه درې ځله چاپ شوے دے. یو ځل له قندهاره او دوه ځله له پېښوره چاپ شوے، وروستے دیوان دَ "حدیقۀ ختک" نوم لری حالانکې وړومبی ځل چاپ شوی دیوانونه ئې هم دَ "دیوان" نوم لری. ځکه نو دا قیاس کېدے شی چې دَ عبدالقادر خان دیوان دَ "حدیقۀ ختک" په نامه چاپ کول دَ پټې خزانې دَ اثر دَ لاندې شوی دی.

دَ عبدالقادر خان ذکر خوشحال بابا ډېرو ځایونو کښې کړے دے. دَ نوښار دَ کوټ په جنګ کښې دَ عبدالقادر خان دَ شمولیت شهادت لرو او هم دغسې دَ دې خبرې هم تحریری شهادت شته چې عبدالقادر خان دَ ګومبت په جنګ کښې پلار سره شامل وه او دې

جنګ کښې زخمي شوے هم وه.

دَ عبدالقادر خان په دیوان کښې دَ هغه دور دَ مختلفو واقعاتو ذکر هم شته چې دا ترې ثابتیږی چې عبدالقادر خان دَ خپل دور په سیاسی او عمرانی پېښو کښې ښه دلچسپی لرله. دَ خپل عظیم معاصر شاعر رحمان بابا ذکر په دې شعر کښې کوی:

زه خټک دَ یار په غم تازه تازه شوم

غوریه خېل رحمان که شه ورځنې ستړې

هم دغسې په هغه مشهوره قصیده کښې چې مطلع ئې ده:

دا کارونه چې نن ګانده عیانی دی

هیڅ په خوا په خاطر نه وو اسمانی دی

دَ ګل خان جمال خان دَ هغه واقعې طرف ته اشاره کوی چې رحمان بابا او حمید مومند هم پرې نظمونه لیکلی دی.

دَ عبدالقادر خان په شاعرئ لکه دَ هغه دَ خاندان دَ نورو شاعرانو دَ خوشحال بابا دَ شاعرئ ډېر زیات اثر دے. او شاید هم دَ دې اثر یوه نتیجه دا هم ده چې عبدالقادر خان نه صرف دَ خوشحال بابا په زمکه کښې غزلې لیکلی دی بلکې په خپلو موضوعاتو کښې ئې هم دَ خپل پلار تقلید او پېروی کړې ده. دَ دې سره سره په خپل کلام کښې اکثره دَ خوشحال بابا ذکر هم کوی مثلاً:

دا غزل ځواب دَ خان دَ هغه غزل کیږی

خدائې له خپله یاره نه هیڅ یار مه بیلوه

دا غزل په پښتو ژبه چې بیان عبدالقادر کړه

دروغژن یم که بې خانه وائی بل یو پښتون هسې

خان خوږه کړه تر پارسۍ عبدالقادره
کـه پـخوا وه تـرخه ژبـه دَ پښتو
تر شکرو نه دی کم عبدالقادره
تر نباتو که خواږه وئیلي خان دی

دَ شاعرۍ دَ موضوعاتو په تناسب عبدالقادر خان که هر څو کم وئیل کړی دی او دَ هغه دیوان دومره ضخیم نه دے څومره چې دَ خوشحال بابا دے خو سره دَ دې هم دَ "غم جانان" دَ ذکر نه پس چې عبدالقادر خان کومو موضوعاتو ته اهمیت ورکړے دے هغو کښې ئې دَ سیاست په باره کښې دَ خپل پلار دَ رائې تائید کړے دے:

پښتانه کوته اندېش دی
سود غلیم ته زیان دَ خوېش دی
نوشدارو پکښې نایاب دی
واړه زهر واړه نېش دی
حریصان طامع ورږ سترګی
په بد خوئی مالګه دَ رېش دی

دې قصیده کښې عبدالقادر خان خټک چې دَ خپلې زمانې په حالاتو کوم تنقید کړے دے له هغې معلومیږی چې دَ خپل دور معاشرې سره عبدالقادر خان لکه دَ هر لوئې فنکار واضح اختلافات لرل او دَ خپل کلام په ذریعه ئې دَ دې معاشرې تور اړخونه څرګندول خپل فرض ګڼل.

تصوف دَ مشرقی شاعرۍ او خاص طور سره دَ غزل یوه ډېره مشهوره روایتی موضوع ده. زمونږ په شاعرۍ کښې دَ ارزانی، مخلص، میرزا، خوشحال بابا او رحمان بابا په شاعرۍ کښې دَ تصوف

یوه ډېره لویه حصه ده. زمونږ دا ټول لوئی شاعران دَ تصوف دَ یو مشهور مکتب وحدت الوجود سره تعلق لری. خو دَ دوئ په مقابله کښې عبدالقادر خان شاید چې دَ پښتو وړومبنے شاعر دے چې دَ وحدت الشهود نظریه ئې په خپله شاعری کښې راخائې کړې ده. دَ دې وجه دا ده چې دَ عبدالقادر خان تعلق سعدی لاهوری سره وه چې دَ حضرت آدم بنوری مرید وه او پخپله حضرت آدم بنوری دَ حضرت مجدد الف ثانی شاګرد او خلیفه وه. دَ حضرت مجدد الف ثانی له ټولو نه لویه عطیه دَ تصوف دنیا ته دَ وحدت الشهود نظریه ده او عبدالقادر خان په خپله شاعری کښې هم دا نظریه خائې کړې ده. دا شعرونه ئې خاص طور سره دَ غور قابل دی:

دلبر مخ راته ښئیی په هر آئین کښې
ګاه په تور کښې جلوه ګر شی ګاه په سپین کښې
کله کله په ترسا کښې مخ څرګند کا
دَ صنعان په دود ئې وران کاندی په دین کښې
په هر څه کښې ګوره یار عبدالقادره
که دې نشته شک ګُمان په خپل یقین کښې

دا صحی ده چې دَ خوشحال بابا له یوه شعره:

په هر څه کښې نندارہ دَ هغه مخ کړم
چې لـه ډېرې پیدائییه ناپـدیـد شه

دَ وحدت الوجود استنباط کېدے شی لکه چې پښتو ادب سره دلچپسی لرونکیو ته معلومه ده دَ خوشحال بابا په هم دې شعر دَ دې زمانې مشهور وحدت الوجودی غزل لیکونکی امیر حمزه خان شنواری مفصل

بحث په خپل کتاب کښې کړے دے او دا ئې ترې دَ ثابتولو کوشش کړے دے چې خوشحال بابا وحدت الوجودی نظریه لرله.

هم دغسې دا شعرونه:

څو خبر نه دے وګړے له دې رازه
ګنه بیل حقیقت نه دے له مجازه
عـارفان چې له خودیه خان خالی کړه
تسبیح اوری دَ شپیلۍ دَ اوازه

هم دَ هغه دَ تصوف په سلسله کښې دَ مثال په طور پېش کېدے شی.

خودرحمی Self Pity هم زمونږ دَ غزل یو نمایان روایت دے او څومره څومره چې دا خودرحمی په کوم شاعر کښې زیاته وی دومره دَ هغه په کلام کښې سوز او په نتیجه کښې ئې اثر زیات وی. دَ عبدالقادر خان غزل کښې دا عنصر ډېر زیات او ډېر زورور دے.

تا خُورږ کړے یم هم ته به مې دارو کړې
بې له تا به و نور چا وته فریاد کړم
تور لوګی دَ خلې اوښې دَ سترګو سرې
دواړه په دا حال باندې ګواهان لرم
یو ساعت ئې خوشحالی اندوه وی عمر
اشنائی دې هیڅوک نه کاندې که ښه کا
چې قلم دَ جدایۍ زما واهه شه
په ژړا مې سترګې سرې کړې و شبنم ته

دَ کلام دَ اندرونی خوبیو دَ دې مختصرې غُندې جائزې نه پس دَ عبدالقادر خان دَ شاعرۍ خارجی محاسنو ته چې نظر وکړو نو

راڅرګندیږي چې عبدالقادر خان په هغو شاعرانو کښې دے چې شعوري کوشش ئې په دې غرض کړے دے چې دَ پښتو شاعرۍ لمن وسیعه کړي. په دې لړ کښې هغه نه صرف مختلفو اصنافو کښې شاعري کړې ده بلکې په مختلفو ژبو کښې ئې هم شاعري کړې ده. دَ فارسۍ شاعرۍ اندازه ئې له دې غزله کېدے شي:

چو زلف عنبرین را پیچ و خم کردی کرم کردی
دلم را از سر نو بند غم کردی کرم کردی
چو بکشودی نقاب از رخ نمودی عارض زیبا
شب اندوه ما را صبحدم کردی کرم کردی

خو له دې علاوه هغه دَ دوه ژبو شاعري (ذواللغتین) هم کړې ده. مثالونه ئې دا دي:

دَ پښتو او عربۍ غزل:

مخ په هر لوري جلوه ګر دے دَ یار
ابصروا ابصروا اولی الابصار
بې محابا راکره کېږده قدم
لیس فی الدار غیرنا دیار

دَ پښتو او فارسۍ غزل:

زړه مې هرګور وه له هجرانه افګار
شکر حق را که باز آمد یار
سروه سر کوز له انفعال کاندې
چون خرامد به سوئے باغ نګار

دَ غزل نه علاوه دَ عبدالقادر خان اوږده نظمونه هم شته چې یوه اوږده مثنوي پکښې دَ یوسف زلېخا دَ مشهورې مثنوۍ ترجمه ده. دا ترجمه عبدالقادر خان په یولس سوه دولس کښې مکمله کړې ده. ترجمه په اته سېلابيز بحر کښې ده. دَ دې مثنوۍ وړومبی څو شعرونه دَ نمونې په طور داسې دي.

دا قصه اول تازي وه
په تازي ئې اغازي وه
په فارسۍ کړه فارسيبانو
نظم نثر سخن دانو
ما هم بيله ترې حصه کړه
په پښتو مې دا قصه کړه
ما شيرين بحر خفيف کړه
بې خوابه مې حريف کړه

برنهارډ ډورن او راورټي دَ دې مثنوۍ حصې په خپلو منتخباتو کښې راوړې دي او بيلې هم چاپ شوي دي.

دَ دې نه علاوه عبدالحئ حبيبي مرحوم دَ "نصيحت نامه" او "څلوېښت حديث" په نومونو دَ بيلو بيلو مثنويو نسبت هم عبدالقادر خان ته کړے دے خو لا تراوسه دا مثنوۍ چاپ شوي نه دي.

دَ نظم نه علاوه عبدالقادر خان پښتو نثر هم سېکن کړے دے. دَ ګلستان پښتو ترجمه ئې دَ ګلدسته په نامه ليکلې ده چې يو لوئې خصوصيت ئې دا دے چې نثر ئې په نثر او نظم ئې په نظم کښې ترجمه شوے دے. دا عظيمه فن پاره پښتو اکېډيمۍ چاپ کړې ده. له

دي نه مخکښې ئې راورټي ګلشن روه کښې منتخبې حصې هم چاپ کړې دی.

دَ راورټي وینا ده چې عبدالقادر خان شپږته کتابونه لیکلی وو خو لکه دَ خوشحال بابا دَ ده هم دَ نورو کتابونو پته نه لګی.

راورټي دَ ده دَ مرګ په باره کښې دا روایت هم بیان کړے دے چې دے خپل ورارهٔ افضل خان وژلے وهٔ ځکه چې عبدالقادر خان دَ ده سرداری نه منله. والله اعلم بالصواب.

(درې میاشتنی کتابی سلسله مرکه مردان اوله کړی نومبر ۱۹۸۹ء)

ادب کښې شخصیت

دَ انسان او نورو حېواناتو تر مینځه دَ فرقونو په سلسله کښې دَ مختلفو علمونو سره دَ تعلق لرونکیو مختلف خیالات او نظریات دی. دَ معاشرتی علومو په مېدان کښې دَ کار کونکیو په خیال کښې دَ انسان او دَ حېواناتو تر مینځه فرق دا دے چې انسان یو معاشرتی ځناور دے. او نور ځناوران دَ معاشرتی شعور نه محروم دی. دَ سیاسیاتو دَ علم سره دَ متعلقو حکیمانو او مفکرانو په نظر کښې انسان یو سیاسی ځناور دے چې دَ خپل سیاسی شعور په نتیجه کښې دَ خپل ځان په شان مخلوق دپاره څه داسې سیاسی قاعدې او قانونونه جوړوی چې دَ هغو په نتیجه کښې دَ خپل ځان په شان شعور لرونکیو له ذهنی او روحانی خوشحالی او مسرت پیدا کوی. او دَ ذهنی او روحانی مُسرتونو په نتیجه کښې دَ مادی مسرت دَ حصول کوشش کوی.

هم دغسې دَ فنون لطیفه سره تعلق لرونکے انسان حېوان ناطق یعنې خبرې کوونکے حېوان گڼی. او هم دغه خبرې دی چې دَ ادب په معنو کښې دَ یوې اصطلاح په صورت استعمالیږی. خوشحال بابا وائی چې :

دَ خبرو ملک مې فتح په سمند کړه

نو دَ خبرو نه مطلب ئې ادب وی. دغسې دَ خبرو دَ اقلیم نه مراد "اقلیم سخن" وی او عجیبه حسن اتفاق دا دے چې په فارسی کښې هم دَ

سخن او سخنوری اصطلاح دَ شاعرۍ او ادب دپاره مخصوص شوې ده حالانکې دَ پښتو په شان فارسۍ کښې هم دَ سخن اصل معنیٰ "خبره" ده. خو هرکله چې دَ حېوان ناطق خاصیت خبرې او سخن ګوئی ګڼلې شوه ځکه نو دې اصطلاح رواج بیاموندلو.

دې ته هم حسن اتفاق ووایئ چې په عربۍ کښې که یو خوا خبرو ته کلام وائی نو بل خوا شاعری هم، هم په دغه نوم نوملے شی. بلکې په ادبی اصطلاح کښې دَ شاعرۍ تعریف "کلام موزون" ګڼلے شی.

دا اوږده خبره ما دې دپاره عرض کړه چې لکه څنګه خبرې، سخن ګوئی او کلام دَ انسان هغه خاصه ده چې هغه پرې له نورو حېواناتو نه ممتاز کیږی دغسې دَ معاشرتی حېوان په حېث هغه په فطری ډول مجبور دے چې په معاشره او جامعه کښې خپله خبره وکړی او دَ بل خبره واوری او دَ دې خبرې کولو او خبرې اورېدو چل ته دَ یو اسان تعریف مطابق مونږ ادب وئیلے شو.

هر حېوان ناطق چې دَ خبرو کولو داسې چل زده کړی چې هغه خپله خبره په غوره طریقه بل حېوان ناطق ته ورسوی نو دے تر دغې درجې ادب پیدا کوی. هم دغسې هر حېوان ناطق دَ بل حېوان ناطق په خبره دَ پوهېدو کوشش شروع کړی. او دې کوشش کښې تر دومره حده کامیاب شی چې دَ شوې خبرې ټول تفصیلات دَ خپلې پوهې په ګرفت کښې راولی نو دَ داسې عمل تکرار دَ ادب پیدا کولو باعث وګرځی او چې دَ صدیو دَ مشق نه پس دا "زبانی ادب" دَ لیک جامه واغُندی نو تحریری ادب مینځ ته راشی او فنون لطیفه کښې دَ یو فن اضافه وشی.

دَ ادبی تنقید پوهان په دې خبره متفق دی چې دَ ادب دَ پیدائش یوه وجه دا هم ده چې معاشرتی حیوان په خپله معاشره کښې دَ نورو معاشرتی حیواناتو له ژونده ځان خبرول غُښتل. داسې دَ ژوند په سر بنده دروازه کښې دَ خپل سر بوسولو او دَ تلاش دې عمل نه ورو ورو ادب او شاعری راوځېګېده او ترقی ئې داسې وموندله چې هغو کومې معاشرتی حیواناتو چې دا کار نه شو کولے هغوی دَ خپلو هم جنسو له دې خبرو او ډېره موده وروستو له لیکلو نه هم هغه خوند اخستل شروع کړه کوم چې دَ دوی هم جنسو دَ نورو هم جنسو دَ ژوند په کوټو کښې دَ سر بوسولو نه اخستل. په دې خبره چې لږ بنه ژور غور وکړو نو دا راته واضحه شی چې دَ یو شخصیت له خوا دَ بل شخصیت په ژوند خبرېدل، دا معلومات نورو ته رسول او بیا دَ نورو له خوا له دې معلوماتو نه خوند اخستل په اصل کښې دَ ادب پیدا کېدو او دَ ادب دَ رواج موندلو رښتینے بنیاد دے. خو دا خبره به لږه په تفصیل کول غواړی.

(درې میاشتنی کتابی سلسله مرکه مردان (مقاله نمبر) جنوری ۱۹۹۰ء)

دَ معز الله خان په باره کښې دَ ځنې تاريخى غلطيو ازاله

تر اوسه دَ معزالله خان مومند دَ ديوان درې ايډيشنونه چاپ شوى دى. وړومبے ايډيشن ښاغلى همېش خليل په اکتوبر ۱۹۵۷ء کښې چاپ کړه. دوېم ايډيشن پښتو اکېډيمى دَ ښاغلى خيال بخارى دَ مقدمې سره په اګست ۱۹۵۸ء کښې چاپ کړو او درېم ايډيشن ئې بيا ښاغلى همېش خليل (سره دَ اضافې) په دوېم ځل په جنورى ۱۹٦۱ء کښې شائع کړه.

دَ کتاب وړومبے ايډيشن زما له نظره نه دے تېر شوے او نه اوس چرته پېدا کيږى چې دا اندازه ترې ولګولے شى چې ښاغلى همېش دَ وړومبى ايډيشن په مقدمه کښې څه وئيلى وو خو دَ دوى دَ دوېم ايډيشن او دَ اکېډيمى دَ ايډيشن په مقدمو کښې چې څه ليکلى شوى دى هغو کښې ځنې خبرې داسې دى چې زما په خيال تاريخى لحاظ سره صحيح نه دى او زه ځکه په دې مختصره مقاله کښې دا کوشش کول غواړم چې دَ دغو غلطيو اصلاح وشى.

وړومبى تاريخى غلطى زما په نزد دَ دواړو محترمو ليکونکيو نه دا شوې ده چې دَ دوى په خيال دَ اربابى خطاب به حکومت ورکولو.

"..... خو شاهجهان باچا دَ معزالله خان پلار او تره (عبدالله خان او محب الله خان) له رسماً دَ اربابى منصب ورکړ." (دَ اکېډيمى

ایډیشن ذ مقدمې ص ۹)

"کوم وخت چې شاهجهان بادشاه ذ ملکی نظام بېره چلوله نو ذ خپلې عامې پالیسۍ ماتحت ئې ذ پښتونخوا ذ څنو علاقو پښتانه مشران ذ اربابۍ په خطاب ذ عزت بخشۍ نه علاوه ذ خپل مقصد ذ پوره کولو په غرض ذ هغو ذ هر قسمه حوصله افزائی هم وکړه. (هم داسې) هغه سلسله کښې شاهجهان بادشاه ذ باړې ذ مومندو ذ انتظام او مغلی حکومت ذ وفادارۍ شرف یعنې ذ اربابۍ خطاب عبدالله خان او محب الله خان ته په مساوی حصه ورکړه. (ذ ښاغلی همېش مرتب کړے دوېم ایډیشن مقدمه ص. ب)

حالانکې دا یو داسې حقیقت دے چې هیڅ دلیل ته احتیاج نه لری چې ارباب ذ خلیلو مومندو داؤدزیو او کاسیانو ذ خانانو موروثی لقب دے. که چرې ذ اربابۍ خطاب ذ حکومت له خوا عطا کېدے نو اول خو به ئې ذ مغلو په سرکاری کاغذونو کښې ذکر وه او بیا دا چې ذ غوریا خېلو او کاسیانو نه بغېر بل کوم منصب دار ته به هم دا خطاب چرې خو ورکړے شوے وے. ذ ۱۵۲٦ء نه تر ۱۸۵۷ء پورې ذ یو مغل باچا له خوا چاته ذ اربابۍ خطاب نه دے ورکړے شوے ځکه نو دا یوه داسې غلطی، ده چې دواړو ښاغلیو لیکونکیو (همېش خلیل او خیال بخاری) په شریکه کړې او څه تاریخی بنیاد نه لری.

له دغې نه هم زیاته لویه غلطی هم دغو اقتباساتو کښې دا شوې ده چې ذ ښاغلیو لیکونکیو په خیال ذ معزالله خان پلار او تره (عبدالله خان او محب الله خان) ته ذ اربابۍ خطاب شاهجهان ورکړے وه.

دواړو محترمو ليکونکيو چې پخپلو مقدمو کښې دَ معزالله خان مومند کومه شجره دَ نسب ورکړې ده دَ هغې مطابق معز الله خان دَ عبدالله خان، عبدالله خان دَ محمد خان او محمد خان دَ مستجاب خان زوئې وه. مستجاب خان بغېر له څه شک و شبهې په خېبر کښې دَ محمد امين خان دَ شکست (١٠٨٣هجرى) نه پس ته شهيد کړے شوے وه. دَ مستجاب دَ شهادت په وخت کښې اورنګ زېب دَ هندوستان شهنشاه وه. ځکه نو که تخيل لکه دَ ربړ هم راکښے شى نو دا څوک نه شى وئيلے چې نيکه خو دې دَ اورنګزېب په زمانه کښې شهيد کيږى او نمسے دې ئې دَ شاهجهان باچا نه خطاب وصولوى. (دا ياد ساتل پکار دى چې شاهجهان ١٠٢٦هجرى قمرى کښې په تخت ناست وه او ١٠٦٨هجرى قمرى کښې وفات شوے وه).

دې غلطۍ سره تړلې يوه بله غلطى دَ اکېډيمۍ دَ ايډيشن مقدمه نګار بناغلى خيال بخارى دا کړې ده چې دَ دوى دَ "اټکلي اندازې" مطابق معزالله خان مومند په ١٠٨٥هجرى کښې پېدا شوے وه لکه چې دَ مخه ذکر وشه دَ معزالله خان غُر نيکه مستجاب خان په ١٠٨٣هجرى کښې شهيد شوے وه. په دې لحاظ دَ معزالله خان پېدائش په ١٠٨٥هجرى کښې که ناممکن نه دے نو انتهائى غېر اغلب ضرور دے. ځکه چې که مونږ دا ومنو چې معزالله خان په ١٠٨٣هجرى کښې پېدا شوے وه نو په ډېره لنډه اندازه دَ هغه غُر نيکه به دَ هغه نه سل کاله اګاهو پېدا شوے وى. په دې حساب دَ مستجاب خان مومند دَ پېدائش نېټه ٩٨٣ هجرى کيږى او دا دَ هغو ټولو اندازو برخلاف ده چې دَ تاريخ له مختلفو واقعاتو نه دَ مستجاب

دَ ژوند پۀ حقله لګېدے شي.

خدائې خبر چې ولې خو دَ ديوان دواړو مقدمه ليکونکيو پۀ تقريباً يو شان الفاظو کښې دا دعوىٰ کړې ده چې دَ معزالله خان خاندان يعنې دَ لنډى ارباباڼ دَ هر حکومت "وفادار" پاتې شوى دى حالانکې دا خبره پۀ دومره عمومى ډول صريحاً غلطه ده.

دواړو محترمو ليکونکيو دَ پېرنګى دَ دور دَ څنې افسرانو دَ ليکونو پۀ بنا دا دعوىٰ کړې ده چې اربابانو تل (يعنې تل) دَ وخت دَ حکومت مرسته کړې ده. حالانکې حقيقت دا دے چې مغلو مستجاب پۀ سياسى بنياد شهيد کړے وۀ او خوشحال بابا لۀ يوۀ نه زياتو ځايونو کښې دا منلې ده.

دَ ۱٦۳۰ء پۀ مشهور قومى تحريک کښې مومند دَ پښتنو دَ لښکر سره وو. (وګورئ تاريخ مرصع ص. ۱۱۳ قلمى ص. ۱۷۳ نوټ ۲) دَ سيکانو برخلاف جدوجهد کښې دَ ارباب رحمت الله خان او احمد خان ټول جائداد ضبط کړے شو. دَ سردار يار محمد دَ لاسه دَ ارباب ارسلا خان دَ جائداد ضبطى او دَ هغۀ ګرفتارى دا ټولې خبرې پۀ دې باب له کافى شهادت دے چې کۀ يو خوا دَ اربابانو دَ خاندان څنې خلقو دَ حکومت مرسته کړې ده نو بله خوا داسې نران ارباباڼ هم وو چې دَ پښتانۀ پۀ ننګ ولاړ وو.

پاتې شوه دا خبره چې اربابانو دَ سيکانو برخلاف دَ پېرنګيانو ملګرتيا کړې ده نو نۀ خو دا دَ شرم خبره وه او نۀ ئې زۀ ترديد کوم. اصل حبره دا وه چې دَ سيکانو پۀ دور کښې پۀ پښتنو او خاص طور سره پۀ لويو کورنيو دومره ظلمونه شوى وو چې هغوى دَ سيکانو

برخلاف جدوجهد کښې سرو کافرو سره هم په ملګرتیا مجبور شوی وو او دَ تاریخ پشاور په حواله چې کوم دستاویزی ثبوتونه ښاغلیو مقدمه لیکونکیو پېش کړی دی له هغو صرف دا ثابتیږی چې اربابان هم لکه دَ نورو پښتنو دَ سیکانو دَ ظلم برخلاف دَ هر چا سره دَ ملګرتیا دپاره تیار وو او په دې لړ کښې ئې خپلې ذمه وارۍ ښه په نره پوره کړی دی.

دَ معزالله خان مومند په باره کښې بله تاریخی غلط فهمی دَ ښاغلی عبدالحلیم اثر افغانی له هغه بیانه پېدا کیږی چې دَ خپل کتاب "روحانی رابطه او روحانی تړون" په ص. ۷۷۶ ئې کړے دے او چې پکښې ئې وئیلی دی چې معزالله خان دَ سربند (سنګو سربند) اوسېدونکے وه لکه چې هر چا ته معلومه ده سربند دَ خلیلو کلے دے او تر څو چې ډېر درونډ ثبوت نه وی پېش شوے دَ مومندو دَ اربابانو دَ خلیلو په علاقه کښې اوسېدل ډېر غېر اغلب دی او هر کله چې ښاغلی اثر دَ خپل عادت سره سم دې لړ کښې څه ثبوت نه دے پېش کړے نو مونږ ئې دا دعویٰ نه شو منلے چې ارباب معزالله خان مومند دَ سنګو سربند وه.

خاص طور سره په داسې صورت کښې چې دَ اکېډیمی دَ ایډیشن دَ مقدمې په ص ۸ باندې دَ دې خبرې دستاویزی ثبوت هم شته چې معزالله خان دَ کوټله مستجاب (چې وروستو ئې نوم کوټله محسن خان شه) اوسېدونکے دے. دا هیڅ کله دَ منلو خبره نه ده چې ارباب معزالله خان مومند دَ سنګو سربند وه.

(درې میاشتنے "جرس" کراچی جنوری تا مارچ ۱۹۹۱ء)

اکبر زمینداوری

دَ اکبر زمینداوری پېژندګلو په ورومبی ځل مونږ سره ښاغلی عبد الحئ حبیبی مرحوم دَ "پښتانه شعراء لومړی ټوک" په ذریعه په ۱۳۲۰ هش (۱۹٤۱ء) کښې کړې وه. د حبیبی مرحوم د نورو انکشافاتو غُندې دَ هغوی دا انکشاف هم بغېر له څه بحثه ومنلے شه او هیچا پرې دَ څه اضافې کولو کوشش ونه کړه. حبیبی مرحوم زمونږ دَ تاریخ په یو داسې دور کښې پیدا شوے وه او دَ هغوی علم و فضیلت تر دې حده ګڼلے شوے وه چې دَ هغوی ټول لیکونه پښتو ویونکی قوم بغېر دَ جرحې او تعدیله قبلول. دا دور پښتون له دَ تاریخ جوړولو دور وه. سیاسی هم او ادبی هم. او مرحوم عبدالحئ حبیبی په دواړو مېدانونو کښې دَ پښتنو ډېر ضرورتونه پوره کړه.

د اکبر زمینداوری په سلسله کښې چې مرحوم عبدالحئ حبیبی دَ هغه له یوه شعره:

د مغلو تېمر هسې په اور وسوم

چې به هېر په دا ماتم زمینداور کړم

دا استنباط وکړه چې دے دَ تېمور لنګ (۸۰۷ ـــ ۷۷۱) دَ دور شاعر او دَ زمینداور اوسېدونکے وه نو هیچا پرې څه اعتراض ونه کړو او نه ئې ترې دَ څه سند مطالبه وکړه. یواځې دا نه بلکې چا دا سوال هم ونه کړه چې دَ دې شعر مطلب څه دے؟

تر اوسه پورې زمونږ محققینو دا راز ښکاره نه کړے شه چې دَ اکبر زمینداوری موندلے شوے کلام له کومې ذریعې نه دَ دوی لاس

ته راغلے دے بلکې "پښتانه شعراء" او "فرهنګ زبان و ادبیات پښتو" کښې چې کوم بیان په دې سلسله کښې شوے دے هغه خو دا څرګندوی چې دَ اکبر زمینداوری دا کلام چا فرد واحد یا ادارې سره موجود نه دے. دَ "پښتانه شعراء" بیان دا دے:

" دَ پښتو ژبې په پخوانیو او نوم ورکو شاعرانو کښې یو اکبر دے چې کلام ئې ورک او چا نه دے لیدلے.،، (ص ٦٥) "فقط یو څو زړې پاڼې دَ ده له نادر او ورکه دیوانه دَ قندهار دَ هلمند په لتو کښې لیدلی شوی او له هغو څخه لاندې معلومات په لاس راغلی دی." (هم دغه مخ)

دَ ښاغلی زلمی هېوادمل "فرهنګ زبان و ادبیات پښتو" بیان دا دے :

"برګے چندے از دیوان بیش بهائے وے در دست محققین و دانشمندان ادب پښتو افتید. (د هغه دَ قیمتی دیوان څو پاڼې دَ پښتو ادب دَ محققینو او دانشمندانو په ګُتو ورغلې. (ص ٦٥)

له دېو دواړو بیانونو نه دا نتیجې راووځی:

ا : د اکبر کلام ورک او چا نه دے لیدلے.

ب : د اکبر دَ دیوان یو څو زړې پاڼې دَ قندهار دَ هلمند په لتو کښې لیدلی شوی دی.

ج : د اکبر دَ دیوان څو پاڼې دَ پښتنو محققینو او دانشمندانو په لاس ورغلی دی.

د : "د پښتانه شعراء" مصنف ته حاصل ټول معلومات په دغو زړو پاڼو مبنی دی.

اوس به په دېو څلورو نکتو لړ مفصل بحث وکړو.

ا : که دَ "پښتانه شعراء" دا دعویٰ صحیح وی چې دَ اکبر زمینداوری دیوان ورک او هیچا هم نه دے لیدلے نو بیا دا څو پاڼې چې لیدلی شوی دی دوی ته په کوم سند دَ اکبر زمینداوری دَ دیوان حصه وئیلے کیږی. دَ موندلی شوی کلام صرف په دوه غزلونو کښې دَ "اکبر" نوم په مقطعو کښې استعمال شوے دے او دَ هغه په مثنوی او بدله کښې تخلص نه دے پکارولے شوے. نو صرف دوه ځایه کښې دَ "اکبر" دَ تخلص په راتللو تر دې نتیجې ته‌وپ وهل چې دا لیکونکے اکبر زمینداوری دے ډېر غېر محتاط عمل دے. خاص طور سره په داسې صورت کښې چې دَ ښاغلی زلمی هېوادمل په فرهنګ کښې دَ اکبر زمینداوری نه علاوه دَ پینځو نورو "اکبرانو" ذکر هم شوے دے. دا څو پاڼې اکبر زمینداوری ته منسوبول دَ تاریخ لیکلو دَ اصولو سره مناسبت نه لری. ځکه چې سوال به دا پېدا کیږی چې دا خبره له کومه ثابته شوه چې دا پېدا شوې پاڼې دَ دغو پینځو اکبرانو کښې دَ یو نه بلکې شپږم اکبر دی. که دا ووئیلے شی چې دَ موندلیو شویو پاڼو یو شعر:

د مغلو تېمر هسې په اور وسوم

چې به هېر په دا ماتم زمینداور کړم

په دې دلالت کوی چې لیکونکے ئې دَ زمینداور دے نو زه به ډېر په ادب سره دا ووایم چې له دې شعره دا نه ثابتیږی چې لیکونکے دَ زمینداور اوسیدونکے دے (لکه چې مخکښې به تفصیل سره عرض کړے شی) نو ځکه دَ دې دعوې دپاره به څه زیات قوی دلیل پکار وی

چې هغه چا سره نشته لکه چې پخپله حبيبي صاحب فرمائيلي دي چې دَ دوی ټول معلومات تر هغو پاڼو پورې محدود دي چې دوی ئې اکبر ته منسوبوی او دغو پاڼو کښې دا تفصيل نشته.

ب : دَ دې نکتې په باره کښې دا ياد ساتل پکار دی چې دَ يو تاريخي دعوې بنياد په مجهول بيان اېښول ډېر غېر محتاط عمل دے. دا وېنا چې "دَ اکبر دَ ديوان يو څو زړې پاڼې دَ قندهار دَ هلمند په لتو کښې ليدلي شوی دی" دَ ګرامر له لحاظه يوه مجهوله فقره ده چې فاعل ئې معلومه نه دے. "ليدلي شوی دی" يوه معنیٰ لری او "ما يا بل چا ليدلي دی" بالکل جدا معنیٰ لری. په "پښتانه شعراء" لومړی ټوک کښې چې حبيبي مرحوم دا دعویٰ کوی چې دَ اکبر دَ ديوان يو څو زړې پاڼې دَ قندهار دَ هلمند په لتو کښې ليدلي شوی دی نو په دې بيان دا اعتراضات وارديږی:

۱. حبيبي مرحوم دَ قندهار دَ هلمند دَ علاقې دَ هغه مخصوص کلي يا ځائې نوم ولې په ګته کړے نه دے چرته چې دا پاڼې "ليدلي شوی" دی.

۲. حبيبي مرحوم دَ هغه فرد نوم ولې نه ظاهروی چا سره چې دا "زړې پاڼې ليدلي شوی" دی.

۳. حبيبي مرحوم دَ موندليو شويو پاڼو دَ شمېر ذکر ولې نه کوی؟ دا تفصيل ځکه ضروری دے چې سبا له هر يو جعلساز دېو پاڼو کښې اضافه کولے شی او دَ حبيبي مرحوم په روايت به خپلې دعوې لره تقويت ورکولے شی.

٤. او وروستے اعتراض دا چې کله دَ سليمان ماکو تذکرة الاولياء

فېک سېمېلي "پښتانه شعراء لومړی ټوک" کښې شاملول ضروري ګڼلي شو نو دَ اکبر دَ ديوان دَ زړو پاڼو تصوير ولې اهم ونه ګڼلے شه او تر اوسه پورې ورلره دا اهميت نه شي ورکېدے چې "پښتانه شعراء" دَ خپل ادبي تاريخ په سلسله کښې يو قوی دليل بيامومي.

ج : هم دغه خبره دَ "ج" په ضمن کښې هم کېدے شي. ښاغلی زلمی هېوادمل خپل کتاب "فرهنګ زبانَ و ادبيات پښتو" په ۱۳۵۶هش (۱۹۷۷ء) کښې چاپ کړے دے. تر دغه وخته دَ اکبر زميندَاوری دَ ديوان دَ څو پاڼو په باره کښې باوری اطلاع چاته نه وه حاصله چې دا پاڼې چرته دي. ښاغلی هېوادمل دَ پښتو ادب محققين او دانشمندان يادوی خو نوم ئې نه اخلي حالانکې ۱۹۷۷ء پورې دَ افغانستان اکثر اکابر او اعاظم ژوندی وو او اوس خو دَ ثور دَ انقلاب او له هغه پسه حالاتو په وجه دَ ملي ارشيف (ارکائيوز) دَ محفوظ پاتې کېدو ضمانت هم نشته نو څوک به څه ووائي چې دغه پاڼې څه شوې او اوس چرته دي خو که دا پاڼې پېدا هم شي نو دا سوال پخپل ځائې پاتې کيږی چې له ۱۳۲۰هش (۱۹٤۱ء) نه تر اوسه دَ دې زړو پاڼو دَ موجودګۍ تفصيلات لکه دَ يو مقدس راز ولې مخفي ساتلی شوی دي.

دَ "د" دَ نکتې مطلب دا دے چې لکه څنګه چې دَ ښاغلی حبيبي مرحوم وېنا رانقل شوه دَ اکبر زميندَاوری په باره کښې دَ "پښتانه شعراء لومړی ټوک" ټول تفصيلات په هغو څو پاڼو مبني دي چې دَ قندهار دَ هلمند په لټو کښې ليدلی شوی دي. دَ تاريخي نقطهٔ نظره دا صحيح خبره نه ده چې په لږو معلوماتو دې اکتفا وکړے شي

او دَ معلوماتو دَ تصديق او تائيد دپاره دې بله ذريعه اختيار نــه کړے شي. بې داسې صورت کښې دَ تېروتلو او تېراېستلو دپاره کافي مواقـع دي. ځکه لوپو ليکونکيو تل له داسې منابعو ځنې ځان ژغــورلے دے چې بلې کومې ازادې ذريعې نه ئې تصديق يا تائيد نه شي کېدے او دَ داسې کولو لوئې سبب دا وی چې يو کس پـورې محـدود معلومــات دَ دغه کس ذاتي رائې کېدے شي او داسې رائې ته تاريخي حقيقت وئيل ناممکن شي ځکه خو دَ تاريخ علماء خپله ادعا صرف په يو تاريخ نه ثابتوی بلکې په مختلفو ادوارو کښې دَ ليکلو شويو مختلفو تاريخونو نه استفاده کـوی او دَ تـاسف خبـره دا ده چـې دَ اکبـر زمينـداوری پـه سلسله کښې دا اصولي خبره دَ نظر لاندې نه ده ساتلې شوې او دَ اکبر زميناوری ټول حالات دَ څو پاڼو نه نه بلکې له يوه شعره اخذ شوی او اولس ته پېش کړے شوی دی.

دا شعر لکه چې مخکښې هم نقل شه داسې دے:

د مغلو تېمر هسې په اور وسوم

چې به هېر په دا ماتم زمينداور کړم

دَ دې شعر په باره کښې تر اوسه چا دَ غور کولو کوشش نــه دے کړے چې دَ شعر په اصل معنیٰ او له دې اخذ کېدونکې معنـیٰ کښـې څــه فرق دے. حبيبی مرحوم او دَ پښتو نور ليکونکی دَ دې شعـر پـه بـاره کښې دا تاثر ورکوی لکه چې اکبر زميناوری باندې دَ مغلو لـه لاسـه ډېر ظلمونه شوی وی او دې شعر کښې دَ هغو ظلمونو ماتم شوے دے. دا معنیٰ له دې شعره نه شي راوتلے. دَ شعـر (لکـه څنګـه چــې دے) معنیٰ دا ده. "دَ مغلو تېمر داسې په اور سوزولے يم چې دَ دې ظلم پـه

وجه (دَ) زمینداور (ظلم) هېر کړم." یعنې شاعر دا وائی چې په ما شوے ظلم دَ زمینداور دَ ظلم نه زیات دے. په یو ځیز بل ځیز هېرول دَ دواړو ځیزونو ترمنځه دَ مقابلې دپاره زمونږ دَ ژبې محاوره ده او روڼ مثال ئې دَ احمد شاه بابا په دې شعر کښې موندلے شی.

د ډیلی تخت هېرومه چې رایاد کړم

زما دَ ښکلی پښتونخوا دَ غرو سرونه

دَ احمد شاه بابا په دې شعر کښې دَ ډیلی دَ تخت او دَ پښتونخوا دَ غرو دَ سرونو مقابله کړې شوې ده او احمد شاه بابا دا فېصله ورکړې ده چې دَ هغه دپاره دَ پښتونخوا دَ غرونو دَ سرونو مقابله کښې دَ ډیلی تخت دَ هېرولو ځیز دے. دغسې دَ بحث لاندې شعر کښې هم دَ شاعر مطلب دا دے چې په هغه باندې دَ مغلو تېمر له خوا دَ شوېو ظلمونو مقابله کښې په زمینداور شوی ظلمونه دَ هېرولو ځیز دے. اوس چونکې زمونږ په تاریخ کښې په زمینداور دَ شوېو ظلمونو هیڅ ذکر نشته ځکه نو دا شعر څه اصلیت نه ښکاره کوی.

که دَ شعر دوېمه مصرع نظر انداز کړو نو وړومبۍ مصرعې نه دا ښکاری چې دَ شاعر او دَ "مغلو دَ تېمر" خپلو کښې براه راست دښمنی او عداوت وه او دَ دې دَ ثابتولو دپاره به یو ځل بیا دَ تاریخ پاڼې اړوو چې آیا دَ تېمور لنګ او دَ یو پښتون شاعر ترمنځه څه ذاتی عداوت وه؟ او متاسفانه یو ځل بیا تاریخ زمونږ دَ مفروضې تردید کوی. د دوېمې مصرعې دَ نظر انداز کولو په صورت کښې دَ وړومبۍ مصرعې بهتر شکل دا وه:

د تېمر مغلو هسې په اور وسوم

دا صورت ئې ځکه هم غوره دے چې دَ تېمور دَ ذاتي دښمنۍ نه به دَ شعر اشاره دَ مغلو او پښتنو ترمنځه رقابت ته لاړه شي او هر څو که دوېمه مصرعه به دَ "پښتانه شعراء لومړی ټوک" اخذ کړے مطلب ورکړي خو بیا هم دَ وړومبۍ مصرعې به څه معنیٰ خو پیدا شي.

دَ دې شعر په ضمن کښې له ټولو نه اهمه خبره دا ده چې دَ "پښتانه شعراء لومړی ټوک" لیکونکی دا شعر لرونکے غزل دَ اکبر زمینداوری دَ کلام دَ نمونې په طور نقل ولې نه کړه او تر اوسه دَ اکبر زمینداوری دغه غزل دَ اکبر زمینداوری په سلسله کښې دَ بحث په دوران کښې ولې پېش نه کړے شه. دَ افغانستان لیکونکیو سره دَ دې چې هغوی ته دَ اکبر زمینداوری دَ دیوان دَ دغو "څو زړو پاڼو" دَ کتلو بهتره موقع وه دَ دې شعر سره په غزل کښې شامل بل کوم شعر ولې چاپ نه کړے شه. او ولې ئې صرف په دې یو شعر اکتفا وکړه. حالانکې دا "څو پاڼې" ټولې چاپ کول دَ پښتو ادب په مفادو کښې وو. حبیبی مرحوم په "پښتانه شعراء لومړی ټوک" کښې دَ اکبر زمینداوری اته څلوېښت (٤٨) شعرونه رانقل کړی دی. دیو کښې پینځه شعرونه دَ یو غزل او اووه دَ بل غزل دی. دَ :

چې به هېر په دا ماتم زمینداور کړم

غزل که پوره رانقل شوے وے نو زیات نه زیات به ۵۵ شعرونه شوی وو چې دَ موضوع له اعتباره ئې ډېر اهمیت لرلو خو افسوس چې داسې ونه کړے شو او اوس دَ هر باشعوره قاری به هم دا اعتراض مخې له راځي چې دَ اکبر زمینداوری غېر اهم غزلونه رانقل کېده نو دا دومره اهم غزل ولې نظر انداز کړے شه.

دَ اکبر زمینداوری سره منسوبه مثنوي کښې یو شعر دا هم دے:

که نژدې که په هواد یم
زه دَ ده په خیال و یاد یم

دَ دې شعر مقابله دَ عبدالقادر خان ختک دَ یوسف زلیخا دې شعر سره وکړئ:

که نژدې که په هواد دی
که په زړه لکه فولاد دی

دَ دواړو شاعرانو تر منځه دَ دریو صدیو دَ فرق باوجود دَ دواړو دَ شعرونو صرف مزکه او وزن یو نه دے بلکې دَ وړومبی مصرعې الفاظ ئې هم یو دی. دَ حسن توارد یا سرقه خبره به یو خوا پرېږدو. آیا په یوه ژبه کښې انداز بیان، اسلوب او بندشونه تر دریو صدیو یو شان پاتې کېدے شی. دا خو عجیبه خبره ده چې دَ روښانیانو شاعرانو ژبه دې دَ اکبر زمینداوری او عبدالقادر خان ختک سره فرق ولری خو دَ اکبر زمینداوری او عبدالقادر خان ختک ژبه دې یو شان وی. ژبه هم دَ یو ژوندی اندام په شان وده کوی او زړیږی. که دَ اکبر زمینداوری ژبه او دَ عبدالقادر خان ژبه یو شان وی او تر دا منځه ئې دَ روښانیانو ژبه بل شان وی نو دا نتیجه به ترې حاصلیږی چې دَ روښانیانو دور کښې پښتو ژبې زوال موندلے وه او سل کاله پس ترې ژبه بیا هغې حال ته واپس شوه کوم چې په نهمه صدی کښې دَ دې ژبې وه. داسې فکر کول هم غیر سائنسی او غیر تاریخی دی او چونکې دَ اکبر زمینداوری ژبه او طرز دَ عبدالقادر خان ژبې او طرز سره یکسانیت لری نو ځکه

مونږ وئیلے شو چې اکبر زمینداوری دَ تېمور دَ زمانې (۷۷۱ــــ۸۰۷) شاعر هیڅ کله نهٔ دے. بلکې دَ عبدالقادر خان خټک او دَ هغهٔ نه پس ته دَ زمانې شاعر دے.

دَ اکبر زمینداوری ذکر پهٔ "پښتانهٔ شعراء لومړی ټوک" او ترې پس ته کتابونو کښې دَ اکبر زمینداوری پهٔ حېث کول هم دا ښکاره کوی چې دَ اکبر زمینداوری دریافت کونکے دے پهٔ دې نامه یادول غواړی ګنی نو لهٔ ۱۳۲۰هش (۱۹٤۱ء)نه مخکښې نهٔ چا اکبر زمینداوری پېژندو نهٔ ئې چا نامه اورېدلې وه. او نهٔ چرته دا نوم پهٔ تحریری شکل کښې څرګند وهٔ نو بیا بغېر له څهٔ ثبوت او اثباته یو شاعر ته یو نوم ورکول (چې هغهٔ ځان ته پخپله هم نهٔ دے اخستے) څهٔ معنیٰ لری.

او لهٔ ټولو وروستی خبره دا چې دَ زمینداور دا اکبر چې دَ "محمد هوتک" وطندار او لهٔ هغهٔ درې صدۍ مخکښې تېر شوے وهٔ. دَ محمد هوتک دَ ادبی سفرونو، دَ هغهٔ دَ پلار دَ حافظې او دَ محمد رسول هوتک او رحمت هوتک دَ بیاضونو باوجود دَ پټې خزانې لهٔ صفحاتو بهر پاتې شهٔ او دیو ټولو څنګه او ولې نظر انداز کړهٔ.؟

کتابیات

۱. پښتانهٔ شعراء لومړے ټوک حبیبی. کابل

۲. تذکرة الشعراء سراج الدین سعید او صالح محمد هوتک. کابل

۳. فرهنګ زبان و ادبیات پښتو. زلمے هېوادمل. کابل

٤. یوسف زلېخا. دَ عبدالقادر خاِن خټک. کرسټومېتهی. سېنټ پیټرز برګ

٥. دیوان احمد شاه ابدالی. پښتو اکېډیمی. پېښور

٦. پټه خزانه. محمد هوتک . کابل

(درې میاشتنۍ کتابی سلسله مرکه مردان ۲۲ جون ۱۹۹۲ء)

دَ رحمان بابا دَ پېدائش او وفات کلونه

دَ پښتو دَ ادبي تاریخ یوه لویه مسئله زمونږ دَ لویو لیکونکیو دَ ژوند په باره کښې دَ معلوماتو کمی سره تعلق لري. رحمان بابا زمونږ دَ ادب یو ډېر روښانه ستورے دے او له بده مرغه له ټولو نه زیاته تیاره هم دَ دې روښانه ستوري دَ ژوند په واقعاتو خوره ده او په قطعیت سره مونږ دَ رحمان بابا دَ پېدائش او دَ وفات دَ کلونو په باره کښې هم دعویٰ نه شو کولے.

په شلمه صدۍ عیسوۍ (څوارلسمې صدۍ هجرۍ) کښې دَ نورو تاریخي معلوماتو دَ لټون دپاره دَ هلو ځلو په لړ کښې دَ رحمان بابا دَ پېدائش او وفات دَ کلونو په باره کښې هم دَ خیال انګېزیو یو مهم شروع شه او دَ دې مهم په دوران کښې په ورومبي ځل دا ووئېلے شو چې دَ رحمان بابا دَ ژوند زمانه له ۱۰۵۰ هجري تر ۱۱۲۰ هجري پورې تخمین کولے شو. (۱) دَ وفات دَ کال یعنې ۱۱۲۰ هجري دپاره خو دَ تخمین بنیاد دَ بهادر شاه په باره کښې دَ رحمان بابا شعر ګڼلے شوے دے (۲) ولې دَ پېدائش په باره کښې ئې هیڅ بنیاد نه دے ښئیلے شوے.

"پټه خزانه" (مطبوعه ۱۳۲۳ هش مطابق ۱۹٤٤ ء) دَ رحمان بابا دَ پېدائش کال ۱۰٤۸ او دَ وفات کال ئې ۱۱۱۸ھ ښئ. دا دواړه تاریخه دَ "محمد رسول هوتک علیه الرحمة" دَ بیاض په بنیاد

بیانوی خو دَ "محمد رسول هوتک علیه الرحمة" په باره کښې هیڅ معلومات نه ورکوی ځکه نو مونږ دا نه شو وئیلے چې دَ "محمد هوتک" دا سند باوری هم دے او که نه.

دلته دا خبره دَ یادولو ده چې "دَ رحمان بابا دَ زېږېدو او مړینې کلونه" (۳) نومې مقاله "محمد رسول هوتک علیه الرحمة" په ۱۱۳۰ هجری کښې پېښور ته رسوی، "یونس خېبری" سره ئې ملاقی کوی او وائی چې هغه له دې ځایه قندهار ته دَ رحمان بابا په حقله کره او پاخه معلومات له ځان سره وړی دی او داسې دعویٰ کوی چې په "دې دلیل دا سند ډېر پخیږی" حالانکې دا ټوله خبره محض افسانه ده. "پټه خزانه" چې کوم سړے "یونس خېبری" ته رسوی دَ هغه نوم محمد رسول کلاتوال نه بلکې دَ "محمد هوتک" دَ وینا مطابق دَ هغه تربور "رحمت هوتک" دے. (٤) او دې ښاغلی یعنې "رحمت هوتک" دَ "پټې خزانې" مؤلف ته دَ رحمان بابا په باره کښې له دې نه بغېر نور هیڅ معلومات نه دی ورکړی چې یونس دَ رحمان بابا شاګرد وه. ځکه نو دَ مقالې دا "باوری سند" هیڅ بنیاد نه لری.

دَ رحمان بابا دَ پېدائش دَ کال په باره کښې دَ پټې خزانې دَ روایت دَ عمارت دَ پرېوتو نه پس اوس مونږ سره دَ رحمان بابا دَ کلام دَ داخلی شهادت نه بغېر نور هیڅ باوری سند نه پاتې کیږی. دې داخلی شهادت ته دَ دغه مقالې په ص ٥٦ اشاره شوې ده. خو ډېر اهمیت نه دے ورکړے شوے. حالانکې که چرې دَ داخلی شهادت ذکر کیږی نو صرف هم دغه یو داخلی شهادت داسې دے چې اهمیت ورکول پکار دی او اګر چې دا "داخلی شهادت" قطعی او حتمی دلیل نه شو ګڼلے

خو صرف نظر ترې هم ممکن نه دے.

دَ اورنګ زېب دَ وفات او دَ بهادر شاه دَ باچايۍ ذکر لرونکې قصيده کښې دا شعر:

ترپنجاه تر پنجه تېر شوې
ته لا څان بولې پسر

موجود دے او صرف يوه نسخه کښې چې صرف دَ بحث لاندې مقاله کښې ئې ذکر شوے دے (خو تفصيل ئې نه دے بيان شوے) دا شعر داسې دے:

تر پنجاه و شصته تېر شوې
ته لا څـان بـولې پسر

او دَ دې يوې نسخې په بنياد دا دعوىٰ شوې ده چې "دا بېت په بېلابېلو نسخو کښې ثابت نه دے او بېلابېل واريانټونه (شايد ويرينټونه يعنې مختلف قراتونه. ناقل) او نسخه بدلونه لرى" (٥) حالانکې دَ رحمان بابا ټولو قلمى نسخو کښې چې ما دَ کليات دپاره کتلى دى دا شعر داسې دے:

ترپنجاه تر پنجه تېر شوې
تـه لا څـان بولې پسر

دَ دې شعر په باره کښې عام طور سره دا خيال کيږى چې دا رحمان بابا په ۱۱۱۹هجرى کښې ليکلے وه حالانکې دَ داسې خيال دپاره هيڅ قرينه نشته. مونږ صرف دا وئيلے شو چې دا شعر دَ ۱۱۱۹ﻫ نه پس ليکلے شوے دے. ولې که په ۱۱۱۹ﻫ کښې مونږ دَ رحمان بابا عمر ٥٥ کاله فرض کړو نو دَ رحمان بابا دَ پېدائش کال ۱۰٦٤ﻫ راوځى او

که داسې وی نو دَ خوشحال بابا دَ وفات په وخت په ۱۱۰۰ھ کښې به دَ رحمان بابا عمر ۳٦ کاله منل پکار وی. ولې داسې کول به ډېر غلط وی ځکه چې که چرې دَ خوشحال بابا دَ مرګ په کال رحمان بابا دَ ۳٦ کالو وے نو دا به ډېره غېر اغلبه خبره وه چې خوشحال بابا به ئې دَ شاعر په حېثیت ذکر نه کولو.

دَ خوشحال بابا په کلیات کښې دا قطعه موجوده ده:

(هر) چې لاف وهی دَ شعر
نن په دا دور دی ډېر
خدائې دې نه کا چې به وایم
حــال دَ دېو تــېر و بـېر
څوک پاوے څوک نیم پاوے دے
قــلندر په کښې نیم سېر
(چې) زمونږه په حساب دے
هیڅ مې نه دے واصل هــېر
بل دولت فقیر درې پاوه
زه ترې څو سرشاهی تېر
چې په سرائې کښې به پیدا شی
پس له قــرنه پــوره سېر (٦)

دې قطعه کښې دَ ذکر شوېو ټولو شاعرانو نه رحمان بابا دَ شاعر په حېثیت ډېر عظیم دے او دَ خوشحال بابا غُندې نقاد نه هډو دا امېد نه شی کېدے چې هغه به دومره عظیم شاعر نظر انداز کړے وی او که څوک دا وائی چې دَ دې قطعې لیکلو په وخت کښې خوشحال بابا ته دَ

رحمان بابا کلام نۀ وو رسېدلے ځکه ئې هغۀ ذکر نۀ دے کړے نو دا وضاحت به ځکه غلط وی چې لۀ دې قطعې نه بغېر هم خوشحال بابا ځو ځو ځل دَ نورو شاعرانو ذکر کړے دے ځکه نو دَ عمر پۀ هره حصه کښې کۀ دَ خوشحال بابا غُندې عظیم نقاد ته دَ رحمان بابا غُندې دَ عظیم شاعر کلام رسېدلے وے نو هغۀ به ئې خامخا ذکر کونو او چې خوشحال بابا دَ رحمان بابا ذکر نۀ دے کړے نو څرګنده خبره ده چې دَ خوشحال بابا د مرګ کال یعنې ١١٠٠ھ پورې دَ رحمان بابا عمر هیچرې ٣٦ کاله نۀ وو ځکه چې پۀ دومره عمر کښې به دَ هغۀ کلام دَ معیار او مقدار لۀ رویه دومره وو چې دَ خوشحال بابا توجه به ئې ځان نه راګرځوله.

یوه بله خبره هم دې ضمن کښې نظر انداز کول نۀ دی پکار. دَ خوشحال بابا مشر زوی اشرف خان هجری پۀ ١٠٩٢ھ کښې ګرفتار شوے او هندوستان ته استولے شوے وو چې بیا هم هلته پۀ ١١٠٦ھ کښې وفات شو. دو لکه چې مخکښې به ئې ذکر وشی، پۀ خپله قصیده کښې دَ رحمان بابا ذکر کړے دے. ظاهره ده چې کۀ تر ١٠٩٢ھ دو دَ رحمان بابا کلام لُستے وے نو دَ خوشحال بابا پۀ باره کښې هم دا امېد کېدے شو چې هغۀ به هم لُستے وو. خو هرکله چې دَ خوشحال بابا پۀ کلام کښې دَ رحمان بابا ذکر نشته نو لکه چې عرض وشو تر ١١٠٠ھ پورې دَ رحمان بابا خپل عمر او دَ هغۀ شاعرانه ژوند دومره نۀ وو چې "پښتونخواګیر" شهرت ئې حاصل کړے وے او څرګنده شوه چې اشرف خان ته دَ هغۀ دَ شاعرئ علم دَ ١١٠٠ھ نه تر ١١٠٦ھ پورې دور کښې شوے دے.

اشرف خان هجری په خپل دیوان کښې دَ رحمان بابا ذکر داسې کوی:

دَ رحمان په وئیل ځائې دَ لقب نشته
چې ئې ما شعر منظور کړه معتبر دے (٧)

عام طور سره زمونږ نقادانو دَ دې شعر نه مخکښې دا شعر هم:

خوږ زبان په زمانې شکرې لونی
هغه واف چې مستقر ئې پښور دے

دَ رحمان بابا په باره کښې ګڼلے دے حالانکې دا شعر دَ قلندر په باره کښې دے. دَ خپلې خبرې دَ ثابتولو په غرض زه دَ دې نظم متعلقه شعرونه لاندې لیکم:

شاعران دَ پښتنو ګویا څېره دی
د مرزا شعر شمله بلکې افسر دے
تکلف په دا کښې نشته باور وکړه
په دا فن ئې ګوئې وړے له یو هر دے
نن په دا دور که ښه شاعران ګورې
که دوه درې تنه دګر یو قلندر دے
خوږ زبان په زمانې شکرې لونی
هغه واف چې مستقر ئې پښور دے
دَ رحمان په وئیل ځائې دَ لقب نشته
چې ئې ما شعر منظور کړه معتبر دے (٨)

تاسو وکتل چې دَ هر شاعر دَ ذکر نه پس ته شعر دَ هغه په تعریف کښې لیکلے شوے دے ځکه نو دَ قلندر دَ ذکر نه پس دَ:

خوږ زبان په زمانې شکرې لوني

هغه واف چې مستقر ئې پېښور دے

شعر دَ قلندر په باره کښې دے او زمونږ محترم نقادان دَ دې شعر په باره کښې دَ غلط فهمۍ ښکار شوی دی. ما چې په کوم شکل کښې دا شعر رانقل کړه دا دَ قلمی نسخې نه زما قرأت دے که دَ چاپی نسخې قرأت پسې لاړ شو او شعر داسې ولولو:

خوږ زبان ئې په زمان شکرې لوني

هغه واف چې مستقِر ئې پېښور دے

نو بیا تر یوه حده هغه دَ نور بحث سوال نه پېدا کیږی او وړومبی مصرعه کښې دَ "ئې" ضمیر غائب به خامخا قلندر ته راجع کیږی ځکه چې لا دَ رحمان بابا ذکر نه دے شوے او "اضمار قبل الذکر" پراخې عربی کښې نه بلکې هره ژبه کښې غلط دے ځکه زما په یقین دَ چاپی نسخې قرأت څه بنیاد نه لری.

یوه بله خبره هم دې سلسله کښې ډېر اهمیت لری. اشرف خان هجری دَ رحمان بابا دَ شعر دَ معتبر کېدو ثبوت دا بیانوی چې ده یعنې اشرف خان هجری ئې شعر منظور کړے دے که دا ثبوت څوک ومنی نو بیا:

خوږ زبان په زمانې شکرې لوني

هغه واف چې مستقر ئې پېښور دے

به خامخا دَ رحمان بابا دپاره نه بلکې دَ قلندر دپاره گڼی ځکه چې دا شعر تېرله زمانه دَ شاعر دَ شېرین زبانی قائله گڼی او دې پسې شعر کښې هجری صرف دَ خپل تنقیدی شعور په بنا دَ رحمان بابا شعر

قابل اعتبار منی.

زما دا توجیه په دې لحاظ هم صحیح ده چې اشرف خان هجری ته تر خپله مرګه یعنې ۱۱۰٦ھ پورې دَ رحمان بابا ټوله شاعری نه وه رسېدلې. کم از کم دا شعرونه:

پو خوشحال یو کم سل خټک نور په طبیعت کښې

ځــار شــه دَ رحــمان سرېنی له یــوه فرده

دا غزل په جاشیه وکښه رحمانه

دَ خوشحال دَ بیاض پاڼې به ورېږدی

که ئې شعر دَ رحمان مومند تر غوږ شی

غوږ به نه باسی په شعر دَ خوشحال څوک

خوشحالا او دولتا مې غلامان دی

زه رحمان په پښتو ژبه عالمګیر یم

خو په هیڅ صورت اشرف خان هجری ته نه وو رسیدلی. دا زه ځکه وایم چې دَ اشرف خان هجری په دیوان کښې دَ قلندر مومند یو غزل راغلے دے چې ځنې شعرونه ئې دا دی:

نوے طرز مې په پښتو ژبه کښې وکړه

دَ افغان په شاعرانو کښې سلطان یم

په پښتو کښې چې څوک دم وهی دَ شعر

خوشه چین مې دی دَ ځېلمې زه دهقان یم

وَ پښتو ژبې مې آب ورکړه په شعر

دَ فارسی شعر چې نه وایم افغان یم

دَ دې غزل په ځواب کښې اشرف خان هجری یوه "قصیده" لیکلې ده

چې دا شعرونه ئې دَ غور قابل دی:

دا مهینه قصیده چې مې انشا کړه
عجب کړے په اشعار قلندر خان یم
ما ئې شعر هسې ډک له فخره ولید
چې حېران ئې دَ شاعر په دا گُمان یم
هومره کبر بډائی کا په خپل شعر
وائې شه په دا هنر دَ شاعران یم
دَ پښتو ژبه مې نوې کړه په نظم
دَ مغل په شعر هم عالی مکان یم
خوشه چین دَ پښتو ژبې شاعران دی
زه دهقان دَ بلاغت فېض رسان یم
چې عطا دَ وېرو کا دانه ئې نه وی
خندا وړے په عطا دَ دې دهقان یم
دَ پښتو شعر ئې سم له ډېرو نه دے
دَ مغل دَ شعر لاف وهی حېران یم
شاه دَ شعر په پښتو ژبه هغه دے
چې ئې زه حلقه بگوش دَ شاگردان یم (۹)

نو که دَ رحمان بابا دا ذکر شوی شعرونه اشرف خان هجری لُستی وے نو دا شعرونه به هم ترې بې خوابه نه وو پاتې شوی. په دې دلیل مونږ دا وئیلے شو چې دَ اشرف خان هجری تر مرگه (۱۱۰۶ھ) پورې دَ رحمان بابا شاعرانه عمر دومره نه وه چې مونږ ئې دَ ۱۰۶٤ھ کال دَ پیدائش کال وگڼو. تر ۱۱۰۶ھ پورې که مونږ ډېر فیاضانه قیاس هم

وکړو نو دَ رحمان بابا عمر به ۲۵ کاله وګڼو او په دې حساب به دَ هغه دَ پیدائش کال ۱۰۸۱ﻫ نه مخکښې هیڅ کله نه وی.

دَ رحمان بابا دَ وفات دَ کال په باره کښې هم دَ هغه دَ پیدائش دَ کال په شان اختلافات دی.

"پټه خزانه" دَ رحمان بابا دَ وفات کال ۱۱۱۸ﻫ بیانوی او دَ افغانستان اوسنی لیکونکی وائی چې دا دَ کاتب تېروتنه ده چې دَ ۱۱۲۸ﻫ په ځائې ئې ۱۱۱۸ﻫ لیکلے دے. او دا تېروتنه دَ دستاوېز دَ اخرنی کاتب "محمد عباس کاسی" دَ "باستعجال تمام قلمی شد" (په ډېره بیړه ولیکلے شه) په الفاظو دَ درګزر قابله ګڼی.

زما محترم لُستونکی له هغې رائې واقف دی چې زه ئې دَ پټې خزانې په باره کښې لرم. ځکه دلته ئې تکرار نه کوم البته دومره عرض به ضرور وکړم چې "باستعجال تمام قلمی شد" عذر دَ رحمان بابا دَ وفات دَ کال په سلسله کښې قابل سماعت نه دے ځکه چې که "محمد عباس" دَ بیړې په وجه دَ ۱۱۲۸ﻫ په ځائې ۱۱۱۸ﻫ ولیکلو نو دَ پټې خزانې دَ محشی او مفسر ښاغلی عبدالحئ حبیبی مرحوم له نظره دا غلطی ولی پټه پاتې شوه او هغوی په دې کتاب دَ مفصلو نوټونو لیکلو په وخت کښې دې غلطۍ ته ولې اشاره ونه کړه.

که څوک دا ووائی چې ښاغلی حبیبی مرحوم ته دا علم نه وه چې دَ رحمان بابا دَ وفات اصل کال کوم یو دے ځکه هغوی په پټو سترګو دَ "محمد هوتک" یا دَ "محمد عباس" لیکلے کال (۱۱۱۸ﻫ) صحیح وګڼلو نو دا به صحیح نه وی ځکه چې له پټې خزانې نه اګاهو عبدالحئ حبیبی مرحوم "پښتانه شعراء لومړے ټوک" مرتب کړے وه

او دي کتاب کښې (له غلطۍ څنې) ښاغلی عبدالحئ حبیبی مرحوم دَ بهادر شاه اول دَ تخت نشینۍ کال ۱۱۱۸هـ لیکلے دے. او دا ئې وئیلی دی چې "دَ رحمان بابا ژوند دَ ده له وینا څخه (سم) دَ شاه عالم تر جلوسه (۱۱۱۸هـ) یقینی دے.(۱۰) دا په میاشتو کښې دننه دَ ۱۱۱۸ هندسه دَ حبیبی مرحوم خپل لیک دے.

دا غلط فهمی ښاغلی حبیبی مرحوم ته څکه شوې وه چې دَ مغلو په خاندان کښې چې یو بادشاه کله مړ یا له تخته محروم شوے دے نو بغیر له څه فصله بل بادشاه ورپسې په تخت ناست دے لکه چې له دې نقشې به ثابته شی:

بابر : ۹۳۲ـــ۹۳۷

همایون : ۹۳۷ـــ۹٦۳هـ (۹٤۷ هـ نه ۹٦۱هـ پورې همایون له تخته محروم وهـ.)

اکبر : ۹٦۳ـــ ۱۰۱٤هـ

جهانګیر : ۱۰۱٤ـــ ۱۰۳۷هـ

شاهجهان : ۱۰۳۷ـــ ۱۰٦۸ هـ (معزول)

اورنګ زیب : ۱۰٦۸ـــ ۱۱۱۸هـ (۱۱)

له بده مرغه دَ اورنګ زیب په سلسله کښې دا روایت څکه قائم پاتې نه شه چې دَ ده وفات دَ ذوالقعده ۱۱۱۸هـ په ۲۸ په احمد نګر (دکن) کښې وشه او چې دَ کابل صوبې ته، چې هغه وخت شاه عالم ئې صوبه دار وه دَ بادشاه دَ وفات خبر رارسېدو نو دا دَ لوئی اختر دَ میاشت۲۷ تاریخ وه چې دوه یا درې ورځې په ۱۱۱۸هـ کښې پاتې وې. تاریخ کښې دا هیچرته نشته چې دَ پلار دَ مرګ دَ خبر

رارسېدو سره شاه عالم دَ خپل بادشاهت اعلان کړے وه او اګر چې دَ مشر زوی په حېثیت حق هم دَ هغه وه خو دے چې له پښتونخوا روانېده نو دَ بادشاه په حېثیت نه بلکې دَ بادشاهۍ دَ امیدوار په حېثیت ئې سفر اختیار کړه او هم دغه وجه ده چې ده دَ خپلې بادشاهۍ اعلان په لاهور کښې دَ ۱۱۱۹ﻫ په ۳۰ محرم یا یکم صفر وکړه او هر کله چې ښاغلی حبیبی مرحوم دَ غلط فهمۍ په بنا دَ شاه عالم بهادر شاه دَ جلوس کال ۱۱۱۸ﻫ وګڼلو نو ځکه ئې دَ رحمان بابا ژوند تر ۱۱۱۸ﻫ یقیني ومنلو. او هم دغه غلط فهمی "محمد هوتک" ته هم وشوه ځکه نو دا وېنا صحیح نه ده چې "پټه خزانه" کښې لیکلے دَ رحمان بابا دَ وفات کال (۱۱۱۸ﻫ) دَ کتابت غلطي ده چې اصل کښې ۱۱۲۸ﻫ وه. دَ دې په مقابله کښې ښاغلی حبیبی مرحوم تر ۱۹۵۳ء پورې په دې اصرار کولو چې دَ ۱۱۱۸ﻫ دا کال صحیح دے.(۱۲) او دَ محمد عباس کاسی دَ "باستعجال تمام قلمی شد" عذر ئې نه پیش کولو او چې دَ ګل خان جمال خان دَ واقعې په باره کښې دَ راورټی نه پس دَ تاریخ مرصع حواله هم ومونډلې شوه او دا ثابته شوه چې په ۱۱۲۳ﻫ کښې رحمان بابا ژوندے وه نو دَ افغانستان محترمو لیکونکیو دَ پټې خزانې بیان ته دَ کتابت دَ غلطۍ نوم ورکړو او یوه نوې دعویٰ ئې دا وکړه چې دا کال په اصل کښې ۱۱۲۸ﻫ دے حالانکې دَ کتابت دَ غلطیو سره اګاه خلق دا ګواهی ورکولے شی چې دَ ۱۱۱۸ﻫ کښې دَ "۱" دَ هندسې دَ درېو ځلو دَ راتللو په وجه دَ کتابت غلطي امکان نه لری. دا کېدے شی چې دَ ۱۱۱۷، ۱۱۱۶ یا بلې کومې داسې هندسې چې درې ځل پکښې "۱" راغلے وی یو تر بله

التباس وشی او دغه هندسي ١١١٨ﻫ ولیکلے شی خو په موجوده صورت کښې دَ کتابت دَ غلطۍ عذر قابل سماعت نه دے.

دَ "غرڅې" دَ رحمان نمبر مقاله کښې دَ رحمان بابا دَ وفات کال کښې دَ کتابت دَ غلطۍ له دغه ذکره پس دَ یونس له دیوانه دَ محترم رشاد صاحب په حواله دَ یونس له یوې مصرعې دَ ١١٢٨ﻫ دَ رحمان بابا دَ وفات دَ کال په حېثیت استخراج شوے دے. دَ دې دعوې دَ یونس له یوې مصرعې:

چې له دې سرایه په نوې سرائې مهمان شه

نه دَ پروفېسر رشاد دَ تحقیق سره سم دَ ابجدی ارزښت له لوریه دَ ١١٢٨ﻫ کال راووځی. دې ضمن کښې داسې حساب شوے دے:

(١)	چې	٨
(٢)	په	٧
(٣)	له	٣٥
(٤)	نوې	٧٦
(٥)	دې	١٤
(٦)	سرائې	٢٧١
(٧)	سرایه	٢٧٦
(٨)	مهمان	١٣٦
(٩)	شه	٣٠٥

دَ دې ټولو میزان ١١٢٨ﻫ شوے دے حالانکې دَ صحیح حساب مطابق دَ دې میزان ١١١٨ﻫ دے ځکه چې دَ شپږم ټکی "ابجدی ارزښتی ٧٦ نه بلکې (ن و ی = ٥٠ + ٦ + ١٠) ٦٦ دے. له

دې مصرعې نه دَ (۱۱۱۸) اعداد راوکښل هم دَ جدید رسم الخط له رویه ممکن دی ځکه چې دَ یونس په زمانه کښې (بلکې له هغه نه هم ډېر پس) دَ پښتو لیک دود داسې نه وه لکه چې دَ یونس په دیوان کښې یا دَ غړکې په ذکر شوې مقاله کښې استعمال شوے دے.

اول خو دا خبره نظر انداز کول نه دی پکار چې دَ یونس دا "مرثیه" دَ "ش" په پټه کښې ده ځکه نو دَ مصرعې وروستے تورے "شه" نه بلکې "شَ" دے. په دې حساب ۵ترې نور هم کم کړئ یعنې اوس به ئې میزان ۱۱۱۳ شی. په زړه املا کښې "له"، "سرایه" او "په" کښې "ه" نه شوه لیکلے نو پنځلس ترې نور هم کم کړئ. داسې به دَ مصرعې اعداد ۱۰۹۸ شی او دا به ترې ثابته شی چې رحمان بابا دَ خوشحال بابا نه دوه کاله اګاهو وفات شوے وه.

خبره دلته نه ختمیږی دا وېنا هیڅوک هم په یقین نه شی کولے چې دَ مصرعې وړومبے تورے "چه" دے "چې" او که "چ" په دوېم صورت کښې به پینځه ور زیات شی او ۱۱۰۳ھ به شی او په درېم صورت کښې به ترې پنځه کم شی او ۱۰۹۳ به شی.

دې ضمن کښې دَ زوړ لیک دود مطابق دَ تاریخ ګویی څو مثالونه پېش کوم چې دا ترې ثابته شی چې متقدمینو دَ خپلې زمانې دَ املا مطابق تاریخونه وکښل او که مونږ دَ کالونو دَ راوکښلو په سلسله کښې دَ "پروفېسر رشاد" طریقه خپله کړو نو دَ زړو ټول تاریخونه به غلط کړو.

(۱) خوشحال خان دَ خپل زوی طاهر خان دَ وفات کال "طاهر ومړ پشباب کښ" نه ۱۰۹۸ ھ راوکښلے دے. دا مصرعه که دَ ننني املا

سره سمه ولیکلے شی نو دَ "طاهر ومړ په شباب کښې" په صورت کښې به ئې "ابجدی ارزښت" ۱۱۱۳ھ شی او په دې شان به دَ آئنده مؤرخ دا هم ووائی چې خوشحال بابا دَ خپل مرګ نه دیارلس کاله پس هم شاعری کوله.

(۲) خوشحال خان دَ خپلې رهایۍ تاریخ کښې چې دَ سید میر مور ته کوم کنځل کړی دی هغه مصرعه که دَ موجوده املا مطابق ولیکو نو دَ رهایۍ تاریخ به ۱۰۹٦ھ راووځی ځکه چې دَ "پکوزَ" په ځائې به "په کوزه" او دَ مصرعې اخر کښې به "ی" لیکو.

(۳) حافظ الملک، حافظ رحمت خان په کال ۱۱۸۸ھ کښې شهادت موندلے دے او دَ دوی دَ شهادت کال له "خانا دل راشا" (۱۳) نه ووځی. خو که دا الفاظ په موجوده املا کښې ولیکلے شی نو "خانه دلې راشه" به ترې جوړ شی او دَ حافظ رحمت خان دَ شهادت کال به ۱۲۰٦ھ ته ورسی.

دَ یونس دَ دې مرثیې په باره کښې دا هم یاد ساتل پکار دی چې دَ تاریخ مصرعه (دَ ښاغلی رشاد په خیال کښې) په منځ کښې بغېر دَ څه "اعلانه" راغلې ده چې دَ تاریخ ګویۍ په تاریخ کښې بل مثال نه لری.

اوس نو چې دا تاریخونه (۱۱۱۸ھ او ۱۱۲۸ھ) دواړه غلط شو نو سوال دا پیدا کیږی چې دَ رحمان بابا دَ وفات صحیح تاریخ به څه وی له ښه مرغه دَ رحمان بابا دَ وفات دَ کال په ضمن کښې هم دغسې یو دستاویزی ثبوت شته لکه چې دَ هغه دَ پیدائش دَ کال په سلسله کښې ئې ذکر وشه.

دا دستاویزی ثبوت دَ اخون ګدا پهٔ "نافع المسلمین" کښې یوه مرثیه ده چې هغهٔ دَ قائم خان بنګش پهٔ قتل وئیلې ده. (۱٤) دا مرثیه لهٔ دې شعره شروع کیږی:

دَ قائم دورې و دور هم دوران لاړ
دَ فلک پهٔ ګردش تار پهٔ تار ئې خان لاړ

دَ ٤٥ شعرونو پهٔ دې مرثیه کښې لهٔ ډېرو ښو شعرونو نه صرف نظر کوم او دَ خپل مقصد سره متعلق دوه شعرونه پیش کوم:

دَ تاریخ حساب ئې "بلغ العلیٰ" دے
لهٔ دنیا پهٔ دا تاریخ بلند مکان لاړ
زهٔ ګدا ئې پهٔ خپل ځائې باندې قائم کړم
لهٔ جهانه چې شاعر عبدالرحمان لاړ

دَ "بلغ العلیٰ" دَ دې مادهٔ تاریخ حواله ښاغلی حبیبی مرحوم دَ اخون ګدا دَ زمانې پهٔ باره کښې ورکړې ده.(۱٤) او دَ ۱۱۷۲ھ کال ئې ترې راوکښلے دے. هرکله چې حبیبی مرحوم دَ قائم خان پهٔ باره کښې دَ تفصیلاتو نه خبر نهٔ وهٔ نو ځکه ئې دَ بلغ العلی نه غلط کال راوکښلے دے او مقطع کښې پټ رمز ته ئې خیال نهٔ دے شوے.

قائم خان بنګش دَ فرخ آباد دَ ریاست دوېم نواب وهٔ چې دَ حافظ الملک رحمت خان دَ یو عزیز سعد الله خان سره دَ جنګ پهٔ نتیجه کښې بدایون سره نژدې پهٔ ۱٥ ذی الحجه ۱۱٦۲ھ قتل شوے وهٔ. دَ دهٔ دَ مرګ تاریخ دَ "قائم بهشت شد" نه هم راووځی. ځکه نو دَ بلغ العلی دَ مادهٔ تاریخ نه ۱۱۷۲ھ تاریخ راوکښل غلط دی. دَ اخون ګدا دَ دې تاریخ پهٔ سلسله کښې هم تقریباً هم هغه ټوقه شوې ده چې دَ

۱۱۱۸ھ او ۱۱۱۹ھ په سلسله کښې مو ولُسته. قائم خان دَ ۱۱٦۲ھ دَ لوئی اختر دَ میاشتې په پنخلسمه قتل شوے دے او چې دلته نې خبر راتللو نو خامخا به په ۱۱٦۳ ھ کښې رارسېدلے وی. اخون ګدا چې کومې مادې نه دَ ۱۱٦۳ھ تاریخ رااېستے دے هغې کښې دَ (عُلیٰ) دَ وروستې "ی" په ځائې "علا" ګڼلے شوے او دَ "العلیٰ" وړومبے الف نه دے شمارلے شوے. په دې طریقه دا ماده "بلغل علا" ده. چې لیکونکی ئې دَ ۱۱٦۲ھ دَ کال دَ وروستۍ میاشتې واقعه دَ ۱۱٦۳ھ دَ کال دَ وړومبۍ میاشتې ګڼلې ده او دَ مطلع "رمز" دا ښئیی چې دَ قائم خان بنګش دَ قتل واقعې نه اخون ګدا ته دَ شاعر عبدالرحمان په ځائې دَ خپل ځان دَ "قائم" کېدو خیال راغلے دے. په دې لحاظ دَ رحمان بابا دَ وفات کال ۱۱٦۳ھ راوځی. فهو المطلوب.

که داسې نه وی نو دَ قائم خان دَ قتل دَ ذکر او دَ دغه واقعې دَ کال دَ بیانولو نه پس دَ اخون ګدا له خوا دَ عبدالرحمان بابا دَ قائم مقام کېدو دعویٰ نور څه مطلب لری. دا درې واړه خبرې چې سره یو ځائې کړو نو صفا مطلب ئې دا دے چې دَ اخون ګدا په خیال کښې دَ ۱۱٦۳ھ دَ کال درې لوئې واقعې دی یوه دَ قائم خان قتل، دوېمه دَ رحمان بابا وفات او درېمه دَ رحمان بابا په ځائې په شاعرۍ کښې دَ اخون ګدا دَ هغه قائم مقام او جانشین کېدل دی او چې دا هر څه ومنو نو دَ رحمان بابا په باره کښې به اوس لږ په کلکه دا ووئیلے شو چې دَ هغوی پېدائش په ۱۰۸۱ھ او وفات ئې په ۱۱٦۳ھ کښې شوے وه. او داسې دَ رحمان بابا عمر دوه اتیا کالو ته ورسی. او دَ هغه دَ دراز عمر په باره کښې دَ هغه دَ خپل شعر دپاره بنیاد پېدا

شی چې وائی:

دراز عمر مې حاصل شه له راستیه
لکه سرو مدام سبزه تازه پایم (۱٦)

حوالې

۱. پښتانه شعراء لومړے ټوک ص ۱۹۳
۲. دَ رحمان بابا شعر دا دے:
اوس نوبت دَ شاه عالم دے
دور طور شه دګر (کلیات ص ۸٤)
خو پښتانه شعراء کښې صرف وړومبۍ مصرعه راغلې ده او هغه هم غلطه یعنې په دې شکل "اوس دَ شاه عالم نوبت دے"
۳. غړګه رحمان نمبر ۱۹۸۵ء ص. ۵۵
٤. پټه خزانه دوهم چاپ ص ۱۱٤
۵. غړګه رحمان نمبر ۱۹۸۵ء ص. ۵٦
٦. کلیات دَ خوشحال بابا دوېم ایډیشن ص ۸٦۱ او ۸٦۲
۷. دَ اشرف خان هجری دیوان قلمی او چاپی نسخې
۸. پښتانه شعراء لومړے ټوک ص. ۱۹۳
۹. تاریخ هندوستان دَ شمس العلماء مولوی ذکا الله خان
۱۰. دَ حبیبی مرحوم اخبار "ازاد افغانستان" پېښور دَ ۱۵ جون ۱۹۵۳ء ګڼه.

١١. غړګه رحمان نمبر ص.٦٠
١٢. حيات حافظ رحمت خان سيد الطاف علی بريلوی
١٣. نافع المسلمين دَ ١٣٣٠ھ مطابق ١٩١٣ء چاپ ص ص ٣٠٠ـــ٢٩٨
١٤. پښتانه شعراء لومړے ټوک ص. ٣٥١
١٥. عهد بنګش دَ مفتی ولی الله خړابادی ص. ١١٢
١٦. دَ رحمان بابا کليات ص. ١٤١

("رحمان پوهنه" رحمان ادبی جرګه پېښور ١٩٩٣ء)

کامل مرحوم او پټه خزانه

ما دَ خپل کتاب "پټه خزانه فی المیزان" وړومبی خبرې داسې شروع کړې وې:

" ما چې دَ پټې خزانې په باره کښې وړومبی مقاله ولیکله او خپل ګران او محترم ملګری او استاذ ښاغلی دوست محمد خان کامل مومند ته مې لږ چاپ کېدو نه مخکښې واوروله نو هغوی هغو نتیجو سره دَ کلی اتفاق اظهار وکړو چې ما ئې پخپله مقاله کښې ذکر کړے وه. لږ دې نه پس محترم کامل مرحوم پنځه کاله ژوندے وه او دَ پټې خزانې په باره کښې ئې نه صرف زما رائې سره همېشه اتفاق کړے دے بلکې څو ځله ئې دا اراده ظاهره کړې وه چې دَ پټې خزانې په باره کښې خپل خیالات لږ نور وضاحت سره پښتون اولس ته پېش کړی خو دَ "۱٦۳۰ء" لیک او بیا دَ هغوی رنځورتیا هغوی له فرصت ور نه کړه او دَ هغوی دا اراده پوره نه شوه." (۱)

زما دَ دې اقتباس دَ نقل کولو نه پس چې ښاغلی زرین انځور په خپله مقاله کښې په ما کوم اعتراضات کړی دی دَ هغو اختصار دا دے:

۱. په تحقیقی لیکنو کښې هیڅ کله په داسې شفاهی حوالو (او هغه هم دَ یو مرحوم لیکوال په باب) استناد نه شی کېدلے...

۲. که چرې مرحوم استاذ کامل مومند ته دَ پټې خزانې په باب

څه شک پیدا شوے وه او یا ئې دَ پټې خزانې په کوم اړخ دَ څه لیکلو نیت لرلے نو خامخا به ئې ... لیکلے څرګند کړے وے او چاپ کړے وے.

۳. اوس څوک څنګه دَ هغه پیاوړی استاذ له وفات څخه څو کاله وروسته دا خبره دَ سند په توګه کولے شی چې ما ته ئې یو وخت داسې وئیلی وو.

٤. علمی لیکنه سند غواړی او له سند او شهادت پرته باید نور څه و نه منل شی.

٥. اوس دَ هغه مرحوم استاذ په باب دَ داسې خبرو کول دَ علمی او تحقیقی لیکنې په څولۍ کښې هیڅ کله نه شی ځائېدلے. (۲)

دا پنځه واړه نکتې ما هم دَ ښاغلی زرین انځور په الفاظو کښې لیکلی دی خو املا مې ورلره داسې بدله کړې ده لکه چې ښاغلیو آصف صمیم او زرین انځور زما دَ اقتباساتو املا بدله کړې وه.

په دې پنځو واړو نکتو دَ تفصیلی بحث نه اګاهو زه له ښاغلی زرین انځور نه دا پُښتنه کول غواړم چې دوی هم دغه اعتراضونه دَ ښاغلی عبدالحیٔ حبیبی مرحوم په هغه دعویٰ ولې نه کوی چې دَ پټې خزانې دَ قلمی نسخې په باره کښې دَ علامه عبدالعلی اخونزاده له وفاته پس ښاغلی حبیبی کړې ده او ما پرې په "پټه خزانه فی المیزان" کښې مفصل بحث کړے دے.(۳) ځکه نو پکار خو دا وو چې ما دا بحث په دې رالنډ کړے وے چې څه چې ستاسو ځواب وی هم هغه زما ځواب دے. خو زه دَ ښاغلی انځور دَ پنځو

واړو نکتو نه دَ راوتونکي نتیجې مفصل ځواب ورکول غواړم او خدائې پاک دې وکړی چې زما په ځواب دَ نباغلی انځور او دَ هغوی دَ نورو ملګریو تسلی وشی.

زما په خیال کښې دَ پټې خزانې دَ چاپ کېدو نه پس په وړومبی ځل کامل مرحوم دَ دې کتاب په یوه حصه تنقید کړے وه. دا حصه دَ رحمان بابا دَ وفات دَ تاریخ سره متعلقه وه چې پټه خزانه ئې ۱۱۱۸هجری بیانوی(٤) او کامل مرحوم پرې داسې تنقید کوی:

" دَ مُلا عبدالرحمٰن دَ ولادت او وفات دَ تاریخ په باره کښې صحیح علم نشته. دَ پټې خزانې مؤلف دَ دوی ولادت په ۱۰٤۲ هجری او وفات په ۱۱۱۸ هجری کښې لیکلے دے. تر څو چې دَ وفات دَ مبینه کال تعلق دے دَ دې دَ غلط کېدو ډېر قوی دلیل موجود دے. دَ عبدالرحمان دیوان کښې دَ اورنګ زیب دَ زامنو محمد معظم شاه عالم او دَ محمد اعظم دَ جنګ ذکر دے چې دَ اګرې او دولپور تر منځه دَ جاجو په مېدان کښې په ۱۸ ربیع الاول ۱۱۱۹هجری (۱۸ جون ۱۷۰۷ء) شروع شوے او درې ورځې پس دَ شاه عالم په فتح منتج شوے وه. دَ ولادت دَ مبینه کال متعلق هم څه وئیلے نه شو.دَ وفات دَ کال دَ غلطېدو په وجه هغه هم مشکوک شی. پټه خزانه ص. ۹۳. (٥)

هر څو که دَ وفات دَ کال دَ غلطېدو په وجه دَ ولادت دَ کال دَ مشکوکېدو عقیده لرل دا نتیجه هم پیدا کولے شی چې دَ رحمان بابا چې دَ پټې خزانې دَ مؤلف معاصر وه دَ ولادت او وفات دَ کلونو دَ غلطېدو په سبب دا ټول کتاب مشکوک دے خو مونږ به دَ کامل

مرحوم عقیده کښې دومره توسیع نه کوؤ څکه چې وروستو به هم دغه عقیده د هغوی په خپلو الفاظو کښې څرګنده شي.

دَ خوشحال بابا په باره کښې دَ کامل مرحوم دَ اُردو کتاب په دې حاشیه ښاغلی عبدالحئ حبیبی مرحوم چې هغو ورځو کښې پېښور کښې وه یو جوابی مضمون ولیکلو چې دَ کامل مرحوم استنباط ئې غلط وګڼلو او دا دلیل ئې پېش کړو چې دَ رحمان بابا په قصیده کښې دا:

شاه عالم اعظم وګوره چې ئې خسا کړ

په خونونو واړه ملک دَ هندوستان

اشاره هغو جنګونو ته ده چې دَ دواړو وروڼو تر مینځه واقع شوی وو.(٦) دَ دوی دَ دې مضمون په ځواب کښې ښاغلی کامل مرحوم یوه بله مقاله ولیکله(٧) چې پکښې ئې دَ حبیبی مرحوم دَ بیان کړیو واقعاتو او دلیلونو تشریح وکړه او دَ معتبرو اسنادو په بنا ئې په تفصیل سره په دې بحث کړے وه چې دَ دواړو وروڼو (شاه عالم او اعظم) په مینځ کښې دَ پلار په ژوند او نه تر پس بې دَ جاجو دَ جنګ نه بل کوم جنګ شوے وه.(٨) او له دغه پسه ښاغلی حبیبی مرحوم څه ځواب ور نه کړه او دغسې ئې دَ رحمان بابا دَ وفات دَ کال په سلسله کښې دَ پټې خزانې او خپله غلطی تسلیم کړه.

لکه چې مې مخکښې عرض کړے دے دا دلیل زه دومره نه اوږدوم خو کم از کم دا ترې ثابتوم چې کامل مرحوم دَ پټې خزانې روایت داسې نه ګڼلو چې زمونږ دَ افغانستان وروڼه ئې ګڼی. دې ضمن کښې دَ کامل مرحوم دَ کتاب "رحمان بابا" نورې حوالې هم پېش

کېدے شی چې دا تـرې ثـابتیږی چې هغـوی پټـه خزانـه یـو تاریخـی دستاویز نه بلکې افسانه او قصه ئې ګڼله.(۹) او دا ئې عقیده وه چـې په پټه خزانه کښې نورې هم ځنې غلطې خبرې او ضعیف روایات دَ هغه وخت او کسانو په باب لیکلی بیاموندهٔ شی چې دَ کتـاب "پټـه خزانه" دَ مؤلف دَ ژوند زمانې سره سم یا هغې ته ډېر نـژدې وو. (۱۰)

دَ پټې خزانې په موجودګۍ کښې چې کامل مرحوم وائی:

"دَ رحمان بابـا دَ ذات او ژونـد پـه بـاب .... نـور هیـڅ نـهٔ دی معلوم چې په حېثیت دَ تاریخ قبـول کړے شـی." (۱۱) نـو لـهٔ دې دا نتیجه وکښلے شی چې کامل مرحوم پټه خزانه تاریخی کتاب نهٔ ګڼی.

ما چې دَ "پټـه خزانـه فـی المیزان" دَ عنـوان لانـدې وړومبـۍ مقاله ولیکله او کامل مرحوم ته مې واوروله نو په دغه سلسله کښـې دَ موقعې یو ګواه ښاغلے سیف الرحمان سلیم هم وهٔ چې دَ پښتو منلے شاعر دے او دَ اولسی ادبی جرګې کشر سکتر هـم پـاتې شـوے دے.دَ دهٔ دَ تحریری بیان متن دا دے. (املا ئې ما بدله کړې ده)

" داسې واقعه شـوې وه چې (زهٔ) قلنـدر مومنـد صـاحب لـه ورغلے وم او هغهٔ سره مې ګپ لګولو نو هغه دَ ګپ موډ کښې نـهٔ وهٔ ماته ئې وې چې په "پټه خزانه" مې یـو تحقیقـی مضمـون لیکلـے دے هغه واوره بیا کامل صاحب له ځو چې هغوی ته هم دا مضمون واوروم. ما ورته وې دوه ځله ستا مضمون نهٔ شم اورېدلے ځه چې کامل صاحب له ځو هلته به ئې واورم. دا کافی ده.

کامل مرحوم بیمار وهٔ او خپل کـور کښـې وهٔ قلنـدر مومنـد دغه مضمون واورولو. هغوی ډېر خوښ کړو او وې ئـې چـې ستـا دَ دې

تحقیق ستائینه کوم ډېر زيار دي کاږلے دے." سیف الرحمان سلیم ۱۲ مئ ۱۹۹۲ء

دَ ښاغلی سلیم دا لیک ښاغلی ګل محمد بېتاب سره پروت دے او هغه پرې "لیکوال" کښې تبصره هم کړې ده.(۱۲) دَ دې تبصرې په دویم قسط کښې دَ ښاغلی سید محمود ظفر شهادت هم شته چې هغه هم دَ سلیم صاحب دَ خبرې تائید وکړه. هغه ووې چې دَ کامل صاحب ځائې ته ورغلے وم نو هغوی راته ووئیل چې قلندر صاحب په "پټه خزانه" ډېر ښه تنقید کړے دے او زما تنقید هم پرې راروان دے خو زه به ئې دَ پښتو په ځائې په فارسی کښې لیکم." (۱۳)

هم دغسې ګران دوست او پیاوړی لیکونکی ښاغلی سیف الرحمان سید یو ګران لیک ماته لیکلے دے چې متعلقه حصه ئې زه ګرانو لُستونکیو ته پیش کوم:

"زرین انځور ورور غالباً چې دا اعتراض کړے دے چې دَ ګران مشر دوست محمد خان کامل مومند دَ وفات نه پس ستا دا خبره چې " کامل صاحب زما سره اتفاق وه" دَ منلو نه ده.

زه عرض کوم چې زه په دغه ورځو کښې په پښتو اکېډیمی کښې پروف ریډر وم. دا کوم مضمون چې ښاغلی قلندر صاحب دَ پښتو دپارد رااستولے وه دَ هغه مضمون دَ اخری صفحې په شا دَ کامل مومند صاحب لیک او دستخط موجود وه."

که دې ټولو شهادتونو ته ښاغلے زرین انځور او دَ هغوی ملګری حتمی شهادت نه وائی نو اوس به زه په دې سلسله کښې یو

داسې شهادت پېش کړم چې هغه به دَ بناغلی زرین انځور هغه ټولې مطالبې پوره کوی چې هغه په خپله مقاله کښې پېش کړی دی.

کامل مرحوم دَ کراچۍ دَ انګرېزی اخبار "ډان" دپاره دَ مغلو دور کښې دَ پښتو ادب" دَ عنوان لاندې یوه اوږده مقاله لیکلې وه چې هغه اخبار پوره چاپ نه کړه. ما دَ اخبار دَ هغې ګڼې دَ پیدا کولو ډېر کوشش وکړه خو کامیاب نه شوم. دَ کامل مرحوم دَ دوېم زوی ذاکر حسین (چې دَ کامل مرحوم دَ کتابونو انچارج وه) نه مې هم څو ځله دا پُښتنه وکړه چې هغه چاپ شوې مقاله یا دَ هغې مقالې اصل زما دپاره دَ کامل صاحب دَ کاغذاتو نه راوباسی خو ذاکر حسین به هر ځل دَ تلاش نه پس ته دَ خپلې ناکامۍ اعتراف کولو. خو دغه اصل مقاله یو داسې کس دَ کامل مرحوم له کاغذاتو نه تر لاسه کړې وه چې دَ پټې خزانې په سلسله کښې ما سره ډېر زیات اختلاف لری. خدائې کول چې دغه مقاله هم دَ هغه په وساطت "فرنټیئر پوسټ" ته ورسېده او دَ دغه اخبار په شپږو قسطونو کښې چاپ شوه. له دغو مقالو ځنې څو اقتباسات پېش کوم:

۱. وړومبنے پښتون لیکونکے چې یو شاعر دے او دَ هغه دَ شخصیت او شاعرۍ تاریخی اصلیت باندې تر معقوله حده هیڅ شک نه شی کېدے شیخ عیسیٰ مشوانی دے... چې دَ لوئې باچا شېر شاه سوری معاصر وه. (١٤)

پټه خزانه اسیر کړوړ وړومبنے پښتو شاعر ګڼی او چونکې کامل مرحوم شیخ عیسیٰ مشوانی وړومبنے شاعر ګڼی نو ځکه کامل مرحوم دَ پټې خزانې په روایت یقین نه کوی.

۲. دا "خیرالبیان" هغه کتاب دے چې مونږ ته تر اوسه پورې دَ دریافت شوی نثر وړومبنی نمونه پیش کوی او له دې سببه دَ هغه (پیر روښان) په ټولو کتابونو کښې صرف دَ دې کتاب په وجه مونږ دَ پښتو ادب دَ پیدائش، ارتقا او ودې دَ تاریخ په ضمن کښې ورسره علاقه لرو.(١٥)

دَ دې په مقابله کښې پټه خزانه ابو محمد هاشم سروانی البستی وړومبنے نثر لیکونکے او "دَ سالو وږمه" وړومبے دَ نثر کتاب ګڼی نو دلته هم کامل مرحوم دَ پټې خزانې په روایت دَ شک اظهار کړے دے.

۳. دَ مصدقه تاریخ دَ معیار مطابق دَ شیخ عیسیٰ مشوانی نه پس ارزانی خویشکی له ټولو نه وړاندینے معلوم شاعر دے. (١٦)

دَ کامل مرحوم دا عقیده هم دَ پټې خزانې سره مطابقت نه خوری او ځکه وئیلے شو چې هغوی په دې سلسله کښې هم دَ پټې خزانې په روایاتو اعتبار نه کولو.

٤. افغانستان کښې چاپ شوے کتاب "پټه خزانه" دَ شاعر (رحمان بابا) دَ ولادت او وفات کلونه ١٠٤٢هجری (١٦٣٢.٣٣ء) او ١١١٨هجری ورکوی. خو دَ دې کتاب سند ډیر مشکوک دے. (١٧)

دلته سند دَ Authenticity ترجمه شوې ده حالانکې دَ دې لفظ ترجمه اصلیت هم کیدے شی. خو دلته هم دغه پکار وه خو ما دَ اعتراض کونکیو دپاره دا لفظ سند ولیکلو.

دَ دېو حوالو دَ لُستلو نه پس هم که څوک دَ کامل مرحوم په باره کښې دا خیال لری چې دَ پټې خزانې په باره کښې دَ هغوی رائې

زما له ښکاره کړې رائې نه بدله وه نو دا دَ هغه خوښه. رښتیا هم هغه دی چې ما وئیلی دی او هغه دا چې هغوی دَ پټې خزانې په باره کښې زما نتیجو سره کُلی اتفاق ظاهر کړے وه او هېڅ وخت ئې هم په دغه رائې کښې ترمیم نه وه کړے.

حوالې

١. پټه خزانه فی المیزان وړومبی خبرې ص. ٥
٢. دَ پټې خزانې میزان رښتیا میزان دے؟ محمد آصف صمیم او زرین انځور ص ص ١٦.٤١
٣. پټه خزانه فی المیزان ص ص ١٠.٩ او بیا صفحات ١٥٥.١٤٤
٤. پټه خزانه دریم چاپ (عکسی) ص ٥٤
٥. خوشحال خان خټک دَ کامل مرحوم دَ اُردو کتاب دَ ص ٤٠٣ حاشیه
٦. آزاد افغانستان پېښور ١٥ جون ١٩٥٣ء
٧. هم دغه رساله ٢٠ اکتوبر ١٩٥٤ء
٨. رحمان بابا دوست محمد خان کامل مومند دویم چاپ ص ص ١٩ او ٢٠
٩. هم دغه کتاب ص ١ حاشیه (٢)
١٠. هم دغه کتاب ص ٩
١١. هم دغه کتاب ص ١٧
١٢. دَ ګل محمد بیتاب تکل "پټه خزانه فی المیزان" وړومبے

قسط لیکوال پښتور پینځمه ګڼه جولائی ۱۹۹۲ء
۱۳. هم دغه تکل دوېم قسط اتمه ګڼه اکتوبر ۱۹۹۲ء
۱٤. فرانټئیر پوسټ دَ اپرېل دَ لسم تاریخ ګڼه ۱۹۹۳ء ص ۱۲ کالم ۱
۱۵. فرانټئیر پوسټ دَ اپرېل ۱۷ تاریخ ګڼه ۱۹۹۳ ص ۲۱ کالم ۱
۱٦. هم برنی پرچه کالم ۲
۱۷. فرانټئیر پوسټ دَ مئ ۸ تاریخ ګڼه ۱۹۹۳ء ص ۲۱ کالم ٦

(درې میاشتنی کتابی سلسله "تماس" دوېمه ګڼه کوئټه)

دَ پښتو ادب عصری تقاضې

دَ کانفرنس دَ محترمو منتظمینو ارشاد دے چې زۀ دې "دَ پښتو ادب عصری تقاضې" دَ عنوان دَ لاندې دَ خپلو خیالاتو څرګندونه وکړم خو زما پۀ خیال دا عنوان "پښتو ادب او عصری تقاضې" پکار وۀ ځکه چې دَ کانفرنس دَ منتظمینو لۀ خوا غوره شوے عنوان تکنیکی او تر ډېره حده خارجی مضمرات لری. دَ دې پۀ مقابله کښې کۀ زما دا عرض کړے شوے عنوان مقرر کړے شوے وے نو شاید چې دَ دې عنوان لاندې ما پۀ هغه ټولو ادبی مسائلو خپل خیالات څرګند کړے وے چې نن پۀ عالمی سطح دَ دنیا ټولو ژبو ته پېښ دی. ولې دَ محترمو منتظمینو دا اصرار هم دے چې مقاله دې دَ موضوع پۀ چوکاټ کښې دننه وی ځکه نو دَ هغوی دَ ارشاد دَ احترام پۀ طور زۀ هم پۀ هغه موضوع خپل خیالات وړاندې کوم چې هغوی تجویز کړې ده.

اول خو به پۀ دې خبره دَ محترمو منتظمینو نه معافی غُښتل ضروری دی چې ما پۀ موضوع دَ څۀ وئیلو نه اګاهو یو وړوکے غُندې تمهید پېش کړۀ او داسې مې مقاله دَ موضوع دَ چوکاټ نه خارجه کړه خو زما پۀ خیال خپله مقاله دَ موضوع پۀ چار دیواری کښې دَ راګېرولو دپاره دا ناګزیره وه.

دَ ادب عصری تقاضې بنیادی طور سره درېو موضوعاتو سره

تعلق لري. دا موضوعات ليکونکی، ليکونه او لُستونکی دی او چې هر لحاظ سره غور کوو نو هم دَ دېو درېو موضوعاتو پۀ بدلون عصري تقاضې بدليږی رابدليږی. ځکه نو زۀ به هم خپله مقاله پۀ بنيادی ډول هم دېو موضوعاتو ته محدودوم او کۀ نورې خبرې کوم نو دَ هغو حېثيت به اضافی او ثانوی وی.

دَ ادب ليکونکی، ليک او لُستونکی يو متساوی الاضلاع مثلث دے چې هره ضلع ئې مساوی اهميت لری او زۀ کۀ دَ دوی ذکر يو بل پسې کوم نو دَ دې دا مطلب نۀ دے چې دا ترتيب دَ دوی دَ اهميت ترتيب دے. اديب چې ليک کوی نو دَ لُستونکيو تقاضې دَ نظر لاندې ساتی. دَ لُستونکيو ذوق دَ خپل عصر دَ عمل او ردعمل پۀ نتيجه کښې پېدا کيږی او ليک دَ دواړو تر منځه دَ رابطې بنياد وی او کۀ دَ اقليدس هم هغه تشبيه جاری وساتو نو ليک دَ دې متساوی الاضلاع مثلث قاعده وی.

پښتو زړه ژبه خو ده ولې لۀ بده مرغه ترقی يافته ژبه نۀ ده او هم پۀ دې وجه دَ دې ژبې ليکونکی، ليکونه او لُستونکی لۀ عصری تقاضو سره سمون نۀ لری. او ځکه نو دَ دې مقصد دپاره به وړومبے داسې ليکونکی پۀ کار وی چې ورته پۀ عامه ژبه کښې "پېشه ور" ليکونکی وئيلے شو. ځکه چې "شوقيه" فنکاران دَ ادب دَ ترقۍ دپاره منظم کوششونه نۀ شی کولے او کۀ دَ ژبې مستقبل دې شوقيه ليکونکيو ته پرېښودے شۀ نو ژبه او ادب به پۀ خپل ځائې پاتې شی.

څرګنده او بالکل واضحه خبره ده چې "پېشه ور" ليکونکی پۀ هوا کښې نۀ شی پېدا کېدے. مونږ دَ هغو ټولو لويو او کلاسيکی

لیکونکیو احسان مند یُو چې دَ شوقیه لیکونکیو په حیثیت ئې زمونږ ادب ته عظیمې بخښنې کړې دی خو دَ ننني عصر تقاضا دا ده چې دَ ژبې دَ ترقۍ دپاره دې لیکونکی دَ یوې "پېشه ورې" طبقې په حیث منظم شي. دا زمونږ دَ ادب وړومبی عصري تقاضا ده.

دَ پېشه ور لیکونکیو دَ ضرورت اضافي وجوهات هم شته. مثلاً دَ لُستونکیو په مزاج پوهېدل او دَ هغو دَ مزاج مطابق ادب تخلیقول دَ ادب دَ ترقۍ دپاره ضروری دی. دا کار شوقیه لیکونکی نه شی کولے ځکه چې دَ هغه په لُستونکی هیڅ پوره نیمګړې نشته. له دې نه هم زیاته اهمه وجه دا ده چې ننني عصر کښې هیڅ یوه ژبه داسې نه شي پاتې کېدے چې دَ بلې ژبې خاص طور سره ترقی یافته ژبې نه دَ موضوع یا دَ لیک شان پور وانه خلی. په دې غرض یوه طبقه داسې پېدا کېدل ضروری دی چې هغه دَ پښتو ادب او ژبې دپاره دا کار کوی. که داسې ونه شو نو دوه نتیجې به ئې پېدا کیږی. یا خو به دَ اخذ او پور دا کار اوپره لاسونو ته لاړ شی او ادب کښې به اومه او بې معنې موضوعات او لیک شانونه راننوځی او یا به بیا پښتو دَ هم عصر لیکونکیو دَ اثر نه محرومه پاتې شی او صرف په هغو تخلیقاتو به ګوزاره کوی چې دَ اولسی ادب په مېدان کښې به کیږی او داسې به دَ لُستلو په مقابله کښې دَ اورېدلو فن زیاته ترقی وکړی.

دَ پېشه ور لیکونکیو دَ پېدا کولو یا پېدا کېدو دپاره ځنې خبرې او شرائط ډېر ضروری دی. لیکونکے به هله پېشه ور کیږی چې هغه په دې "پېشه" ځان ساتلے شی. داسې نه لکه چې اوس لیکونکے دَ ځان ساتلو دپاره نورې پېشې اختیاروی او بخښنې ادب ته کوی. بیا به

دَ ليکونکی مشغله دَ هغه پېشه منی او لکه څنګه چې نورې پېشې ورو ورو دَ صنعت مقام حاصلوی داسې به ادب هم هم دغه مقام حاصل کړی چې دَ عصر يوه بله تقاضا به پوره شی.

دَ دېو حالاتو دَ پېدا کولو په غرض به دَ ليکونکيو دَ "پېشه ورې" طبقې دپاره دَ لُستونکيو يو منظم ګروپ يعنې لُستې او خوانده معاشره ضروری وی. دا خوانده معاشره تر هغه وخته نه شی پېدا کېدے تر څو چې پښتو دَ مدرسې او دَ بازار ژبه نه شی. زمونږ په ګاونډی ملک افغانستان کښې که پښتو عمودی ترقی نه ده کړې نو افقی ترقی ئې محض او محض په دې وجه کړې ده چې دغه ملک کښې پښتو دَ مدرسې او بازار ژبه ده.

دَ پښتو دپاره دا درجه حاصلول ډېر ضروری دی او دَ دې مقصد دپاره يواځې په مختلفو سطحو دَ جدوجهد کولو ضرورت نه دے بلکې دَ تحرير دَ ژبې دَ عام کولو دپاره دَ ليک دود دَ اصلاح انتهائی زيات ضرورت دے. خومره دَ بدقسمتئ خبره ده چې مونږ دعوې خو دَ پښتو دَ ترقئ کوو خو تر اوسه دا پلنه او خوره پښتونخوا په ليک دود متفق نه شوه. زما په خيال په يو ليک دود نه متفق کېدل دومره خطرناکه خبره نه ده لکه چې تر څه نه څه حده متفق عليه ليک دود کښې غلطئ کول خطرناک دی. دا "عصری تقاضا" ډېر اوږد تفصيل غواړی او څرګنده خبره ده چې په دومره لږ وخت کښې ورته دَ دې مقالې دَ نورو مباحثو غُندې صرف اشاره کېدے شی.

دَ يوې خوانده معاشرې په موجودګئ کښې به عصری تقاضې بدليږی او بيا به دَ ليکونکی او لُستونکی دواړو دپاره دَ ليک مسئله

راپیدا کیږي. لیکونکي لره څه لیکل په کار دي او لُستونکے به څرنګه لیک خوښوي. دَ دې دارومدار دَ هغه وخت په ذوق باندې وي. خو دَ دې ذوق دَ تسکین دپاره به دَ اخبارونو، رسالو او کتابونو ضرورت وي او ذوق کښې دَ بدلون سره سره به دا تقاضې خامخا بدلیږي. خو اخر دَ لیک لُست دا کار به له یوه ځایه شروع کول غواړي. زما په خیال به دَ لُستونکي دَ ذوق دَ بهتر تسکین دپاره مفیده ذریعه دَ هغو کتابونو او مضمونونو ترجمې په پښتو کښې کول وي چې دَ دنیا په نورو ژبو کښې دَ کلاسیک درجه لري. که دَ نورو ژبو دَ شاعرۍ او فکشن دَ هغو کتابونو ماهرانه ترجمې وکړے شي چې پرې نوبل انعامونه ورکړے شوي دي نو په لږ وخت کښې به پښتانه لُستونکي دَ دنیا له بهترین ادبه مستفید شي. دَ دې سره سره که دَ هرې ژبې خاص طور سره دَ جرمن، فرانسیسي، انګریزي، روسي، ترکي، چیني او نورو ترقي یافته ژبو دَ شاعرۍ، فکشن او تنقید پنګه پښتو ته رامنتقله شي نو په یوه ټوپ به پښتو هغه مقام حاصل کړي چې حاصلول ئې پکار دي او داسې به په اسانۍ دَ عصري تقاضو ماؤنټ ایورسټ فتح کړے شي.

پښتو ژبه زمونږ په سیمه یوه مستقله ادبي رساله چې باقاعدګۍ سره چاپ کیږي نه لري. دَ پښتو اکېډیمۍ او دَ پرېس انفارمېشن دَ محکمې رسالې په شتو خو شته ولې دَ یو شان حالاتو په وجه انتهائي بې قاعدګۍ سره چاپ کیږي. دَ ادبي رسالو او مجلو له اهمیته انکار نه شي کېدے. ځکه چې دا یواځې دَ ادبي ذوق تخلیق نه بلکې دَ دې ذوق مسلسل تربیت کوي او دَ دې سره سره ادب، تل په حرکت کښې ساتي. زمونږ ادب که نن له حرکته محروم دے نو لویه

وجه ئې دَ ادبی مجلو نشتے دے ځکه نو کوم څیز چې دَ دنیا دَ هر ادب دپاره دَ نننی عصر تقاضا ده هغه دَ پښتو دپاره هم اهمیت لری او سترګې پټول ترې یو خورا لوئې حماقت دے.

دَ یوې ژبې دَ ماضی دَ حال سره پیوستون او په دې پیوستون دَ مستقبل عمارت جوړول دَ تنقید او تحقیق موضوع وی. دَ ادب دَ نورو شعبو په شان په دې میدان کښې هم هغه دَ شاعر خبره:

یک حرف کاشکه بصد جا نوشته ایم

پښتو کښې څه عمودی ترقی نشته که څه لږه ډېره افقی ترقی ښکاری نو هغه هم له عصری تقاضو نه ډېره کمه ده. ضروری خبره دا ده چې مونږ له سائنسی نقطۂ نظره په دې ډېره اهمه مسئله غور وکړو او دَ سیاسی تاریخ سره سره دَ ژبې او دَ ادبیاتو واقعی او حقیقی تاریخ بیا له نوی سره مرتب کړو ځکه چې له ښه بخته دَ زلمیو محققینو دَ زیارونو په نتیجه کښې داسې حقائق او شواهد مخې ته راغلی دی چې دَ هغو په وجه زاړه معلومات ترمیم طلب شوی دی. اوس نوی حالات دا تقاضا کوی چې زلمے ګُول او خاص طور سره راتلونکی پښتانه نسلونه دَ "قال.... " دَ تقلیدی روایاتو له ګمبته بچ کړلے شی. تاریخ او تحقیق کښې لکه دَ ژوند دَ نورو حقائقو په شان یو څیز هم اخری او حتمی نه وی نو که زمونږ زلمیو محققینو زاړه اُمور غلط ثابت کړی وی نو مونږ لره پرې تندے بوتهول نه دی پکار او رښتیا که هر څومره تراخه وی قبلول ئې پکار دی. په دې طریقه به مونږ دَ دې قابل شو چې دَ خپل سیاسی او ادبی تاریخ ابتدا له صداقته وکړو او دَ شک او ګُمان له تیرو نه دَ علم رڼا ته راوځو.

پښتو لکه چې مخکښې عرض وشو ډېره زړه ژبه ده خو مونږ له لږ دې حقیقته انکار نۀ دی کول پکار چې بنیادی طور سره دَ پښتو کلچر زبانی وو. دَ دې زبانی کلچر مظاهره زمونږ په اولسی سندرو کښې شوې ده. مونږ له په ډېر جرأت دَ دې ناکامۍ اقبال جرم کول پکار دی چې مونږ دَ احساس او شعور باوجود دا اولسی سندرې راغُنډې نۀ کړے شوې او په دې طریقه مو یوه لویه عصری تقاضا دَ پښتو دَ لاندې کړې ده. اوس هم ډېر تاخیر نۀ دے شوے او هغه دَ سیند په غاړه دَ چپو شمېرونکی په شان په تېرو غلطیو دَ ژړا په ځائې بیا له سره دا چپې شمېرل پکار دی. که مونږ په غرو رغو او کېږدېو کښې ورکېدونکې دا مرغلرې اوس هم راټولې کړې نو دَ خپل ادب ته بناInfra Stucture پرې مضبوطولے او دا قیمتی خزانه له فنا کېدو محفوظولے شو.

دَ دېو ټولو تدابیرو دَ اختیارولو په نتیجه کښې به داسې خامخا کیږی چې دَ یو تدبیر له بطنه به بل تدبیر او بیا له بل تدبیره به یو نوے تدبیر پېدا کیږی او دَ یو عصری تقاضې پوره کول به بله تقاضا راټوکوی. دَ مثال په طور دَ ادبی تاریخ دَ بشپړولو او تر اوسه لیکلو تاریخونو باندې دَ نظر ثانی کولو او دَ اولسی سندرو دَ راغُنډولو په نتیجه کښې به زمونږ دَ ژبې لمن دَ خیالونو نه علاوه دَ توریو دَ اضافې په وجه هم ډکیږی. دا نوی توری به په ډکشنریو کښې محفوظول ضروری وی نو لازمه خبره ده چې دَ توریو دَ زیاتېدو دا عمل به هم مسلسل وی او دَ دې مسلسل عمل دپاره به په دغه مېدان کښې دَ مسلسل تحقیق ضرورت پېښیږی. کار به زیاتیږی او دَ کړاؤ،

محنت او زيار زيات ضرورت به پېدا کيږي او دا به ځان له خپلې تقاضې هم پېدا کوي چې پوره کول به ئې پکار وي او که مونږ دېو کارونو کښې له يوه کاره هم بې پروائي وکړه نو دا مسلسل عمل به خامخا دَ دائرې په منځ کښې دَ ماتولو باعث کيږي.

هم دغسې دَ ادبي رسالو، مجلو، کتابونو او اخبارونو دَ چاپولو مسئله ده. په هغه سطح چې ما ورته اشاره وکړه دَ کار کولو دپاره به دا ضروري وي چې دَ چاپولو دا موجوده طريقه بدله کړے شي. دَ چاپ موجوده طريقه دَ کاتبانو دَ زيات شمېر تقاضا کوي. پښتو کښې کاتبان هسې هم کم دي ولې ښه کاتبان خو بېخي کم دي. دَ سرحد دَ بې شمېره اُردو خرېړو اخبارونو له کبله هم دغه کاتبان اُردو او پښتو په يوه وخت ليکي او نتيجه ئې دا ده چې دَ پښتو دَ خط معيار ورځ په ورځ مخ په زوال دے که دَ اُردو او انګريزي دَ چاپ شوي کتاب دَ صفحې سره دَ پښتو يوه چاپ شوې صفحه دَ محدبي ښيښې دَ لاندې کښېښودے شي نو پخپله به ثابته شي چې دَ پښتو موجوده خط خومره کچه، بې اصوله او زوال پذير دے. دَ مطبوعاتي موادو دَ زياتي سره به دا مسئله نوره هم پېچيده کيږي بلکې زما په نزد خو اوس هم ډېره پېچيده ده ځکه چې مونږ ته په موجوده پيمانه دَ کار کولو دپاره هم ښه کاتبان نه ميسر کيږي نو چې دا کار زيات شي نو بيا خو به کاتبان بېخي نه يافتيږي.

زمونږ دَ مطبوعاتي صنعت له ټولو نه نازک مزاجه عنصر دا کاتبان دي. په خپله خوښه خو دوي هيڅکله دې ته تيار نه وي چې ښه کار وکړي او که فشار پرې واچولے شي نو له کاره انکار کوي او دَ

پښتو په ځائې اُردو ته ترجیح ورکوی. له دې کبله دوی سره ګوزاره ډېره ګرانه شوې ده. دَ دې مشکلاتو دَ حل کولو دوه طریقې دی یا خو دې دَ خوش نویسانو تعداد زیات کړے شی او یا دې له خوش نویسانو نه پښتو ته نجات ورکړے شی.

دَ خوشنویسانو په تعداد کښې دَ اضافې کولو هم دوه طریقې دی یا خو دې دَ پښتو دَ لیک اُجرت دومره زیات کړے شی چې دَ پښتو کاتبان دَ پښتو کار کولو ته دَ مالی محرکاتو Incentives له وجهې مجبور شی او که داسې کول دَ څنو وجوهاتو له کبله ممکن نه وی نو بیا دوېمه طریقه دا ده چې په حکومتی سطح دې یوه داسې اداره قائمه کړے شی چې هغه خوش نویسان پیدا کول شروع کړی. دَ بې روزګاری په وجه موجوده صورت حال کښې که دَ زده کړې په دوران کښې داسې شاګردانو له وظیفه ورکول شروع کړے شی نو دا هیله کېدے شی چې په لږه موده کښې به په ګڼ شمېر کښې ښه کاتبان په لاس راتلل شروع شی او په ښه خط به دَ کتابونو او رسالو وغېره چاپ کول اسان شی.

لیکن که په دې منصوبه دَ مسلسلو اخراجاتو له وجهې دا قابل عمل ونه ګڼلے شی نو بیا ئې متبادل حل دا دے چې هډو دَ کتابت دا طریقه دې ختم کړے شی او دَ چاپ په مېدان کښې دَ راوتلو نوؤ طریقو نه دې استفاده وکړے شی. دَ مونو ټائپ او کمپیوټرائزډ چاپ خانو دَ راوتلو سره دا کار ګران نه دے. اُردو کښې دَ نوری نستعلیق طریقه اوس اوس عامه شوې ده او ډېرو اخبارونو اوس دَ چاپ کېدو دپاره دغه طریقه غوره ګڼلې ده. هم په دغو خطوطو مونږ دَ

پښتو دپاره هم دغه اسانې راوستے شو. که دَ دې مقالې په سر کښې دَ ليک دود په باره کښې زما معروضات دَ توجه قابل وګڼلے شي او پښتانه په يو ليک دود راغُنډ کړے شي نو دَ دغه متفقه ليک دود په بنياد دَ چاپ دَ نوو طريقو نه ډېر مفيد کار اخستلے شو. له بده بخته زمونږ تر منځه اختلاف بنيادى نه دے يو څو تورى دى چې دَ هغو په استعمال اختلاف دے. که دا اختلاف رفع کړے شي نو مونږ دَ ټائپ په مېدان کښې له جديدو سهولتونو نه کار اخستے شو.

مونږ ټول په دې متفق يُو چې دَ پښتو معاشرتى ژوند ډېر په تېزۍ دَ بدلون له عمله Process تېرېږى مونږ چرته په ورشيئز Pastoral نظام کښې اوسو او چرته په فيوډلى معاشره کښې. ځنو ځايونو کښې دا فيوډلى معاشره هم سرمايه دارانه او صنعتى معاشره کښې بدلېږى. يوه ډېره عجيبه ټوقه زمونږ معاشرې سره دا کيږى چې دَ ورشيز Pastoral نظام خلق شپه په شپه صنعتى علاقو کښې مېشته شي او داسې دَ عمرانى تاريخ يوه داسې واقعه راپېښه شى چې دَ دنيا دَ عمرانياتو عالمانو پرې چرې غور هم نه دے کړے. دَ سوات دير او چترال دَ انتهائى پس مانده کليو خلق چې دَ مزدورۍ په تالاش کښې کراچۍ ته ورسى نو دا معاشرتى انقلاب دومره ژر او تېز رفتار شي چې په خارج او داخل ئې دَ عمل او رد عمل په اسانه اندازه لګول ډېر ګران شي. داسې صورت حال کښې زمونږ کلچر او دَ کلچر سره سم زمونږ دَ ادب تقاضې چې څومره ژر بدلېږى، دَ هغې بدلون په باره کښې دَ عمرانياتو ماهرينو هم تر اوسه څه اندازه نه ده کړې. که دا سلسله هم داسې روانه وه نو دَ ژبې ډېر الفاظ به متروک شي، ډېر

اصطلاحات به بدل شی او ډېر کلچری علامتونه به ختم شی. او داسې وخت به ډېر ژر راشی چې زمونږه شاعری او زمونږ ادب به دَ پښتنو لُستونکیو دپاره ناقابل فهم شی. دَ دې مشکل دَ حل پېدا کولو تقاضا دا ده چې دَ پښتون کلچر دَ ټولو علامتونو دَ محفوظ کولو دپاره ممکن کوششونه وکړے شی او دا هله کېدے شی چې یو داسې میوزیم جوړ کړے شی چې هغه لُستونکی اوس هم او آئنده هم دَ خپلو کلچری علاماتو په تفصیلاتو پوه کړے شی.

زما په ناقصه رائې کښې دَ پښتو ادب عصری تقاضې هم دغه دی چې ډېر په اختصار ئې ما ذکر وکړه او چې هره تقاضا ئې په خپل بطن کښې ډېرې نورې دَ غور قابلې خبرې لری.

(د اُردو نه پښتو ترجمه دَ سیف الرحمان سید.
میاشتنی "پښتو" پښتو اکېډیمی پېښور یونیورسټی)

د یوې غلطۍ ازاله

له ۱۹۹۰ء نه څو کاله مخکښې چې په زېر بحث موضوع ما یوه مقاله لیکلې وه او دغه مقاله په یوه رساله کښې چاپ شوې هم وه خو له بده مرغه دَ رسالې نامه له ما هېره شوې وه او کومو ملګریو نه چې ما پُښتنه کړې ده هغوی هم دې سلسله کښې دَ خپلې لاعلمۍ اظهار کړے دے نو دَ موضوع دَ اهمیت پېش نظر ما دا ضروری وګڼله چې یو ځل بیا په دې موضوع خپل خیالات څرګند کړم ځکه چې کېدے شي زما ملګریو او دوستانو نه دا مقاله هېره ده نو عامو لُستونکیو ته به څه یاده وی. بهرحال دَ خدائې پاک نه دَ تائید دعا سره دا مقاله شروع کوم.

ماته یاد نه دی چې په وړومبی ځل دَ لیکلې مقالې عنوان څه وه خو زما ذهن کښې هغه وخت دوه عنوانونه وو. یو خو دا برنے عنوان وه او بل "دَ خوشحال بابا یو شعر" وه. خو چونکې په دې نامه دَ حمزه مرحوم یو کتاب چاپ شوے وه نو دَ التباس نه دَ ځان دَ بچ کولو دپاره ما دا بل عنوان غوره وګڼلو. عنوان هر څه چې وه الفاظ هر څه چې وو خو مطلب ئې هم دا وه چې زه ئې اوس خپلو ګرانو لُستونکیو ته پېش کوم. که دې مقاله کښې پخوانۍ مقالې سره یو نیم ځائې کښې اختلاف یا څه اضافه وی نو زه پرې دَ خپلو ګرانو لُستونکیو نه پېشګی معذرت غواړم.

دَ اولسی ادبی جرګې پهٔ ورځو کښې زمونږ مشرانو او همځوليو مستجاب مومند دَ خوشحال بابا مخالف، دَ پښتانهٔ دښمن او دَ مغلو ایجنټ ګڼلو. دېو مشرانو او همځوليو کښې کاکاجی صنوبر حسېن مومند، امیر حمزه خان شنواری، دوست محمد خان کامل، عبدالحئ حبیبی (ځکه چې حبیبی صاحب هیچرې هم دَ دې خبرې مخالفت نهٔ وهٔ کړے) افضل بنګش، شېخ محمود، اجمل خټک، ولي محمد طوفان، همېش خلیل، سېف الرحمان سلیم، لطیف وهمی او راقم الحروف شامل وو. (خدائې پاک دې مرحومین وبخښی او ژوندېو له دې لوئې عمر ورکړی آمین.) دا نومونه خو ماته رایاد شو کېدے شی چې نور هم وی چې مانه هېر شوی وی خو دَ دوی ټولو دا عقیده دَ خوشحال بابا پهٔ دې شعر مبنی وه.

مستجاب مهمند کهٔ چرګه دَ مغل دے

زهٔ خوشحال خټک خو باز یم ځائې مې غر (۱)

دې شعر کښې دَ "چرګه دَ مغل" یو داسې ترکیب وهٔ چې دَ "مرغ دست آموز" سره معنوی شراکت لری ځکه نو ټول مشران او ملګری پهٔ هغو معنو متفق وو چې بره ئې ذکر وشهٔ او دَ دغو مشرانو او ملګریو نه متاثره دَ زلمی کُول اکثر نه بلکې ټول لیکونکی ئې دا معنیٰ کوی.

زهٔ حېران یم چې دَ کامل مومند مرحوم غُندې لوئې خوشحال شناس دَ تاریخ مرصع دَ ایډټ کولو نه پس هم ځنګه پهٔ دغو معنو قانع پاتې شوے وهٔ خو بهر کېف ماته چې دَ دې شعر دَ نویو معنو انکشاف کېدهٔ نو دغو مشرانو او همځوليو کښې اکثر پهٔ حق

رسیدلی وو ځکه نو دَ دغو مشرانو معنې به اجتماعی ګڼو او زما دا معنیٰ به کم و بیش انفرادی حېثیت لری.

زما معنیٰ دَ مشرانو دَ کړې معنې نه بالکل برعکس ده. زما په خیال خوشحال بابا دې شعر کښې دَ مستجاب مومند مذمت نه کوی بلکې دَ هغه سلامتیا ته دَ خطرې خدشه ظاهروی. لُستونکیو ته دې معلومه وی چې دَ خوشحال بابا په نظم او نثر کښې دَ مستجاب مومند دَ مغلو دَ دوست یا دَ پښتانه دَ دښمن کېدو په باره کښې هیڅ هم نشته بلکې دَ مستجاب مومند دَ قتل نه پس په یوه شعر کښې خوشحال بابا دَ اورنګ زیب په مذمت کښې وائی:

مستجاب غریب یٔ ووژې په ظلم

دَ خوشحال منصب ئې واخست کوم ګناه دے (۲)

خوشحال بابا او مستجاب مومند یو بل سره ډېر نژدې او اکثرو معاملاتو کښې هم خیال وو. دَ خېبر جنګ (۱۰۸۳هجری) کښې دواړه یو شان دَ مغلو په مرسته کښې دَ پښتنو سره جنګیدلی وو.(۳) دواړه یو ځائې له خېبره دَ تاترې په لار راکوز شوی وو.(٤) او خوشحال بابا چې کور ته ورسېده نو هم دا مستجاب ئې صلاح مصلحت دپاره راوبللو خو هغه لاړ نه شه. (۵) او یو عجیبه اتفاق دا هم وه چې لکه څنګه دَ خوشحال بابا زوئې اشرف خان مغلو ګرفتار کړے وه. (٦) دغسې (هر څو که په مختلفو وجوهاتو وه) دَ ارباب مستجاب خان مومند زوئې ارباب محمد خان هم مغلو ګرفتار کړے وه. (۷)

دَ خوشحال بابا او مستجاب مومند دا هم خیالی او هم کاری

تر دې محدوده نه وه بلکې دَ خوشحال بابا دَ ډائرۍ (بياض) مطابق "مستجاب وته مې په تهترو کښې ووې چې زور اور کار پېښ شه (يعني دَ محمد امين خان شکست) راشه يو مصلحت سره وکړو دے ناقباحت فهم وه دا ئې ووئيل چې ښه بيا به سره وکړو. (۸) له دې نه مخکښې خوشحال بابا دا هم ليکی " عالم سره درهم برهم شه دَ مغل پښتانه سره اعتبار لاړ.(۹) دَ مغلو او پښتنو ترمنځه دَ خيبر جنګ (۱۰۸۳هجری) په نتيجه کښې دومره بې اعتباری پېدا شوې وه چې خوشحال بابا ئې له يوه ځله زيات ذکر کوی مثلاً دَ فدائی خان دَ راتلو په ضمن کښې وائی "بيا بادشاه (هغه يعني فدائی خان) وباله هندوستان لره روان شه دَ مغلو دَ پښتنو لويه نااعتباری شوې وه. (۱۰) او هم دَ دې نااعتبارۍ پېش نظر شايد چې خوشحال بابا دا غُښتل چې مستجاب مومند يو متفقه لائحه عمل اختيار کړی او ځکه ئې صلاح مصلحت له راغُښتے وه او عجيبه اتفاق دا دے چې هم په دې موقع خوشحال بابا هغه قصيده وئيلې وه چې دا شعر ئې "آخر" کښې دے:

مستجاب مومند که چرګه دَ مغل ده

زه خوشحال خټک خو باز يم ځائې مې غر (۱۱)

دې پس منظر کښې صفا معلوميږی چې خوشحال بابا مغلو سره دَ خپلې تجربې په رڼا کښې دَ هغو دَ شديد رد عمل خدشه لرله او چونکې دَ مستجاب مومند کلے کوټکے پېښور سره بالکل پېوست وه نو خوشحال بابا دَ صوبه دار دَ مستقر سره دا قُربت دَ مستجاب مومند دَ سلامتيا دپاره خطره ګڼله. دَ دې په مقابله کښې خوشحال

بابا ځان نسبتاً محفوظ ګڼلو ځکه چې ځائې ئې غر وه چې مغل ورته په اسانه نه شو رسېدلے. دَ دې باوجود هم خوشحال بابا حفاظتی اقدامات کړی وو. خوړې ته ئې کوچ وکړه(۱۲) او چې هرکله مغلو بللے دے نو دَ ډائرئ (بیاض) مطابق "که هرڅو مغلو بللم نه ورتلم ورته مې ووئیل چې د ما اولس هم واقعه طلب دے چیرې به فساد وکا دَ خپل اولس په بندوبست مشغول یم. (۱۳)

اوس به ګرانو لُستونکیو ته معلومه شوې وی چې خوشحال بابا مستجاب مومند ته دَ مغلو چړګه وئیله نو مطلب ئې دا وه چې لکه څنګه دَ خپل انګڼ چړګه حلالول دَ هر چا دپاره اسان کار دے دغسې مغلو ته دَ کوټلی دَ ارباب مستجاب نیول او وژل هم اسان دی. او مستجاب مومند سره مغلو هم هغه سلوک وکړه چې خوشحال بابا ئې یو کال اګاهو (۱۰۸۳هجری) کښې خدشه ظاهره کړې وه.

زما په خیال دَ دېو معروضاتو په رڼا کښې به ګران لُستونکی په دې نتیجه رسېدلی وی چې دَ نور شهادت په قطعی غېر موجودګئ کښې محض دَ دې شعر په بنا مستجاب مومند ته دَ مغلو وفادار او دَ پښتنو غدار وئیل یوه ډېره سنګینه غلطی ده او امید دے چې په برنیو کرښو کښې به دَ دې غلطئ ازاله شوې وی.

حوالې او حواشی

۱. کلیات دَ کامل مرحوم ایډټ شوے وړومبے چاپ (ادارهٔ اشاعت سرحد ص. ۵۲٦

۲. ایضاً ص. ۸۳۹

۳. خوشحال خان خټک (اُردو) دَ کامل مرحوم ادارۂ اشاعت سرحد ص. ۱۳۶

٤. ایضاً ص. ۱٤۰

۵. ایضاً ص. ۱٤۰

٦. دَ تفصیل دپاره دَ برنی کتاب صفحات ۲۰۲-۲۰۳ ولولئ.

۷. تاریخ مرصع دَ کامل مرحوم ایډیټ کړے ص. ۳۷٤

۸. ایضاً ص. ۲۹۹ دا تورے شاید چې "ناعاقبت فهم" وی.

۹. ایضاً ص. ۲۹۹

۱۰. ایضاً ص. ۳۱۲

۱۱. ایضاً ص. ۲۹۹ کلیات کښې دَ دې شعر وړومبۍ مصرعه داسې ده : "مستجاب مومند کۀ چرګه دَ مغل دے"

۱۲. خوشحال خټک (اُردو) ص. ۱٤۵

۱۳. تاریخ مرصع ص. ۲۹۹

(میاشتنۍ مجله "پښتو" جولائی اګست ۲۰۰۱ء پښتو اکېډیمی پېښور یونیورسټی)

دوست محمد خان کامل مومند

یوه مطالعه

ښاغلے کامل دَ پښتو دَ هغو څو لیکونکیو نه یو دے چې اول ځل ئې شعوری طور باندې دَ مقصدی ادب لیکلو تکل کړے دے بلکې په دې وجه خو پښتو ادب ته دَ هغه بخښنه نوره هم زیاته قیمتی ده چې ده دَ پښتو دَ دې نوی تحریک نظریاتی او تنظیمی قیادت کړے دے او زمونږ دَ کُول ئې نظری تربیت او روزنه کړې ده. دَ ۱۹٤۷ء نه پس ته چې پښتو ادب کښې کوم نوی څیزونه راغلی دی دَ هغو ټولو دَ خوبیو دپاره که مونږ یو کس ذمه وار وګڼو نو هغه به ښاغلے کامل وی.

دَ اولسی ادبی جرګې دَ مشر سکتر په حېثیت او دَ نوی ادبی نهضت دَ قائد په حېثیت کامل دَ پښتو ادب هره شعبه متأثره کړې ده.

دَ غزل مزاج کښې دَ نوې زمانې سره دَ چلېدو دپاره مناسبه تبدیلی راوستل ډېره ضروری وه لېکن دَ دې تبدیلۍ ذکر چې څومره اسان دے دومره بلکې دَ دې نه زیاته دَ دې تبدیلۍ عملی کول ګران دی. دَ غزل مزاج کښې تبدیلی به ادبی روایت خامخا متأثر کوی دا دومره لوئې Risk دے چې صرف هغه لیکونکی ئې اخستے شی چې پخپلې فن کارۍ او دَ فن په پختګۍ ئې اعتماد وی. ښاغلی کامل په یواځې ځان دَ غزل مزاج کښې دَ تبدیلۍ دا تجربه شروع کړه. او دَ

کامل خان دا تجربه زمونږ روایت جوړ شو.

دَ غزل دا روایت نن زمونږ دَ ادب ډېره قیمتی سرمایه ده. دَ غزل په اسلوب کښې دَ مقصد ګړون او دَ دې غرض دپاره دَ ټولو استعارو او دَ تشبیهاتو نوې معنې متعینول او ورسره ورسره نوی نوی اصطلاحات او تلمیحات جوړول دومره لوئې کار وه چې دَ یو فرد دَ وس نه بهر دے. دا دومره لوئې کار کامل خان یواځې نه وه کړے لېکن په دې ټول تحریک کښې دَ هغه حصه دومره لویه او دومره اهمه ده چې دَ ادبی تاریخ دَ طالب علم سترګې بیا بیا په هغه پرېوځی.

دَ غزل سره سره په نظم کښې هم کامل خان دغه روایت رانوېستلو دَ کامل خان دَ اثر دَ لاندې پښتنو لیکونکیو شعوری طور سره نظم کښې دَ نوؤ موضوعاتو تلاش شروع کړو خو دَ ادبی تاریخ طالب علم ته دا خبره ډېره محسوسیږی چې ښاغلی کامل خان دَ نظم په مېدان کښې دَ پښتنو لیکونکیو هغه شان رهنمائی نه ده کړې لکه چې دَ غزل او دَ نثر په سلسله کښې ئې کړې ده. دَ دې وجه عین طبعی ده. دَ کامل خان مېلان شاعری کښې صرف غزل ته دے او دغه وجه ده چې هغه نظم ته پوره توجه نه ده ورکړې ولې دَ اولسی ادبی جرګې په تنقیدی ټولنو کښې پېش شویو نظمونو باندې دَ دوی تنقید دَ نظم شاعرانو ته دَ صحی لارې نشاندهی خامخا کړې ده. دَ نثر په مېدان کښې دَ کامل خان بخښنه ډېره عظیمه ده. ښاغلی کامل په ورومبی ځل پښتو ته دَ تکل صنف منتقل کړو. او په دې صنف کښې "تاتره" او "کاکاجی" غندې عظیم تکلونه ئې ولیکل. دَ تکل نه علاوه دَ

کلاسیکی شاعرانو دَ مجموعو په مقدمو کښې ئې نوې زاویې راپیدا کړې. دَ کامل نه اګاهو پښتو تنقید یا خو بالکل نه وه او که څه نه څه وه نو هغه هم دَ توصیف او دَ تنقیص نه علاوه هیڅ نه وه. کامل په خپلو تنقیدی مقالو کښې توازن قائم وساتلو او په وړومبی خل ئې پښتو تنقید دَ نوؤ معیارونو سره متعارف کړو.

په نثر کښې دَ کامل خان یوه بله بخښنه هغه لیک شان Style دے چې دوی ئې ابتدا وکړه. دَ کامل نه اول پښتنو لیکونکیو ته دا ضرورت نه وه پېښ شوے چې فلسفیانه فکر ته پخپل ادب کښې ځائې ورکړی. نو ځکه زمونږ نثر کښې دَ وړو وړو جملو او ساده ترکیبونو دور وه خو چې کامل دَ منظم او مسلسل فلسفیانه تحریر ابتدا وکړه نو هغه ته دا ضرورت پېښ شه چې وړې وړې جملې پریږدی او دَ موضوع مطابق دَ مسلسل فکر په مسلسلو جملو کښې اظهار وکړی. دا لیک شان پښتو کښې بالکل نوے وه. نو ځکه ځنې خلقو ته عجیبه ګُندې ښکاره شو. نه صرف دا بلکې ځنې خلقو ئې مخالفت هم وکړو. ولې سره دَ دې مخالفته دا حقیقت دے چې نننی ادب کښې ټول تنقیدی او فکری مضامین هم دغه لیک شان کښې لیکلی شی. او دَ "قبول عام" دا سند دې لیک شان ته ځکه حاصل شو چې بغېر دَ دې نه دَ مسلسل فکر اظهار ناممکن دے.

دَ تاریخ په لړ کښې هم دَ کامل خدمات دَ هېرولو نه دی اُردو کښې دَ خوشحال بابا په ژوند او فن دَ یو عظیم کتاب دَ لیکلو نه پس کامل په پښتو کښې هم دَ رحمان بابا، سکندر خان خټک، نواز خټک او علی خان په حقله ډېرې درنې تاریخی مقالې لیکلی دی. دَ

دېو تهولو مقالو دَ لُستلو نه پس لُستونکی ته ظاهرېږی چې دَ کامل انداز بیان او رویه دَ یو صحیح مؤرخ ده. دَ هم عصرو مؤرخینو غُندې هغه نۀ متعصب دے او نۀ Wishful Thinker، کامل خان زمونږ دَ کلاسیکی ادب او دَ جدید ادب تر منځه پول دے چې یو طرف ته ترې دَ خوشحال بابا روایات دی او بل خوا ته دَ نوی ادب مقصدی تجربې دی او پۀ دې اعتبار کامل خان یو عهد آفرین شخصیت دے.

(هفته وار هېواد پښتو پېښور)

ادب نن سبا ـــ نظم

په دې موضوع د څه عرض کولو نه مخکښې ځنې وضاحتونه ضروري ګڼم. اول خو دا خبره سپينول پکار دي چې مونږ په ادبي اصطلاح کښې "نن سبا" په لغوي معنو کښې نه استعمالوؤ او چې هر کله مونږ دا ترکيب د ادب په سياق و سباق کښې استعمالوؤ نو د يو مخصوص دور ادب ترې مراد اخلو. ځکه نو د نن د نظم نه زمونږ مقصد د هغه ټول دور نظم دے چې د خپل ماهيت او مافيت له اعتباره د اوسني دور سره تعلق لري. دې خصوصيت کښې ځنې ډېر زاړه نظمونه د نوي دور په نظمونو کښې حسابېدے شي او ځنې ډېر تازه نظمونه چې بطرز قديم ليکلے شوي دي هغه به د نن سبا د نظم له تعريفه خارج شي. خو سره د دې به هم زما کوشش وي چې زه د نن سبا د نظم په باره کښې د خپل علم سره سم موضوعات او زمانه، خصوصيات او خپل عهد سره را يو ځائې کړم.

يو بل وضاحت دا هم ضروري دے چې موضوع کښې صرف د نظم په باره کښې د خپلو معروضاتو د پيش کولو فرمائش شوے دے نو ځکه که زه د نظم د ليکونکيو شاعرانو ذکر ونه کړم نو د ګيلې ځائې به نه وي. دا خبره هم په خپل ځائې ډېر اهميت لري چې په پښتو کښې د نظم ليکونکی د شمير په لحاظ دومره ډېر دي چې په دومره لږ وخت کښې د ټولو احاطه کول ناممکن دي او که د چا نوم

اخلم او دَ چا نه اخلم نو دا به خامخا ځنو خلقو ته دَ شکایت موقع ورکول وی. ځکه نو زما کوشش به دا وی چې زه دَ شکایت دا موقع هڅو پیدا نه کړم.

هم دې سره تړلے وضاحت دا هم دے چې که زه دَ چا له نظم نه حواله پېش نه کړم نو دا کوتاهی دې هم ماته راوبخښلے شی.

اوس به راشو دَ موضوع په حقله معروضاتو ته. پښتو ته نظم له ډېرې پخوانۍ زمانې راسې راننوتے دے. خو زمونږ نظم هم زمونږ دَ ګاونډی ملکونو دَ نظمونو په شان په هغو اصنافو کښې دے چې یا خو مونږ دَ عربۍ او فارسۍ نه پښتو کښې داخل کړی وو لکه قصیده، مثنوی، ترکیب بند، ترجیع بند وغېره او یا بیا دا نظمونه دَ اولسی شاعرۍ په اصنافو کښې وو لکه چاربېته، نیمکۍ، لوبې او بګتۍ وغېره.

زمونږ دَ نن سبا ادب کښې دَ نظم دا دواړه شکله تقریباً تقریباً ختم شوی دی. زمونږ دَ نن سبا نظم دَ مغربی نظم نه دَ ترتیب او ترکیب په لحاظ ډېر زیات متأثره دے. موضوعات ئې هم تر ډېره لویه حده له مغربی نظمه اخستی دی. زمونږ په شاعرۍ کښې مغربی نظم دَ انګرېزۍ په ذریعه داخل شوے دے. دَ پېرنګیانو دَ راتللو سره انګرېزی او بیا خاص طور سره دَ یونیورسټۍ په سطح تعلیم کښې انګرېزی ادب چې عام شه نو زمونږ په هغو شاعرانو چې کالجونو کښې ئې سبق وئیلو ډېر زیات اثر وکړه او ځنې نوې شاعرانه تکنیکونه زمونږ شاعرۍ ته راننوتل. دَ مثال په طور څوارلس مصرعه ایز نظم "سانېټ" چې په مشرقی ژبو کښې چا نه پېژندلو، زمونږ

شاعرۍ کښې رواج بیاموندلو. او اوس ئې تقریباً هر هغه لُستونکے پېژنی چې دَ پښتو دَ شلمې صدۍ دَ شاعرۍ سره دلچسپی لرۍ. هم دغسې دَ انګرېزۍ شاعرۍ دَ یو بل اسلوب "سپنسپرین سټېنزا" حال دے. داسې بندونه لرونکی شاعری هم اول اول پښتو ته دَ دې صدۍ په وړومبی نیمایۍ کښې راغله.

خو دَ نظم عام ساخت چې دَ نن سبا ټول شاعران ئې دَ خپلو خیالاتو دَ اظهار دَ ذریعې په طور استعمالوی هم دَ انګرېزۍ دَ Odes نه دَ تأثر په نتیجه کښې پښتو سره متعارف شوے دے. پښتو کښې دَ بندونو دا شاعری له شلمې صدۍ نه مخکښې نه وه. مخمسات او مسدسات وغیره خو زمونږ ډېر زاړه اصناف دی خو دَ څلورو څلورو او درېو درېو کله زیاتو کله کمو بندونو شاعری زمونږ په ژبه کښې نه وه. زمونږ دَ شلمې صدۍ شاعرانو کښې دَ وړومبی دور شاعرانو په دې تکنیک دَ طالب علم په حېثیت دَ پوهې حاصلولو نه پس په دې کښې شاعری شروع کړه او له دوی نه پس ته شاعرانو دَ متخصصینو په حېثیت دَ انګرېزۍ شاعرۍ دَ مطالعې نه پس په دېو اصنافو کښې پخه وېنا وکړه.

هم دغه شان نظم دَ ابتدا نه درجه په درجه کلائمکس ته رسول او کلائمکس ته دَ رسولو نه پس ختمول هم دَ انګرېزۍ شاعرۍ نه مونږ زده کړه او زمونږ ډېرو ښو شاعرانو پکښې کامیابې تجربې وکړې. زمونږ په زړه شاعرۍ کښې دَ موضوع په لحاظ دَ نظمونو دَ نومونو اېښولو روایت موجود وه خو دَ انګرېزۍ شاعرۍ په تتبع کښې دَ تأثر او دَ کلائمکس له اعتباره نظمونو له نومونه ورکول هم

مونږ له انګرېزۍ زده کړي دي.

دَ اصنافو په سلسله کښې له ټولو نه زياته اهمه اخستنه مونږ دَ ازاد نظم کړې ده. انګرېزۍ کښې ازاد نظم سوونو کلونو زاړه روايات لري او پنځه رکنيز (لس سېلابيزه) مصرعه کښې ليکلے شي خو داسې ښکاري چې هر کله زمونږ په ژبو کښې لس سېلابيزه مصرعه ممکنه نه ده نو ځکه مشرقي ژبو کښې ازاد نظم په دې فرق خپل کړے شوے دے چې که انګرېزۍ کښې دَ ازاد نظم تعريف دا کېدے شي چې هغه نظم چې په پنځه رکنيز (لس سېلابيز) بحر کښې دَ قافيې له انزاله بغېر وليکلے شي نو په مشرقي ژبو کښې ئې شايد تعريف دا دے چې هغه بې قافيې نظم چې هره مصرعه ئې يا دَ زورلي يا نازورلي سېلابه شروع کيږي يعنې که يو نظم کښې وړومبې کرښه دَ زورلي سېلابه شروع شي نو بيا به ئې هره مصرعه هم دغسې له زورلي سېلابه شروع کيږي او هم دا شان که يو نظم داسې مصرعې نه شروع شي چې وړومبے سېلاب ئې نازورلے وي نو بيا به ئې دَ هرې مصرعې وړومبے سېلاب نازورلے وي او دغسې دَ زورلي يا نازورلي سېلابونو دا ترتيب به يو شان وي.

له ټولو نه اخر کښې چې مونږ له بهره کوم صنف اخستے دے هغه دَ جاپاني شاعرۍ صنف "هائيکو" دے چې لکه دَ پنجابۍ دَ "ماهيا" درې مصرعې لري. زمونږ ځنو ځلميو ليکونکيو پښتو ته دا صنف له اُردو نه درآمد کړے دے خو ربښتيا خبره دا ده چې دا صنف په پښتو کښې دَ رواج موندلو دپاره ډېر وخت، لويه پخته کاري او دَ ډېرو پخو او لويو ليکونکيو سرپرستي غواړي.

دَ نن سبا نظم کښې چې دَ موضوعاتو له اعتباره کومه تبدیلي او جدت ښکاری هغه ډېر لوئې اهمیت لری. دَ پښتو دَ پخوانی نظم یو څو تړلی موضوعات وو. ستائنه، هجو، وعظ و نصیحت او افسانه او حکایت. که څنې شاعرانو له تخیله کار اخستے دے نو دَ فطرت مناظر ئې خپلو نظمونو کښې را یو ځائې کړی دی او بس. خو دَ نن سبا نظم کښې دَ معاشرې مسائل، دَ دې مسائلو په وجه پېدا شوے درد او بیا دَ دې درد علاج هم ډېر په فن کارانه طریقه ښکاره کړے شوے دے او څومره چې دا کار په مهارت او فنکارئ شوے دے دومره ئې لیکونکے شاعر لوئې او دَ اولس خوښ وی. په دې لحاظ نظم لیکونکیو نه صرف دَ نظمونو معیار اوچت کړے دے بلکې دَ اولس دَ ذوق معیار ئې هم ښائسته کړے دے.

دَ خپلې معاشرې نه علاوه دَ نننی نظم لیکونکے دَ غم جانان اظهار هم دَ غم دوران په پېرایه کښې کوی داسې یو ډېر ښکلے رومانی طرز زمونږ ادب ته راننوتے دے چې ورځ په ورځ مخ په ترقئ دے.

نننے نظم لیکونکے یواځې خپلې مسئلې په خپلې شاعرئ کښې نه راځائې کوی بلکې دَ ټولې دنیا دَ اولس مسئلې خپلې مسئلې ګڼی او داسې ئې ښکاره کوی لکه چې دا هر څه په ده تېرېږی. دا مشترک درد هغه دَ ایشیا، افریقې او لاطینی امریکې دَ محکوم او مظلوم اولس دپاره محسوسوی چې دَ انسان دَ لاسه دَ انسان دَ استحصال دَ لوئې جرم ښکار دی او دَ خپلې قومی ازادئ په جدوجهد کښې مصروف دی.

دَ هم دغه رجحان په نتیجه کښې پښتنو لیکونکیو دَ مارشل

لا په هر دور کښې نه صرف خپله شاعري او خپل فن دَ انسان دَ ازادۍ دَ انساني شرف دَ حصول دَ جدوجهد دپاره استعمال کړې ده بلکې په دغو واړو دورونو کښې دَ ډکټېټر شپ برخلاف دَ اولس جدوجهد کښې ئې دَ زندانونو ازمائشونه ګاللي او تکليفونه ئې تېر کړي دي. او دا زمونږ دَ نظم ليکونکيو شاعرانو له ټولو نوے رنګ او خصوصيت دے.

هجري كه امير؟

"پټه خزانه في الميزان" كښې چې ما دَ "هواد" دَ مفهوم دَ څرګندونې په سلسله كښې دَ پښتانو شاعرانو دَ شعرونو حوالې وركولې نو دَ امير دَ شعرونو او ټپو نه مخكښې مې دا تمهيدي خبره كړې وه چې "دا شاعر چې دَ وركې خزانې مؤلف ئې په غلطۍ امير خان هجري ګڼي دَ ديارلسمې صدۍ شاعر دے." (١) په "پټه خزانه في الميزان" دَ نكته چينۍ په لړ كښې چې دَ وركې خزانې مؤلف دې ځائې ته رارسېدلے دے نو وائي:

"دا شاعر په وړومبی ځل راقم الحروف په وركه خزانه دوېم ټوک مطبوعه ١٩٦٠ء كښې معرفي كړے دے.... دَ پټې خزانې دَ حقيقت نه مخالف(؟) دَ امير خان هجري په باره كښې هم دَ خپلې رائې اختلاف ښودلے دے او حسب عادت له دغه حقيقته انكار كوي چې ګڼي دا شاعر "هجري" تخلص نه كوي خو اصليت دَ دغه رائې برعكس دے. دَ خپلې دعوې په تائيد او دَ ښاغلي هم عصر په ترديد كښې به دَ شاعر دَ څو غزلونو په دغو مقطعو اكتفا وكړو:

ستا دَ هجر تندې واخستم دلبره
امير خان هجري په وصل كړه سېراب

چې امير هجري دَ عشق بدلې وائي
پاس په سر ئې په هوا ژاړي مرغونه" (٢)

دَ "تول پارسنګ" ليکونکی دَ "څو" په ځائې صرف دوه مقطعې راوړی دې او په يو کښې هم "هجری" دَ تخلص په ځائې نه دے استعمال شوے. وړومبی مقطع په اصل ديوان کښې داسې ده:

ستا دَ هجر تندې واخستم دلبره

امير هجری په وصل کړه سېراب (۳)

دلته دَ "تول پارسنګ" ليکونکی دَ خپل عادت مطابق په مقطع کښې تحريف کړے دے ځکه چې په موجوده صورت کښې ئې هغه وزن نه شو برابرولے حالانکې دا مقطع داسې بهتر وه:

ستا دَ هجر تندې واخستم دلبره

ما امير هجری په وصل کړه سېراب

ځکه چې وړومبی مصرعه کښې دَ "واخستم" دَ واحد متکلم صورت سره په دوېمه مصرعه کښې هم دَ واحد متکلم ضمير پکار وه او دَ "امير خان هجری په وصل کړه سېراب" په شکل کښې "خان" بې ضرورته وه او دا دَ "تول پارسنګ" دَ ليکونکی دَ عادت سره سم يو ښکاره تحريف دے.

لکه چې مخکښې عرض وشه دواړو مقطعو کښې "هجری" تخلص نه دے استعمال شوے او که تخلص دَ شاعر دَ نوم په ځائې يو بل اختيار کړی نوم ته وائی نو دَ امير په هغو دواړو ديوانونو کښې چې پښتو اکېډيمی کښې پراته دی، يوه مقطع کښې هم دَ "هجری" نوم نه دے استعمال شوے بلکې زما دَ شمېر مطابق تقريباً دواړو ديوانونو کښې، ۱۵۹۳ غزلې دی چې پکښې ۱۵۷۸ غزلې مقطعې لری. بې مقطعې غزلې پکښې ۱۵ دی او په ټول ديوان کښې دَ مقطعو شمېر

۱۶۲۷ دے. دېو مقطعو کښې ۱۵٤۷ مقطعو کښې تخلص امیر استعمال شوے دے او امیر هجري پکښې ۸۰ ځله راغلے دے. د غزلو نه علاوه په دیوانونو کښې رباعیات، مربع، مخمس، مسدس، معشر او نور نظمونه هم شته چې پکښې ۱۱٦ ځل امیر او صرف څلور ځله امیر هجري راغلے دے. له دې شمېره دا صفا ښکاري چې په دواړو دیوانونو کښې تقریباً ۱٦٦۳ ځل امیر او ۸٤ ځل امیر هجري لیکلے شوے دے. اوس ګران لُستونکی دې خپله اندازه ولګوي چې یوه مقطع کښې هم "هجري" دَ تخلص په حېثیت نه دے راغلے نو دا وېنا به دَ "تول پارسنګ" دَ لیکونکی دَ سرزورۍ نه بغېر نور څه وي چې دَ امیر تخلص هجري وه.

هجري امیر دَ صفت په طور دَ "مهجور" په معنو کښې استعمالوي او دَ یو صفت دَ داسې استعمال په بنیاد یو هوښیار او په شعر پوهه سړے دا غلطه او باطله دعویٰ نه شي منلے چې دا صفت دَ تخلص په طور استعمال شوے دے.

دَ امیر په دواړو دیوانونو دَ کتاب نوم "دیوان امیر" لیکلے شوے دے. دَ دوېم دیوان په اخري پاڼه په پښتو او انګرېزۍ کښې دَ "دیوان امیر خان" الفاظ لیکلي شوي دي. نو که هجري دَ امیر تخلص وے نو یو ځل خو به چا دَ "دیوان هجري" یا "دیوان امیر هجري" یا "دیوان امیر خان هجري" په لفظونو کښې ورته اشاره کړې وه. هم دغسې Catalogue of Pushto Manuscripts in the Libraries of the British Isles (دَ برطانوي جزائرو په لائبرېريو کښې دَ پښتو قلمي کتابونو فهرست) کښې په ۱۱۰ نمبر دَ دیوان نوم "دیوان امیر خان" یاد کړے شوے دے

او دَ کتاب مرتب یو ځل هم ورته هجری نه دی وئیلی. فهرست کښې دَ کتاب ترقیمه داسې لیکلې شوې ده:

"تمت تمام شد این کتاب مستتاب(؟) دیوان امیر خان ولد شهنواز خان محمود زے مسمیٰ بر امیر بحری" (٤)

په دې ترقیمه ډېر سوالونه کېدے شی. اول خو دا چې دَ ترقیمه لیکونکی نوم نشته چې دا پته ترې ولګی چې علمی معیار ئې څه وه؟ دوېم دا چې دَ امیر هجری په ځائې دَ امیر بحری لیکل هم ډېر شکونه پېدا کوی. درېمه دا چې دَ امیر بحری نوم دَ امیر خان دَ پلار شهنواز خان محمودزی نوم سره لیکلے شوے دے. او اخری دا چې دا ترقیمه چې په اصل کتاب کښې شته نو پښتو اکېډیمی کښې دَ دې نقل کونکی نه څنګه پاتې شوه. بهر حال که دا لفظ امیر هجری هم وی نو کېدے شی چې دَ ورکې خزانې دَ لیکونکی غُندې دَ ترقیمې لیکونکے هم دَ غلط فهمی ښکار شوے وی. دَ ورکې خزانې دَ چاپ کېدو نه پس دَ امیر نوم که هر چا "هجری" اخستے وی نو څرګنده خبره ده چې هغه به دَ ورکې خزانې دَ ګمراه کن بیان نه متأثره شوے وی لېکن دَ خوشحالی خبره دا ده چې زمونږ عالمه طبقه له دغه بیانه متأثره شوې نه ده. دَ مثال په طور دَ ورکې خزانې نه یو کال پس چې په اپرېل ۱۹٦۳ء کښې قاضی عبدالحلیم اثر خپل کتاب "تېر هېر شاعران" چاپ کړو نو امیر ئې دَ "امیر خان" او "امیر" په نامه یاد کړے دے. او یو ځل ئې هم ورته "هجری" نه دے وئیلے. دا خبره هم دَ هېرولو نه ده چې دَ قاضی عبدالحلیم اثر افغانی مرحوم دا کتاب پښتو اکېډیمی چاپ کړے دے چې هغه وخت پکښې دَ ژبې لوئی لوئی

عالمان موجود وو او هغوی دَ اثر مرحوم دې تحقیق سره هیڅ اختلاف نه دے کړے. دَ اثر صاحب دا تحقیق دومره اهم ګڼلے شوے دے چې ښاغلی صدیق الله خان رښتین ئې هم نوټس اخستے دے. دوی وائی:

"(دَ ورکې خزانې مؤلف) دَ امیر خان له نامه سره دَ هجری تخلص هم راوړے دے مګر ښاغلی اثر ورته بیا هیڅ اشاره نه ده کړې."(۵) او له دې نه پس هم هغه نتیجې ته رسېدلے دے چې مخکښې ذکر شوه یعنې دا چې "کېدے شی چې امیر خان دَ خپل وطن او خپلو یارانو په یاد دغه تخلص په ځان اېښے وی."(٦) لکه چې مخکښې تفصیل تېر شه امیر صرف ۸٤ ځل ځان سره دَ هجری صفت بیان کړے دے نو دا خو کېدے شی چې ۸٤ ځل دَ هغه خپل وطن او یاران رایاد شوی وی خو دا بالکل نه شی کېدے چې دَ ۸٤ واره دَ "امیر هجری" دَ ترکیب نه مونږ دا نتیجه وباسو چې هجری دَ هغه تخلص وه.

اخری علمی نګارش چې پکښې دَ امیر خان ذکر راغلے دے فرهنګ زبان و ادبیات پښتو دے. دې فرهنګ کښې دَ امیر خان په نامه دَ دوؤ شاعرانو او دَ امیر په نامه دَ درېو شاعرانو ذکر شوے دے. ځمونږ زېر بحث سره دَ متعلق شاعر امیر خان ذکر داسې شوے دے:

"امیر خان اجداد امیر خان در لالپوره ننګرهار میزیستند و در عصر اعلیٰ حضرت احمد شاه کبیر (۱۱۸٦ـــ۱۱۱٦؟) ه ق) رهسپار پشاور و در شېرپاؤ مسکون شدند. امیر به عشیره علی زئی طائفه حسن خېل قوم مومند نسبت داشت. در طریقت پابند طریقه

قادریه و تا سال ۱۲۶۱ هق در قید حیات بود. شاعر صاحب دیوان است. اشعارش مضامین عشقی و تصوفی را در بردارد.(۷)

دلته دا شاعر دوه ځل دَ امیر خان په نامه او یو ځل دَ امیر په نامه یاد شوے دے خو دَ هجری په نوم ئې ذکر نه دے شوے. او دا محض اتفاق نه دے بلکې دَ فرهنګ دَ لیکونکی دَ تحقیق نتیجه ده. دَ دېو ټولو حقائقو په رڼا کښې دا دوه خبرې صفا ثابتیږی. وړومبۍ دا چې دَ امیر یا امیر خان تخلص هجری قطعاً نه وه او بله دا چې په دې دعویٰ کښې زه یواځې نه یم بلکې دَ لر او بر عالمان او مستشرقین هم هغه خبره کوی چې زه ئې کوم او دَ ورکې خزانې مؤلف او دَ "تول پارسنګ" لیکونکے په خپل موقف کښې بالکل تنها دے او هیڅ یو ملګرے نه لری.

(درې میاشتنۍ کتابۍ سلسله "مرکه" مردان)

"ه"

دَ یوې رائې مطابق دَ املا پحقله دَ باړه ګلې دَ سیمینار فېصلو زمونږ مشکلات تر څه حده کم کړی خو دی ولې ختم کړی ئې نه دی. ځکه پکار ده چې په دې مسئله نور هم غور وکړے شی او دا سلسله دې تر هغه وخته جاری وساتلے شی چې مونږ یوې نتیجې ته ورسو. زما په خیال له ټولو نه اهمه مسئله دَ "ه" ده ځکه چې په دې باب له دَ باړه ګلې دَ سیمینار فېصله کونکی بیخی چپ پاتې شوی دی حالانکې پکار دا وو چې دَ مفصل بحث نه پس ته ئې په دې حقله څه فېصله ارومرو کړے وے. بهرحال زه له هم دغه ځایه دَ دې بحث ابتدا کوم.

"ه" څه نوے تورے نه دے (لکه چې دَ ځنو "عالمانو" خیال دے) بلکې پښتو کښې دا تورے دَ کلمې په سر (لکه هېڅ، هر، هم) او مینځ (لکه بهر، نهر، زهر) کښې باقاعده اواز لری. دَ کلمې اخر کښې دا تورے پښتو کښې تر اوسه نه استعمالېده او هم دغه وجه ده چې دَ یو مخصوص غږ دپاره چې دَ "ه" دَ پاسه دَ "ء" په لیک یعنې په دوه توریو مستعمل وه. مونږ دا شکل غوره وګڼلو. دَ یو بیل غږ دَ پاره یو بیل تورے وضع کول هم داسې ضروری وو لکه چې دَ نورو اوازونو دپاره عالمانو ضروری ګڼلی دی ځکه چې که دَ کاتب یا پروف رېډر په غلطی دَ "ه" دَ پاسه "ء" ونه لیکلے شی نو معنیٰ کښې فرق راځی. دَ مثال په طور له او لۀ، ته او تۀ، زړه او زړۀ، وه او وۀ، هغه او

هغۀ، ده او دۀ، او داسې نور بې شمېره کلمات دَ يو همزه په غېر موجردګۍ کښې خپلې معنې بدلوی. دَ "ه" نه دَ "ء" پرېوتل څه غېرحقيقی خطره نه ده بلکې هره ورځ بې شمېره داسې غلطۍ زمونږ له سترګو تېرېږی. دَ مثال په طور به زه دَ پښتو اکېډيمۍ دَ نوې املا په باره کښې دَ باړه ګلی دَ فېصلو تفصيل ته اشاره وکړم چې دَ "پښتو دَ نوې املا" په نامه چاپ شوی دی. دَ دې کتاب په وړومبۍ صفحه دولسو پوره کرښو او درې نيم ګړيو کرښو کښې چې ميزان ئې په مشکله ديارلس کرښې جوړېږی نهه ځله "په" استعمال شوے دے او يو ځل هم دَ "ه" دَ پاسه دَ "ء" تورے نه دے ليکلے شوے. (۱) حالانکې دَ يولسمې فېصلې دَ لاندې "په" په هغو ټکيو کښې شامل ګڼلے شوے دے چې همزه به ورسره لګی. (۲) دې فېصله کښې دا وېنا هم غلطه ده چې دَ افغانستان او "سوئيلی" پښتونخوا په دې خبره اتفاق راغلے دے چې زړۀ، ښۀ، پۀ، تۀ، دَ مخکښې په شان (دلته هم دَ "په" په "ه" همزه نشته) دَ "ه" دَ پاسه "ء" ليکو. (۳) دېو لفظونو کښې يو لفظ "به" هم بيان شوے دے چې هيچرې متنازعه نه وه او نه پرې چا چرې "ء" ليکلې ده. بله غلطی دا هم ده چې افغانستان په خپلو املائی فېصلو کښې له دې نه مختلفه فېصله کړې ده. دَ ۱۳۲۷هش دَ سنبلې په اتم (۳۰ اګست ۱۹۷۸ء) دا واضحه فېصله شوې وه چې زه، ته، ده به بې همزه ليکلے شی. (٤) اوس نه يو خبر چې دَ سيمينار دې فېصلې ته په کوم بنياد دَ پېښور، سهېلی پښتونخوا او افغانستان متفقه فېصله وئيلې شوې ده.

دَ "ه" دَ پاسه همزه په فارسۍ ژبه کښې هم رواج لری خو هلته

ئې اواز او استعمال له پښتو نه دومره مختلف دے چې که بل څه دلیل نه وے نو هم په دې وجه دَ "ه" دَ پاسه "ء" په پښتو کښې استعمالول نه وو پکار. فارسۍ کښې دَ "ه" دَ پاسه "ء" دَ اضافت او صفت په معنو کښې پکاريږی لکه خانۂ خدا، یا تختۂ سیاه. هرکله چې فارسی دَ افغانستان دوېمه ژبه ده نو ځکه فارسی ویونکیو او پښتو ویونکیو ته به دَ "ه" دَ پاسه دَ "ء" استعمال مشکلات پېدا کوی. فارسی لُستونکی به دَ پښتو په شان او پښتو لُستونکی به دَ فارسۍ په شان دَ دې توری په ادا کولو مجبور وی. داسې به دَ ماشومانو او خارجی زده کونکیو دپاره مشکلات پېدا کيږی.

هم دغه مشکلات به په یوه بله وجه هم پېدا کيږی. پښتو کښې په "و" او "ی" هم همزه استعماليږی خو دغو دواړو ځایونو کښې ئې اواز بیل بیل شان دے او ځکه خارجی زده کونکیو او دَ ابتدائی جماعتونو شاگردانو کښې به دَ "ه" دَ پاسه دَ "ء" بدل اواز خامخا پرېشانی پېدا کوی. دَ "و" دَ پاسه دَ "ء" دَ لیک نه به یو بل مشکل هم پېدا شی چې زه به ئې پخپل ځائې ذکر وکړم.

فارسۍ کښې دَ "ه" یائې مجهول او یائې معروف دَ پاسه دَ "ء" استعمال په پښتو کښې دَ "ه" دَ پاسه دَ همزه دَ استعمال نه په یو بل رنگ هم فرق لری. دَ پښتو الفاظو کښې دَ "ه" دَ پاسه دَ "ء" استعمال هیڅ سېلابی تبدیلی نه پېدا کوی بلکې دَ همزه په وجه سېلاب جوړيږی. دَ دې برعکس فارسۍ کښې همزه په نظم او نثر کښې یو سېلاب زیاتوی. دَ مثال په طور دا شعر دَ نظر لاندې وساتئ:

به زمین نارسیده مې پرسد
خانۀ انوری کجا باشد

دَ یائې مجهول دَ پاسه دَ همزه اواز په دې مصرعه کښې وخیرئ.

جائے تنگ است و مردمان بسیار

په یائې معروف دَ همزه اواز دپاره په دې مصرعه غور وکړئ:

هر که پیدا می شود از دور پندرام توئی

ګرانو لُستونکیو به اندازه لګولی وی چې "ۀ"، "ے" او "ئ" کښې همزه یو سېلاب زیاتوی خو پښتو کښې داسې نه وی بلکې لکه څنګه چې مخکښې عرض وشه همزه چې دَ هر حرف نه پس راشی نو یو سېلاب جوړ شی. دَ "ؤ" دپاره مې دَ مثال ضرورت ځکه ونه ګڼلو چې عام طور سره دَ "و" نه پس یائې مجهول استعمالیږی لکه لولوئے عمان وغیره او دَ یائې مجهول بیان تېر شه.

یو تورے چې په یو ځائې کښې یو اواز په بل ځائې کښې بل اواز ورکوی نو له استعمال نه ئې ترک غوره دے. ځکه نو په "ۀ" باندې همزه اچول دَ لُستونکی مشکلات زیاتوی او پکار ده چې لُستونکی سره دا زیاتے ونه کړے شی. بیا خاص طور سره په داسې صورت کښې چې دَ "ۀ" یو شکل یعنې "ۀ" زمونږ دا مشکل ختموی. نه التباس پیدا کوی او نه اواز کښې فرق راولی نو غوره دا ده چې هم دا شکل دَ دې اواز دپاره اختیار کړے شی.

دَ څنو "عالمانو" خیال دے چې "ۀ" دَ پښتو تورے نه دے حالانکې دغو "عالمانو" کښې څنې چې دَ خپلو نومونو مختصر شکل لیکی نو دَ "ۀ" په ځائې ئې "ۀ" لیکی. یو اعتراض دا هم کیږی چې

"ھ" دَ هندي توري دے او دې ضمن کښې دَ "چھجوسنگھ" په طنزيه ذکر دَ خپلې دعوې ثبوت پېش کوی. "ھ" دَ هائې هوز يو شکل دے چې خالص دَ عربۍ توري دے او قرآن کريم کښې ئې دومره استعمال شوے دے چې دَ سورت فاتحه په اووه آيتونو کښې درې ځل دا توری راغلے دے. زما يو خوږ دوست دا يو خندنے اعتراض هم کوی چې دَ "ه" نه دَ "ھ" شکل ښائسته نه ښکاری. دَ دې اعتراض په حقله ښاغلی لُستونکی پخپله فېصله کولے شی ځکه چې که ذاتی خوبښه او ناخوښه دليل وگڼلے شی نو دَ چا به "الف" نه وی خوښ چې نيغ ولاړ دے او چاته به "ب" ملاسته ښکاری. او داسې به دَ پټې ټول توری وکړلے شی او دَ تهجی ټول حروف به دَ ذاتی ناخوښې ښکار شی او مونږ به داسې حروف پېدا کولو ته مجبور شو چې هر چا ته ښائسته ښکاری چې تقريباً يوه ناممکن خبره ده.

اوس زه دَ "و" دَ پاسه دَ همزه دَ استعمال دَ هغو مشکلاتو تفصيل بيانوم چې ما ئې مخکښې ذکر کړے دے. داسې استعمال زمونږ په شاعرۍ کښې دا مشکل پېدا کوی چې قافيه غلطوی. دَ داسې استعمال دَ مثال په طور به زه څنې شعرونه پېش کړم. وړومبے مثال ئې دَ خوشحال بابا هغه غزل دے چې مطلع ئې داسې ده:

چې دا هسې بې نيازی کوې دا ښهٔ کړ؟
زه به نور ياران پېدا کړم تهٔ به څهٔ کړ (۵)

دَ غزل يو شعر دا دے:

زما زړهٔ ورځنې صبر وهٔ چې گنګ دے
نن زما طوطا يو څو خبرې وکړ (٦)

(سا دانسته دَ کلیات املا استعمال کړې ده چې لُستونکی دَ قافیو دَ غلطۍ په سلسله کښې زما په دلیل پوه شی.)

دَ دې غزل نورې قافیې لېمۀ، تۀ، تلۀ، او اودۀ وغېره دی. ظاهره ده چې "وکړ" لیمۀ کړ، تۀ کړ، وغېره سره قافیه کېدے نه شی. که دا شعرونه په "ه" لیکلے شوے وے نو په لاندې لیکلی صورت کښې به ئې قافیه بالکل درسته وه:

چې دا هسې بې نیازی کوې دا ښه کړې؟

زه به نور یاران پیدا کړم ته به څه کړې؟

زما زړه ورځنې صبر وه چې ګونګ دے

نن زما طوطا یو څو خبرې وه کړې

او داسې به دَ غزل نورو قافیو لېمه، تله او اوده سره سمې شوې وے. دَ کلیات املا کښې یوه بله مطلع:

څۀ دَ بدو ژغ وۀ چې مابنام راباند وشۀ

تندر وۀ یا توپ وۀ پرې مې تخنې تخنې زړۀ شۀ(۷)

دَ دې غزل نورې قافیې اودۀ، مړۀ، اوبۀ، څۀ، په کلیات کښې لیکلے شوی دی چې دَ مطلعې دَ دوېمې مصرعې سره سمون نه خوری که مطلع داسې لیکلے شوے وے:

څه دَ بدو ژغ وه چې مابنام راباندې وه شه

تندر وه یا توپ وه پرې مې تخنې تخنې زړه شه

او ټولې قافیې هم په دې شکل په "ه" یعنې اوده، مړه، اُبه، ته لیکلے شوې وے نو په قافیه اعتراض نه شه کېدے.

دَ کلیات په املا کښې یوه بله مطلع وخیرئ:

پهٔ کاتهٔ کاتهٔ مې سترګې په خاتهٔ شی

چې خبر دې دَ راتلو راباندې وشی (۸)

دَ دې غزل نورې قافیې نهٔ، واتهٔ، ښهٔ، وغېره دی چې دَ مطلع دَ دوېمې مصرعې سره سمې نه دی البته که دا شعرونه هم "ه" سره لیکلے شوے وے نو دَ مطلع دوېمه مصرعه به:

چې خبر دې دَ راتله راباندې وه شی

وے او دغسې ټولې قافیې نه، واته، او ښه وغېره به مطلعې سره برابرې شوې وے.

دَ ښه، ته، نه، که سره دَ وه قافیه زمونږ په مثنویانو کښې ډېر په کثرت سره موندے شی. زه ئې دَ رحمت داوی دَ لېلیٰ مجنون له مثنوی نه مثالونه پېش کوم:

زما له لاسه بدې وسوه

رامعلوم چې نیکی نهٔ سوه

لاس مې شل بدې مې وکړه

اوس دعا کړم لاس مې ښهٔ کړه (۹)

پښتون هم خوښ باندې زړهٔ کا

او دعا و ماته وکا (۱۰)

په دې شکل کښې وسوه، نهٔ سوه، وکړه، ښهٔ کړه، زړهٔ کا، وکا قافیې غلطوی. که دَ دیو متبادل صورت کښې چې "ه" سره لیکلے وے:

زما له لاسه بدې وه شوه

را معلوم چې نیکی نه شوه

لاس مې شل بدی مې وهٔ کړه

اوس دعا کړه لاس مې ښهٔ کړه

پښتون هم خوبښ باندې زړهٔ کا

او دعـــا و مـــا ته وهٔ کا

نو قافيې به بالکل صحيح وے.

عیسیٰ اخون زاده دَ پښتو يو اولسی شاعر تېر شوے دے چې دَ جم ډارمستېتر هار و بهار کښې ئې دَ کلام ډېرې نمونې ورکړے شوی دی. دَ دهٔ يو شعر دے:

اې ظالمې ظلم مهٔ کړه

ما سره خبرې وکړه (۱۱)

اوس دَ "مهٔ کړه" او "وکړه" قافيې سمے نهٔ خوری. دَ دې پهٔ ځائې کهٔ دا شعر داسې وليکلے شی:

اے ظالمې ظلم مهٔ کړه

ما سره خبرې وهٔ کړه

نو قافيه به ئې درسته شی.

محمد دين تېلی دَ نوښار دَ چاربېتې ډېر لوئی شاعر تېر شوے دے دَ هغهٔ دَ يوې چاربېتې سر هم پهٔ چاپ شوی شکل کښې پېش کوم:

روح مې له تنه ځی روان دے

چې خدائې کوی هغه به وکاند

واړه اختيار مې دَ جانان دے

راسره بد کوی کهٔ ښهٔ کاند

دې چاربېته کښې "ښۀ کاند" او "وکاند" په قافيه کښې استعمال شوی دی او داسې دَ "کاند" ټولې مصرعې لکه راتلۀ، کاتۀ، وغېره هم په دغه قافيه کښې استعمال شوی دی چې دَ قافيې په علم پوه خلق به ئې هيچرې سمې ونۀ ګڼی. دَ دې په ځائې که دَ چاربېتې سر او نورې متعلقه مصرعې په "ۀ" وليکلے شی نو قافيه ئې درستيږی لکه:

روح مې لۀ تنه ځی روان دے

چې خدائې کوی هغه به وۀ کاندې

واړه اختيار مې دَ جانان دے

راسره بد کوی که ښۀ کاندې

دَ قافيوَ دېو غلطيو احساس نورو عالمانو او کاتبانو ته هم شوے دے ځکه نو هغوی دَ "و" په ځائې "وه" ليکی. دَ مثال دپاره وګورئ دَ خوشحال بابا دَ کليات دا شعرونه:

هغه يار راځخه وايې هرګز نۀ وۀ

هيڅ مې نۀ زده کۀ همېش راسره وۀ ولاړ (۱۳)

په خطا باندې عطا په طاعت قهر

چې په وهم فهم نۀ وی هغه وه کړ (١٤)

يا دَ رحمت داوی دَ ليلیٰ مجنون دا شعرونه:

په تعجيل ئ سلام وه کړ

د حبيب زيارت ئې ښۀ کړ (۱۵)

راشه تۀ هم صبر وه کړه

تسلا خپله دَ زړه کړه (١٦)

خو دَ "وهـ" پهٔ ځائې "وه" استعمالول ځکه غلط دي چې "وه" کهٔ اُردو کښې (د هغه پهٔ معنیٰ) او کم و زیات دغه اواز ورکوی نو وی به خو پښتو کښې "وه" دَ مؤنث صیغه ده او مذکر ئې وهـ دے.

اوس به دا بحث رالنډ کړو پښتو کښې یو داسې اواز دے چې هغه نن سبا دَ "وٓ" او "ۀ" دَ پاسه پهٔ همزه (ء) لیکلے شی. دَ دې غږ دَ پاره کهٔ یو تورے پیدا شی چې زمونږ مشکل حل کوی نو پکار دی چې مونږ ئې قبول کړو. مونږ دَ دې مقصد دپاره "ھـ" پکارو ځکه چې دا تورے پښتو کښې شته خو هیڅ کار ترې نهٔ شی اخستے. کهٔ زما دې تجویز سره څوک اتفاق نهٔ کوی نو هغوی دې دَ دې غږ دپاره متبادل تورے تجویز کړی بیا به پرې بحث وکړو چې زمونږ مشکلات ئې کم کړل کهٔ زیات.

(نوټ : دا مقاله دَ محترم قلندر مومند صاحب مرحوم اخری مقاله ده. چې دَ پښتو اکېډیمی پهٔ مجله "پښتو" جولائی اګست ۲۰۰۳ ء کښې دَ هغوی دَ وفات نه پس چاپ شوې ده).

حوالې

۱. دَ پښتو نوې املا ص. ۱
۲. ایضاً ص. ۱۶
۳. ایضاً ص ص ۲۴ او ۲۵
۴. لیکوالی املا او انشا دَ ګل باچا الفت ص ۱۲
۵. دَ خوشحال بابا کلیات ص. ۱۱۷

۶. ایضاً

۷. ایضاً ص ص ۲٦٤ او ۲٦۲

۸. ایضاً ص ص ۳۳۲ او ۳۳۳

۹. دَ رحمت داوی لیلیٰ مجنون ص ۵۸

۱۰. ایضاً ص ٦۵

۱۱. دَ پښتونه ښار هار وبهار ص. ۱٤۱

۱۲. دَ وینو جام دَ اسلم ختهک ص. ۲۸

۱۳. دَ خوشحال بابا کلیات ص. ۱۱٦

۱٤. ایضاً ص. ۱۲۰

۱۵. لیلیٰ مجنون ص. ۳ ب

۱٦. ایضاً ص. ۱۱۱ ب

دَ قلندر مومند ريسرچ سيل

لهٔ خوا چاپ شوي كتابونه

- رڼائي دَ قلندر مومند شعري مجموعه
- دَ تاريخ ژړا (تاريخ ګوئي) دَ مشتاق مجروح يوسفزي
- ميزان دَ قلندر مومند مقالې
- تنقيد قلندر مومند

راروان كتابونه

- دَ قلندر مومند كليات
- دَ قلندر مومند خطونه
- دَ صاحبزاده فيضي شاعري
- دَ پښتو لغت
- پهٔ قلندر مومند دَ زبير حسرت دَ پي ايچ ډي مقاله